Bawar.net

# د اسلام حقیقت

## په فردي ژوند کورنۍ ټولنې او نظام کې

عبدالصبور " نصرتیار"

Bawar.net

# نیو لیک

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |


- پیلیزه ۱

لومړی فصل: اسلامي شخصیت(په فردي ژوند کې د اسلام حقیقت)

- د اسلامي شخصیت پېژندنه ۷
- د اسلامي شخصیت ایماني مواصفات ۱۲
- د اسلامي شخصیت اخلاقي مواصفات ۳۶
- د اسلامي شخصیت علمي مواصفات ۵۴
- د اسلامي شخصیت عملي مواصفات ۶۴
- د اسلامي شخصیت دعوتي او جهادي مواصفات ۷۵
- د فصل خلاصه ۹۸

دوهم فصل: مسلمانه کورنۍ (په کورنۍ کې د اسلام حقیقت)

- د مسلماني کورنۍ پېژندنه ۱۰۱
- د مسلماني کورنۍ غړي یا افراد ۱۰۴
- د مسلماني کورنۍ د غړیو ترمنځ اړیکې ۱۰۶
- د مسلماني کورنۍ ماحول او چاپېریال ۱۳۹
- د مسلماني کورنۍ اړیکې له نورو کورنیو سره ۱۴۴

Bawar.net


- د مسلماني کورنۍ اقتصادي نظام او عواید ۱۵۰
- د فصل خلاصه ۱۵۲


درېیم فصل: مسلمانه ټولنه یا اسلامي جماعت(په یوې ټولنې کې د اسلام حقیقت)


- د اسلامي ټولنې یا اسلامي جماعت پېژندنه ۱۵۶
- د اسلامي جماعت التزام او د غړیتوب حکم ۱۶۲
- د اسلامي جماعت افراد یاغړي ۱۶۷
- د اسلامي جماعت قیادت ۱۷۱
- داسلامي جماعت نظام ۱۷۷
- داسلامي جماعت برنامه ۱۸۸
- د فصل خلاصه ۱۹۸


څلورم فصل: اسلامي نظام (په نظام او حکومت کې د اسلام حقیقت)


- د اسلامي نظام یا اسلامي خلافت پېژندنه ۲۰۱
- د اسلامي خلافت د اقامې وجیبه ۲۰۳
- د اسلامي خلافت امیر ۲۰۶
- د اسلامي خلافت نظام ۲۱۱
- د اسلامي خلافت رسالت او وجایب ۲۲۲
- د فصل خلاصه ۲۳۰

خاتمه ۲۳۴

Bawar.net

# پیلیزه

إن الْحَمْدَ لِلَّه نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللَّه مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِه اللَّهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِه وَلا تَمُوتُنَّ إِلا وَ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ)

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا)

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا، يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا)

أما بعد:

هر انسان، هره کورنۍ، هره ټولنه او هر انساني ټولنیز نظام الهي حکم ته تر تسلېمیدو او التزام وروسته نوی عنوان غوره کوي او د مسلمان، مسلماني کورنۍ، اسلامي جماعت او اسلامي نظام په نامه یادیږي، خو دغه عنوانونه یوازې نومونه نه دي چې الهي حکم ته د تسلیمېدو له تش اقرار وروسته پر انسانانو او انساني ټولنو کېښودل شي، بلکې دا په عملي ژوندانه کې د الله حکم ته د تسلیمۍ عنوانونه دي چې په واقعي ډول د الله حکم ته له تسلېمدو او د الهي حکم مطابق د خپل ژوندانه د ټولو چارو له تنظیمولو وروسته خپل حقیقت تر لاسه کوي، نو ځکه هم ویلی شو چې مسلمان، اسلامي کورنۍ، اسلامي ټولنه یا جماعت او

Bawar.net

اسلامي نظام د عملي ژوندانه د هغو اصولو او قوانینو نمونه او عنوانونه دي چې الله په خپلو بندګانو لازم کړي او دا نمونه هغه وخت رښتیني دي چې په مسمی کې ئې د دې اصولو التزام رامنځته شوی وي.

اسلام د یو داسې جامع دستور نوم دی چې غواړي مسلمان، مسلمانه کورنی، اسلامي جماعت او اسلامي نظام رامنځته کړي او انسانانو ته د دنیا او آخرت نېک بختی تضمین کړي، اسلام په خلکو او انساني ټولنو کې داسې صفات او معیارونه رامنځته کوي او روزي چې په هغو کې اسلام ته د منصوبو نومونو حقیقت رښتینی شي، او د دې کار لپاره اسلام ته له ننوتلو سره سم په هر مسلمان او مسلمانې کورنی کار پیلیږي تر څو په دوی کې له اسلام سره د تړاو حقیقت پیدا شي او بیا له دوی اسلامي جماعت او اسلامي نظام جوړ شي، د اسلام د ټولو تربیتي برنامو موخه یوازې دا دی چې رښتیني اسلامي شخصیتونه او رښتیني مسلمانې کورنی او اسلامي ټولنې وروزي تر څو هغوی اسلامي نظام او خلافت قائم کړي او د الله په زمکه د الله له خوا استول شوی قانون او نظام حاکم شي.

اسلام د پورتنی موخې لپاره داسې معیارونه او مواصفات ښودلي چې موږ کولی شو د دوی حقیقت پرې وتلو او دا حکم وکړو چې دوی رښتوني اسلامي شخصیتونه، کورنی، ټولنې او نظامونه دي او که یوازې

Bawar.net

د تش ادعا په حد کې اسلام ته منصوب شوي؟ په الهي کتاب او نبوي سنت کې نه يوازې د دې معيارونو او مواصفاتو پراخ او واضح بيان شوی، بلکې په نبوي سيرت کې د دې معيارونو او مواصفاتو پر بنسټ د يو ډېر مثالي او بې بېلګې نسل د تربيت عملي لارې چارې هم ښودل شوي، د صحابه وو مجموعه د رښتينو مسلمانانو، اسلامي کورنېو، اسلامي ټولنې او اسلامي نظام ښکاره بېلګه ده چې د دغو مواصفاتو او معيارونو پر بنسټ د نبی کريم۲ په مبارکې مدرسې کې وروزل شول او د مسلمانو افرادو، کورنېو، ټولنو او نظام لپاره مثالونه دي.

متأسفانه موږ نن د يو پراخ فکري يرغل په پايله کې ډېر خه بايللي چې يو هم د اسلامي شخصيتونو، مسلمانو کورنېو، اسلامي جماعتونو او اسلامي نظامونو د تشخيص معيارونه دي، په نړۍ کې نن پر يو نيم ميليارد انسانانو د اسلام نوم ايښودل شوی، په ميليونونو کورنۍ اسلام ته منسوب دي، په زرګونو اسلامي ټولنې او جماعتونه شته او حتی په ډېرو ملکونو کې د اسلامي نظام ادعا هم کيږي خو د دې ټولو حقيقت له نشت سره برابر دی، نه په دومره ډېرو نومول شويو مسلمانانو کې د رښتينو مسلمانانو رنګ او خوند شته او نه هم په مسلمانو کورنيو او ټولنو کې، له اسلامي نظام خو ډېر وخت کيږي چې امت بې برخې شوی.

Bawar.net

د دغو ټولو مدعیانو د پېژندلو معیارونه داسې ورک شوي چې رښتیني او کاذب مدعیان د خپلو ادعاوو لپاره کومه تله نه ګورې چې د دوی حقیقت پرې وتلل شي نو ځکه هم د رښتینو مسلمانانو په نسبت دروغجن مدعیان په ډېر جرأت ځان اسلام ته منسوبوي او له اسلام څخه په فرسخونو لرې خپل ژوند د اسلام په نامه نوموي، نه یوازې ځان او خپله کورنۍ مسلمانه ګڼي بلکې خپلې ټولنې او غیر اسلامي نظامونه اسلامي بولي او تر ټولو ډېر د اسلام او التزام دعوی کوي.

حقیقت دا دی چې الهي حکم او اسلامي نظام د یو رښتیني اسلامي تحریک په لاس نافذ کېدی شي، یو رښتینی اسلامي تحریک له رښتینو مسلمانو کورنیو او غړو څخه جوړ شوی وي. تر څو اسلامي شخصیتونه ونه روزل شي، نه مسلمانې کورنۍ جوړیږي، نه اسلامي تحریک او نه هم اسلامي خلافت او نظام راتلی شي، دښمن زموږ اسلامي خلافت د اسلامي شخصیت له تخریبه وران کړی، او د اسلامي خلافت تعمیر هم د اسلامي شخصیتونو له روزلو پیلیږي، دا نبوي منهج دی او له دې پرته بله لاره نشته.

که څوک په دې ایمان لري چې پر زمکې باید الهي حکم او قانون حاکم وي او دا پر بندګانو د الله حق بولي، نو باید په دې پوه شي چې د الهي قانون حاکمیت هغه خلک کولی شي چې د هغو په نفسونو کې

Bawar.net

دا قانون حاکم شوی وي، په کورنیو کې ئې د اسلام حقیقت راغلی وي. دا ممکن ندی؛ د هغو تش په نامه مسلمانانو په لاس اسلامي نظام او اسلامي خلافت قائم شي کومو چې خپل ټول ایماني، اخلاقي، علمي، عملي، دعوتي او جهادي معیارونه له لاسه ورکړي او له اسلام سره ئې اړیکه یوازې د یوې تشې دعوې په حد کې پاتې.

په همدې فکر چې د الله پر زمکه د الهي دین حاکمیت لپاره حقیقي مسلمانانو او اسلامي شخصیتونو، کورنیو او جماعتونو ته ضرورت دی موږ په دې وړې رسالې کې د اسلامي شخصیت، مسلمانې کورنۍ، اسلامي جماعت او بیا اسلامي نظام او خلافت هغه عمده مواصفات او معیارونه په اختصار بیانوو چې له هغو پرته دا نومونه خپل حقیقت نشي ترلاسه کولی، تر څو په نړۍ کې د شته مسلمانانو او اسلامي ټولنو حقیقت د دې معیارونو په تله کې وتلل شي او د دروغجنو مدعیانو او رښتینو تر منځ توپیر رامنځته شي. او همدارنګه د هغو خلکو لپاره چې غواړي مسلمان شخصیتونه وروزي، مسلمانې کورنۍ، اسلامي تحریکونه او جماعتونه رامنځته کړي او بیا د الله په زمکه د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره کار وکړي دا یوه لارښوونه شي چې کله کېدی شي د دوی په لاس تربیه کېدونکي مسلمانان او جوړېدونکې اسلامي کورنۍ، ټولنې او نظام خپلو رښتینو معیارونو ته ورسیږي او دوی مطمئن شي چې

Bawar.net

د دوی په لاس تربیه شوي مسلمانان او جوړې شوې ټولنې د اسلام دروغجن مدعیان نه، بلکې رښتیني سپاهیان دي.

دا رساله څلور فصلونه لري، په لومړي فصل کې د اسلامي شخصیت مواصفات او معیارونه، په دوهم فصل کې د مسلمانې کورنۍ، په درېیم فصل کې د اسلامي ټولنې یا جماعت او په څلورم فصل کې د اسلامي نظام او خلافت په معیارونو او مواصفاتو بحث شوی، البته دا مواصفات د هغو سلګونو مواصفاتو او معیارونو لنډیز دی کوم چې قرآن او نبوي ارشاداتو بیان کړي او نبي کریم۲ د اسلامي امت په یو ممتاز نسل(صحابه وو) کې د هغې معیارونو د رامنځته کولو عملي لارښوونه کړې.

په دې هیله چې د دې معیارونو مطابق رښتیني مسلمانان او رښتینې مسلمانې کورنۍ وروزل شي او بیا له دوی د امت په کچه داسې اسلامي جماعت جوړ شي چې الله ورته د خلافت او تمکین ورکولو وعده کړې - **وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ** (۵۵النور)

Bawar.net

# لومړی فصل

## اسلامي شخصیت(په فردي ژوند کې د اسلام حقیقت)

- د اسلامي شخصیت پېژندنه
- د اسلامي شخصیت ایماني مواصفات
- د اسلامي شخصیت اخلاقي مواصفات
- د اسلامي شخصیت علمي مواصفات
- د اسلامي شخصیت عملي مواصفات
- د اسلامي شخصیت دعوتي او جهادي مواصفات
- د فصل خلاصه

Bawar.net

## لومړی فصل

## لومړی بحث

## د اسلامي شخصیت پېژندنه

په انساني ټولنه کې د عرف له مخې هر دین ته منسوب فرد د هغه دین لاروی بلل کېږي او د هغه دین په نامه نومول کېږي، لکه یهودیت ته منسوب یهودي، نصرانیت ته منسوب نصراني او هندویزم ته منسوب هندو بلل کېږي، همدارنګه خلکو په عرف کې اسلام ته هر منسوب کس مسلمان بلل کېږي، خو حقیقت د ادی چې یهودی هغه وخت یهودي کیدی شي چې یهودیت د هغه په فکر، عقیدې، اخلاق، عمل او ټول ژوند کې حاکم وي، همدا شان نصراني او هندو هم په خپل دین له پوره التزام او په ټول ژوندانه کې د خپل دین په اصولو له عمل وروسته حقیقي نصراني او هندو بلل کېږي، مسلمان ته هم هغه وخت مسلمان ویل کیدی شي چې د ژوندانه په هرې برخې کې د الله حکم ته تسلیم شي، د هغه هر څه له اسلام اخیستل شوي وي او هر څه ئې د اسلام د حکم مطابق پر مخ درومي، د هغه د وجود په هره حجره کې د الهي انقیاد او تسلیمېدو عقیده او التزام موجود وي، په عام تعبیر د الله حکم ته په رښتیا تسلیم شوي شخصیت ته مسلمان او اسلامي شخصیت ویل کېږي.

Bawar.net

د اسلامي شخصیت ښه تعریف په خپله اسلام کړی، د اسلام له حکمتونو یو دادی چې د لویو مفاهیمو تعریف مرحله په مرحله کوي او د دې تعریفونو په رڼا کې حقیقی نمونې روزي او خلکو ته ئې وړاندې کوي تر څو خلك دا مفاهیم د یو تخیل په توګه نه، بلکې د یو عملي کېدونکي او پلي کېدونکي حقیقت په توګه و پېژني او په دې لټه کې شي چې دا مفاهیم په ځان او خپلې ټولنې کې راولي.

د بېلګې په توګه کله چې قرآن او نبوي ارشاداتو په لومړي ځل د یو مجاهد تعریف کاوه نو داسې ندي شوي چې د مجاهد ټول لازمي صفات په یو وار او یو ځای تشریح شوي وي چې بیا مجاهد خلکو ته یو خیالي شخصیت ښکاره شي او داسې ګمان رامنځته شي چې د دې صفاتو لرونکی انسان نه شي موندل کیدی، بلکې د مجاهد لازمي صفات او تعریف مرحله په مرحله داسې بیان شوي چې د هر صفت او معیار له بیان وروسته په یوې ټولنې کې د دې صفت لرونکي خلك روزل شوي او بیا بل صفت بیان شوی او په همدې خلکو کې د دوهم صفت د رامنځته کولو لپاره عملي ګام پورته شوی، تر دې چې کله په مختلفو آیتونو او احادیثو کې د مجاهد رښتینی تعریف بشپړ شوی تر څنګ ئې پدې صفاتو سمبال مجاهد پوخ هم روزل شوی او خلکو ته د دې تعریف عملي بېلګه ښودل شوې، چې خلك پوه شي اسلام چا ته مجاهد وايي؟ همدارنګه اسلامي شخصیت چې په اسلام کې د ټولو

Bawar.net

عمده ارزښتونو عملي مجموعه ده د قرآن او احاديثو په رڼا کې په
درويشت کلونو کې داسې تعريف شوی چې بيا د صحابه وو په شان يو
ټولی د هغې د عملي مصداق په توګه انسانيت ته وړاندې شوی، چې
خلك يوه شي اسلام چاته رښتينی مسلمان او اسلامي شخصيت وايي.

نو کله چې په مفصل ډول د اسلامي شخصيت تعريف، تشخيص او يا
روزل مطلوب وي نو حتماً په درويشت کلن نبوي دور کې د روزل
شويو مثالونو او د دوي د تربيت لپاره د رالېږل شويو آيتونو او ويل
شويو احاديثو مجموعې ته ضرورت دی چې څنګ ترڅنګ کيښودل
شي او بيا پرې د يو مؤمن او مسلمان شخصيت تعريف او پېژندنه وشي.

نو ټول هغه ارشادات چې يو مسلمان ته له ايمان وروسته د کولو او يا
نه کولو، کېدلو او يا نه کېدلو حکم کوي د اسلامي شخصيت معيارونه
او اساسات جوړوي، که په چا کې ډېر موجود ول، لوړ اسلامي
شخصيت لري او که لږ موجود ول، د همغه په تناسب د هغه په اسلامي
شخصيت کې نقص او کمی دی، کېدی شي د ډېرو خلکو په شخصيت
کې د اسلامي احکامو التزام په داسې ناقص حالت کې وي چې د يو
عادي مسلمان حقيقي اطلاق پرې نشي کېدی خو په ظاهر کې اسلام ته
منسوب او خلك ورته مسلمان وايي، داسې مسلمانان د اسلامي
شخصيت مصداق نشي جوړېدی.

Bawar.net

د اسلامي شخصیت په مواصفاتو او معیارونو کې څه داسې مواصفات دي چې حتمي او کلیدي ارزښت لري، کېدی شي دا مواصفات په یو مسلمان کې د ډېرو نورو مواصفاتو حامي او یا زېږوونکی شي، که چېرې موږ وشو کولای په دې کلیدي مواصفاتو سمبال مسلمان وروزو په هغه کې به د دې حتمي مواصفاتو په وجه د خیر داسې دروازې پرانیستل شي چې بیا د یو رښتیني مسلمان ټول حقیقت پکې رامنځته شي، همدارنګه دا مواصفات کېدي شي د شته مسلمانانو لپاره د یوې تلې(میزان) په توګه هم وکارول شي، موږ به و توانېږو ددې صفاتو په رڼا کې مسلمانان تشخیص کړو چې په دوی کې د اسلام حقیقت څومره موجود دی؟ د هغو په شخصیتونو کې اسلام څومره ځای نیولی؟ موږ د اسلام په نامه د غو نومول شویو مسلمانانو ته څومره رښتیني مسلمان شخصیتونه ویلی شو؟

د دې رسالې د لومړي فصل محوري موضوع همدا ده چې د اسلامي شخصیت عمده معیارونه او مواصفات بیان شي، تر څو په رڼا کې ئې د مسلمانو شخصیتونو د روزلو چارې تنظیم شي، همدارنګه د شته مسلمانانو اسلامي شخصیتونه پرې اندازه او وتلل شي، او هر څوک و توانېږي د دې معیارونو په رڼا کې ځان او نور مسلمانان و څېړي چې د اسلامي شخصیت له نظره په کوم حد کې دي.

Bawar.net

د یوې لنډې مقدمې په توګه د دې معیارونو او مواصفاتو په نظر کې نیولو سره ویلی شو اسلامي شخصیت هغه دی کوم چې راسخ ایمان، ښایسته اخلاق، ضروري علم او صالح عمل ولري او د نورو د هدایت په لاره کې د مخلص داعي او مجاهد په توګه دعوت او جهاد کوي، او هره ورځ د هغه په ایمان، اخلاق، علم، نیک اعمال، دعوت او جهاد کې قوت او زیات والی راځي چې د همدې ودې او قوت په تناسب د هغه اسلامي شخصیت وده او تکامل کوي، یا په بل تعبیر هغه مسلمان چې په محراب کې امام، په منبر کې داعي او مبلغ، په ټولنه کې مربي او خادم، په مکتب او مدرسې کې استاد، په سنګر کې مجاهد او په خپل ژوند کې مخلص، ملتزم او د نېکو اخلاقو خاوند وي د ربښتیني اسلامي شخصیت په نامه یادیږي او په ده کې د اسلامي شخصیت حقیقت راغلی.

موږ دلته په پنځو عنوانونو کې د اسلامي شخصیت پر عمده صفاتو او معیارونو بحث کوو هغه دا دي: ایماني صفات، اخلاقي صفات، علمي صفات، عملي صفات، دعوتي او جهادي صفات، په دې هر عنوان کې څه داسې عمده صفات دي چې د مسلمان شخصیت ایمان، اخلاق، پوهه، عمل، دعوت او جهاد د یوه ربښتیني اسلامي شخصیت معیار ته لوړوي، د دې صفاتو په اړه لنډ بحث شوی او په لنډو شرعي نصوصو استدلال شوی، دا ځکه چې په دې رساله کې زموږ مطلب کوم

Bawar.net

تخصصي بحث ندی، یوازې د اسلامي شخصیت د هغو مواصفاتو یادونه ده، کوم چې په یو اسلامي شخصیت کې حتمي او ضروري بلل کیږي، تر څو د اسلامي شخصیتونو د تربیت او تشخیص په لاره کې د یوې تلې په توګه ترې کار واخیستل شي.

## دوهم بحث

## د اسلامي شخصیت ایماني صفات

د ریښتیني اسلامي شخصیت له ارکانو لومړی رکن ایمان دی، هغه ایمان چې د مسلمان شخصیت هره اراده، قول او عمل د هغه په سیوري کې او د هغه د غوښتنې پر بنسټ ترسره کیږي، داسې ایمان چې د ده د وجود هرې حجرې ته داخل شوی او د ده په ټول ژوند حاکمیت لري، داسې ایمان چې هره شبیه د خیر په لورې دده لارښونه کوي او له بدیو ئې ساتي، داسې ایمان چې د ده په زړه کې ځای نیولی او د ده هر عمل د هغه تصدیق کوي، په دې هکله حسن بصری رحمه الله فرمايي: **لیس الإیمان بالتمنّي ولا بالتحلّي إنما هو ما وقر في القلب وصدقه العمل - ترجمه: ایمان تش امیدونه او ځان ښایسته کول نه دي، ایمان هغه پانګه ده چې د مؤمن په زړه کې ځای نیسي او د هغه عمل پرې شاهدي ورکوي.** نو د اسلامي شخصیت لومړی رکن همدا ایمان دی: کوم چې د ده د عمل واګې په لاس کې لري.

Bawar.net

مسلمان شخصیت نه یوازې د ټینګ ایمان څښتن وي، بلکې د هرې ورځې په تېرېدو او د دین په هر حکم تر پوهېدو او عمل کولو وروسته د ده ایمان نور هم قوت مومي، او څرنګه چې دی غواړي د هرې ورځې په تېرېدو خپل نېک اعمال زیات کړي، دده ایمان هم قوت مومې او مضبوطیږي، د اسلام لومړیو ربنتینو شاګردانو (صحابه کرامؓ) د مسلمانو شخصیتونو په توګه دایمان او ایماني ارکانو د تربیې، پالنې، ودې او تقویت ښه مثالونه دي، کوم چې یو بل ته به یې ویل راشئ خپل ایمانونه تقویه کړو، بیهقي په شعب ایمان کې له عطا بن یسار څخه روایت کوي چې عبدالله بن رواحهؓ خپل ملګري ته وویل: راشه یو ساعت په الله ایمان راوړو، ملګري ئې وویل: آیا موږ مؤمنان نه یو، ده ورته په ځواب کې وویل: هو موږ مؤمنان یو خو اوس راشه چې د الله ذکر وکړو او خپل ایمانونه زیات کړو، په بل روایت کې ابن رجب له زر بن حُبیش څخه ورایت کوي، چې عمرؓ خپلو ملګرو ته ویل راشئ خپل ایمانونه ډېر کړو، بیا به ئې د الله ذکر کاوه.

نو د اسلامي شخصیت لومړی رکن هغه پیاوړی ایمان دی چې د ده ټول ژوند اداره کوي او دی هره ګړی د همدې ایمان پیاوړتیا لپاره کار کوي تر څو د ده د وجود په ټولو سلولونو کې ځای ونیسي او د ده ټول غړي او د ژوندانه چارې اداره کړي.

Bawar.net

د مسلمان شخصیت یو شاخص دا دی چې د هرې ورځې په تېرېدو ئې ایمان پیاوړی کیږي، په هغه کې د الله وېره، له الله رجاء، په الله توکل، له الله طمع، په تقدیر یقین، د الله لپاره دوستي او دښمني او د ایمان نور اجزاء او شعبې د تقویت او ودې په حال کې وي، او بیا داسې مرحلې ته ورسیږي چې د ده هر غړی د ایمان په غوښتنې د الله له حکم سره سم حرکت کوي او بلآخره د ده ایمان د یو نوي زرغون شوي نیالګي پر ځای د یوې مضبوطې ونې حیثیت غوره کړی وي چې جرړې ئې د زمکې تل ته رسیدلې او د فتنو طوفانونه ئې نشي راویستلی - **أَلَم تَرَ كَيفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصلُها ثابِتٌ وَفَرعُها فِي السَّماءِ**(ابراهیم ۲۴) - **ترجمه: آیا ته نه ګورې؟ چې څرنګه الله د پاکې کلمې مثال لکه پاکه ونه بیان کړې چې رېښې ئې ثابتې دي(په زمکه کې) او څانګې ئې اسمان ته رسیږي.**

د ایمان د ټولو شعبو تقویت او پالنه د ایمانداری غوښتنه او د اسلامي شخصیت نښه ده، د مسلمان په وجود کې د ایمان له څو اویا شعبو هره یوه باید داسې وپالل شي چې خپل لوړ معیار ته ورسیږي، خو هغه څه چې د مسلمان د شخصیت په تکوین کې اساسي ونډه لري او یو مسلمان شخصیت له عام اسلام ته منسوبو خلکو بېلوي د توحید، قضاء او قدر، ولاء او براء ، تحاکم الی الله، اعتزاز بالاسلام او په وحدت امت عقیدوي ارکان دي، دا د ایمان هغې برخې دي چې د ایمان نورې

Bawar.net

برخې ئې په سيوري کې پالل او روزل کيږي، که په يو اسلامي شخصيت کې د ايمان دا برخې مضبوطې وي نو معنی داده چې د ايمان ټولې شعبې ئې قوي شوې او ايمان ئې د رښتيني اسلامي شخصيت د ايمان معيار ته رسېدلی.

پس د اسلامي شخصيت د تکوين او جوړښت لومړی رکن ايمان دی داسې، ايمان چې پکې د توحيد، قضاء او قدر، ولاء او براء ، تحاکم الی الله، اعتزاز بالاسلام او د وحدت امت عقيدې برخې مضبوطې شوې وي، او همدا د اسلامي شخصيت د ايمان شاخصونه او معيارونه دي چې پرې پېژندل کيدی شي:

**۱- توحيد:** مسلمان شخصيت تر هر څه د مخه رښتينی موحد وي، په دې معنی چې هغه يواځې خپل رب ته د عبوديت او عبادت سر ټيټ کړی وي، د هغه خوف او رجاء، طمع او استغاثه، توکل او بروسه په الله وي، يوازې خپل رب د ځان لپاره کافي ګڼي او له ټولو مخلوقاتو ځان مستغني بولي.

د توحيد له عقيدې پرته ايمان او اسلام معنی نلري، د الله يوازې ګڼل په ربوبيت او حاکميت کې، په الوهيت او عبادت کې، په اسماء او صفاتو کې، دا د ايمان اساس او لومړنی غوښتنه ده او همدې ته توحيد وايي، دا نړۍ د توحيد په مقتضا او په توحيد د عمل کولو لپاره خلق شوې،

Bawar.net

قران فرمايي: **وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ** (الذاريات۵۶) - **ترجمه: موږ نذي پيدا کړي جنيات او انسانان، مگر د عبادت لپاره.** نو د يوه خالق رب عبادت د انساني خلقت هدف دی، د الله تر ټولو لوی حق په بندګانو دا دی چې يوازې د هغه عبادت وکړي او له شرک ځان وساتي، په حديث شريف کې مسلم له معاذ بن جبلﷺ روايت کوي چې رسول الله۲ ورته وفرمايل: **فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا - ترجمه: د الله حق په بندگانو دا دی چې د هغه عبادت و کړي او له هغه سره شريک و نه نيسي.**

د الله له لوري د ټولو استول شويو انبياؤو د دعوت خلاصه دا وه چې انسانان الله په وحدانيت و پيژني او له الله پرته د هر طاغوت له حکم منلو ځان وساتي، قرآن فرمايي: **وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ** (النحل۳۶)- **ترجمه: او په تحقيق سره موږ په هر امت کې خپل رسولان وليږل تر څو خلکو ته ووايي چې د الله عبادت وکړئ او د طاغوت له عبادت ځان وساتئ.** همدارنګه د قرآن محوري مضمون د الله د توحيد منل دي او يوازې توحيد منل او له شرک پاکوالی د الهي مغفرت او نجات ذريعه بلل شوې، قرآن په دې هکله فرمايي: **إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ** (النساء۴۸)- **ترجمه: الله شرک نه بښي او له هغه ښکته ټولې ګناوې بښي چاته ئې چې خوښه شي.**

Bawar.net

توحید د مسلمان د ایماني تعمیر بنیاد دی او له دې بنیاد او بنسټ پرته دا تعمیر نشي ودرېدی، د رښتیني مسلمان په ژوند کې د توحید مظاهر دومره ښکاره وي چې د غیرالله سره د ارتباط شک هم پرې نشي کېدی، د هغه هرڅه محض د الله لپاره وي او د اخلاص مظاهر پکې دومره ښکاره وي چې حتی په زړه کې د شیطان له وسوسو هم الله ته پناه وړي او خپل هر څه الله ته سپاري، یوازې الله ته ئې کوي او یوازې ئې له الله غواړي، **إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ** (الفاتحه۴)-**ترجمه: یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو.**

د اسلامي شخصیت په ایماني صفاتو کې لومړی صفت او معیار په توحید کلکه عقیده او د شرک له ټولو ګندګیو خلاصون دی، دې عقیدې ته د توحید خالصه عقیده وایي د شیدو په شان خالص عقیده، قرآن د شیدو په هکله فرمایي: **نُسْقِيكُمْ مِمَّا فِي بُطُونِهِ مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِينَ** (النحل۶۶)- **ترجمه: د دې څارویوو له ګېډو تاسو ته د خوشایو او وینو له منځه داسې خالصې شیدې درکوو چې خوندورې دي د څښونکو لپاره.** یعنې متعال رب د خوشایو او وینو له منځه داسې خالصې شیدې راوباسي، چې نه د خوشایو بوی پکې وي او نه د وینو رنګ، د مسلمان توحیدي عقیده هم باید د شیدو په شان خالص وي نه د شرک ګنده بوی پکې وي او نه د خرافاتو او بدعاتو رنګ، د شرک او بدعاتو له ګندګیو خالص او پاکه عقیده د مسلمان شخصیت لومړنی معیار او

Bawar.net

صفت دی، له دې صفت پرته د مسلمان د تعمیر خښتې نشي درېدلی ځکه دا عقیده د بنسټ او تهداب حیثیت لري.

نو تر هر څه وړاندې باید ووېل شي چې اسلامي شخصیت له شرک پاک او د خالصې توحیدې عقیدې خاوند وي، هغه توحیدي عقیده چې له رب سره د ده تر ټولو مضبوطه رابطه جوړوي او له الله پرته د نورو په وړاندې له سرټیټولو ئې ساتي، دا د اسلامي شخصیت تر ټولو ستر شاخص او معیار دی چې یو رښتینی مسلمان پرې پېژندل کېدی شي، که د یو چا عمل او غوښتنه یوازې له الله څخه وو، نو د عقیدې بنسټ ئې پوخ دی او د اسلامي شخصیت لومړی شاخص او معیار ئې تکمیل شوی.

**۲- په تقدیر پوخ باور او ایمان:** دوهم ایماني صفت په الهي مقدراتو پوخ ایمان لرل دي، رښتینی مسلمان په الهي مقدراتو کلکه عقیده لري، هر څه د الله له لوري ګڼي، پدې پوره یقین لري چې له الله پرته د ده او نورو انسانانو او کائناتو په تقدیر کې هېڅوک هېڅ صلاحیت او اعتبار نلري، نعمتونه او سهولتونه د رب له لورې ګڼي او په هغه شکر کوي، مصائب او ازمیښتونه هم د الله له لورې بولي او پرې صبر کوي، په خپل رب د خپلې راتلونکې په هکله نېک ګمان کوي او د تقدیر هره فیصله په پوره رضا او طیب خاطر مني، په قضاء او قدر دا عقیده د مؤمن د

Bawar.net

ایمان حقیقت رښتیا کوي، او د مسلمان له زړه د مخلوقاتو وېره ختموي.

پر تقدیر د اهل سنت عقیده څلور عمده ارکان لري: هر څه چې کیږي د الله په علم کې دي یعنې الله له کیدو وړاندې پرې علم لري، دا هر څه الله په لوح محفوظ کې لیکلي، او دا ټول کېدونکي اعمال او حوادث الله خلق کړي، او دا هر څه د الله په مشیت او ارادې ترسره کیږي، مسلمان مکلف دی په همدې معنی په تقدیر ایمان ولري، د تقدیر خالق الله وګڼي، یوازې الله په هر کېدونکي کار عالم وبولي، په دې عقیده وي چې الله هر لوی او وړوکی کېدونکی کار په لوح محفوظ کې د آسمانونو او زمکو له خلقت وړاندې لیکلی او هر څه چې کیږي د الله په مشیت او ارادې ترسره کیږي.

د پورتنیو ارکانو پر بنسټ په تقدیر ایمان درلول مسلمان له ډېرو فتنو او شیطاني وسوسو ساتي، په نعمتونو او ازمیښتونو کې ئې نه پرېږدي چې له خپل رب پردی شي، دا ځکه چې دی هر څه د خپل رب له لورې ګڼي، که نعمت وي او که ازمیښت او سختي، مسلمان نه په نعمتونو کې تکبر او غرور پیدا کوي او نه غافل کیږي او نه هم په مصیبتونو کې له الله پرته بل چاته ځان محتاجوي او نه بل چاته پناه وړي، په نعمتونو کې وایي: **قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّي**(النمل ۴۰)- **ترجمه: ویې ویل دا زما د رب فضل او**

Bawar.net

نعمت دی. او په سختیو کې وايي: قُل لَن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ(التوبه۵۱)- ترجمه: ووايه نه رسيږي موږ ته مګر هغه څه چې الله راته ليکلي وي هغه زموږ مولا دی او بايد مؤمنان په الله توکل وکړي.

د اسلامي شخصيت په ايماني معيارونو کې دوهم ستر معيار چې له نورو خلکو ئې جلا کوي او بايد په ده کې دا ايماني صفت خپل لوړ معيار ته ورسيږي هغه په الهي مقدراتو پوخ باور او ايمان دی، کوم خلك چې په الهي تقدير سمه عقيده نلري، هغه خلك د شيطان په لومو کې پرېوتي او کله هم پرې د يو حقيقي مسلمان اطلاق نشي کيدی، نو له توحيدي عقيدې وروسته رښتينی مسلمان او اسلامي شخصيت په الهي مقدراتو پوخ ايمان او باور لرونکی شخصيت وي چې هر څه د الله له لورې ګڼي، او د هر څه لپاره د الله له لورې په ټاکل شوي مقدار او وخت ايمان لري.

**۳- د الله لپاره دوستي او دښمني:** درښتيني اسلامي شخصيت درېيم ايمانی صفت دا دی چې دوستي او دښمني ئې د الله لپاره وي، يوازې د الله دوستان ئې دوستان او د الله دښمنان ئې دښمنان وي، دی د خپلو نفساني خواهشاتو او ګټو لپاره له چا سره مينه او رابطه نلري او نه هم د شخصي ګټو پر سر له چا سره کينه او دښمني کوي، رښتينی مسلمان هغه څوك دوست بولي چې الله ورته دوست معرفي کړی او هغه

Bawar.net

دښمن ګڼي چې الله ورته دښمن معرفي کړي: **وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ** (التوبه۷۱)- **ترجمه: او مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ځينې د ځينو دوستان دي.** يعنې مؤمن د مؤمن دوست دی او بس، کافر د مؤمن دوست نشي کېدی: **لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ** (ال عمران۲۸)- **ترجمه: نه نيسي مؤمنان پرته له مؤمنانو کافران په دوستۍ.** قرآن هغه چا ته چې دا ايماني صفت نه لري او دا اصل نه مراعاتوي مؤمن نه وايې: **لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ**... (المجادله۲۲)- **ترجمه: ته نشې موندلی داسې خلک چې په الله او آخرت ايمان ولري او بيا هم د الله او رسول له دښمنانو سره دوستي کوي، که څه هم دا د الله او رسول دښمنان د دوی پلرونه، زامن، ورونه او د کورنۍ غړي وي.** معنی دا ده چې مؤمن د الله او رسول له دښمنانو سره دوست کېدیٰ نشي، که دوست وي نو بيا مؤمن نه دی.

په اسلام کې ولاء او براء(د الله لپاره دوستي او دښمني) کوم استحبابي حکم نه دی بلکې د ايمان له ارکانو ده او مسلمان ته هغه وخت يو رښتينی اسلامي شخصيت ويل کېدی شي چې دا ايماني رکن ئې پوره وي، د ولاء او براء عقيده مسلمان لپاره له نورو انسانانو سره د تعامل حدود ټاکي او دا ورزدکوي چې له چا سره دوستي ولري او له چا برأت اعلان کړي، اسلام هېچاته اجازه نه ورکوي چې د خپلو غوښتنو

Bawar.net

پر بنسټ له خلکو سره راشه درشه وکړي، له الله سره د دوستۍ غوښتنه دا ده چې ته به یوازې د الله له دوستانو سره دوستي کوې او د الله له دښمنانو سره دښمني، که داسې نه وي بیا له الله سره د دوستۍ دعوی بې ځایه ده.

د ولاء او براء عقیده په حقیقت کې د رښتینو اسلامي شخصیتونو او تش په نامه مسلمانانو تر منځ یو ښه محک او د تشخیص معیار دی، امام ابن عقیل حنبلي رحمه الله وایي: (که تاسې غواړئ د مسلمانانو تعداد معلوم کړی نو د مسجدونو په دروازو او د کعبې په شلور خوا طوافونو او لبیک چیغو کې ئې مه شمېرئ، بلکې وګورئ چې څومره کسان د الله له دوستانو سره دوستي او له دښمنانو سره دښمني کوي، همدا د مسلمانانو رښتینی تعداد دی).

که د توحید، تقدیر او ولاء او براء عقیدې پر معیارونو د مسلمانانو حقیقي سرشمېرنه وشي نو بیا به هلته معلوم شي چې ډېر د اسلام په رنګ رنګ شوي خلک د زنګ وهلې وسپنې ټوټې دي چې د زرو ملمعه ئې پر مخ لړل شوې او دا خلک د زرو په تله کې هیڅ ارزښت نه لري.

**۴- تحاکم الی الله :** د رښتیني مسلمان څلورم ایماني صفت دا دی چې د حکم مرجع یوازې الله بولي، خپلې ټولې چارې، شخړې او لانجې د

Bawar.net

رب حکم او فیصلې ته وړاندې کوي، هغه په دې عقیده لري چې: إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ...(یوسف۴۰)- ترجمه: حکم یوازې الله لره دی، یعنې د حکم مرجع او مصدر یوازې الله دی او مسلمان له دې پرته په بل څه د حکم او قانون د مصدر په توګه عقیده نه لري، مسلمان ته د الله د قانون په وړاندې جوړ شوي قوانین جاهلیت او جوړوونکي ئې طاغوتیان ښکاري، رښتینی مسلمان هر هغه څه چې د رب د قانون او دستور خلاف وي، کفر ګڼي او خپل برائت ترې اعلانوي او په خلاف ئې د مبارزې ډګر ته راوزي، قرآن په دې برخه کې د هر مؤمن لپاره ابراهیم عليه السلام د یوې بېلګې په توګه معرفي کوي: قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ(الممتحنه۴)- **ترجمه: په تحقیق سره تاسو ته ابراهیم عليه السلام او د هغه ملګري نېکه بېلګه او نمونه ده، کله چې دوی ووېل خپل قوم ته، مونږ له تاسو او ستاسو له غیرالله معبودانو برأت لرو، موږ پر تاسو کفر کړی، او زموږ او ستاسو ترمنځ دښمني او کینه پیل شوې تر هغه چې تاسې په یوه الله ایمان راوړی.**

یوازې الله د حکم مرجع ګڼل، د توحید یوه عمده برخه ده او دې ته توحید په حاکمیت کې وایې، موږ څکه دلته یوځل بیا د توحید له رکن جلا د حاکمیت توحید ذکر کړ چې د نن ورځې مطلق اکثریت تش په

Bawar.net

نامه مسلمانان په دې شرك اخته شوي، نن په امت كې د مړو او قبرونو عبادت كوونكي مشركان په كمېدو او ختمېدو دي، خو متأسفانه په ژوندي طاغوت ايمان راوړونكي او هغه خلك چې قبرونه ردوي خو د قصرونو عبادت كوي ډېر زيات دي، د بدبختی ځای دا دی چې د حاكميت په شرك كې ډېر اخته خلك يوازې د قبرونو په ردولو ګمان كوي تر ټولو ښه موحدين دي، قرآن د دوی په هكله فرمايي:**أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا**.(النساء۶۰)- **ترجمه: ته نه وينې؟ هغه خلک چې ګمان کوي دوی پرتا او ستا ترمخه نازل شوو کتابونو باندې ايمان لري، په داسې حال کې چې دوی غواړي طاغوت ته خپلې فيصلې وړاندې کړي حال دا چې دوی ته ويل شوي وو په طاغوت کفر وکړئ، شيطان اراده لري چې دوی په لرې ګمراهۍ ګمراه کړي.** د قرآن په دې تعبير د حاكميت له توحيد پرته د ايمان تصور يو تش زعم او ګمان دی چې څوك ئې كوي، اسلامي شخصيت ته رښتينی مسلمان او مؤمن هغه وخت ويل كېدی شي چې هغه د حكم مرجع يوازې الله وګڼي او بس.

كله چې د تحاكم مرجع الله وګڼل شي بيا په دې خبرې هم پوره ايمان او عقيده لرل په كار دي چې اسلام او اسلامي شريعت جامع او كامل دستور دی، د انسانانو د ژوند په ټولو چارو كې د حاكميت او حكومت

Bawar.net
صلاحیت لري، حقیقي مسلمان باید د خپلې دنیا او آخرت چارې د همدې قانون او دستور په رڼا کې پر مخ یوسي او د خپل ژوند په ټولو چارو کې ځان له نورو قوانینو مستغني وبولي، اسلامي شخصیت باید ددې دستور په وړاندې هر بل دستور ته د جاهلیت دستور او قانون ووایي او د یوه وېښته په اندازې د جاهلیت قوانینو ته میلان ونکړي، هم د الهي دستور په کمال ایمان درلودل او هم عملاً هغه په خپل ټول ژوندانه کې د حکم د یوازینی مرجع په توګه منل د توحید حاکمیت غوښتنه ده، قرآن د دې توحید دا دوه عمده غوښتنې په دې ډول بیانوي: د اسلامي قانون په جامعیت او کاملیت پوره ایمان لرل او یوازې همدا دستور د ځان لپاره د ژوند منهج ګرځول د توحید حاکمیت مقتضا ده او د توحید حاکمیت عقیده پر همدې باور لرلو پوره کیږي، قرآن فرمایي: **الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَ أَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَ رَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيناً** (المائده۳)- **ترجمه**: **نن ورځ ما تاسو ته پوره کړ ستاسې دین ، او پشپړ مې کړ پر تاسو خپل نعمت، او اسلام مې تاسو ته د دین په توګه غوره کړ.** په بل آیت کې فرمایي: **وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ**(ال عمران۸۵)- **ترجمه**: **او چا چې له اسلام پرته بل دین غوره کړ له هغه کله هم نه قبلیږي او هغه په آخرت کې له تاوان زیانمنو دی.**

د دې دواړو آیتونو خلاصه دا ده چې د الله قانون(اسلام) پوره او کامل دی او له دې پرته الله بل څه نه مني.

Bawar.net

نو د اسلامي شخصیت او رښتیني مسلمان څلورم ایماني صفت توحید په حاکمیت کې او تحاکم الی الله دی، د الله دستور کامل ګڼل او خپلې چارې د الله حکم ته حواله کول او د الله قانون د ځان لپاره کافي ګڼل د رښتیني اسلامي شخصیت بل شاخص او معیار دی.

**۵- په اسلام اعتزاز** : د رښتیني مسلمان په ایماني معیارونو او صفاتو کې پنځم اصل اعتزاز بالاسلام دی، یعنې په خپل دین او عقیدې افتخار کول او د خپل دین او عقیدې په سیوري کې ځان د ټولو غیر مسلمانو خلکو په نسبت عزتمن او سعادتمن ګڼل، دا داسې اصل دی چې نه یوازې د مسلمان د دنیا ژوند عزتمن کوي بلکې له دې اصل پرته د هغه ایمان نشي پوره کېدی، د نن ورځې ډېری مسلمانان په دې برخه کې د خپل ایمان ملا ماته کړې او د الله له لوري ورکړل شوی عزت ئې ندی ترلاسه کړی او په ذلت کې ژوند کوي.

متأسفانه د نن ورځې ډېری په نامه مسلمانان د اسلام په مظاهرو او د اسلام په احکامو د اعتزاز پر ځای د حقارت احساس کوي، د مادي شیطاني ټولنې په وړاندې دخپل دین اصول ورته د تخلف او وروسته والي عوامل برېښي، دوی ګمان کوي چې زموږ اسلامي احکام، اسلامي کلتور، اسلامي سیرت او صورت د نن ورځې له مادي تطور د وروسته کېدو سبب کیږي، داسې احساس د مؤمن له ایمان سره په تضاد

Bawar.net

کې دی، دا د ایمان د یو عمده رکن ماتېدل دي، داسې فکر او احساس د ایمان حقیقت ختموي.

مسلمان ته د دې پوهېدل په کار دي: چاته چې الله ایمان او دین نصیب کړی هغه له ټولو کائناتو قدرمن دی، ټوله کفري نړۍ د هغه د یو وېښته قدر هم نه لري، مسلمان د الله له لوري انتخاب شوی رنګ لري، هغه رنګ چې هیڅ رنګ ورسره سیالی نشي کولی او هغه د اسلام رنګ دی، قرآن فرمايي: **صِبْغَةَ اللّهِ ۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ صِبْغَةً ۖ وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ**(البقره۱۳۸)- **ترجمه: د الله رنګ، او کوم رنګ د الله له رنګ غوره دی؟ او موږ هغه ته عبادت کوونکي یو.** قتاده او عطاء او نور علماء وايي: د الله له رنګ مراد اسلام دی، نو له اسلام سره هیڅ څه برابري نشي کولی، دا د الله له لوري انتخاب شوی، لکه څنګه چې الله بې بېلګې ذات دی د هغه انتخاب هم تر ټولو لوړ انتخاب دی، نو ځکه باید مسلمان د ځان لپاره د الله په انتخاب تر ټولو د عزت احساس وکړي او ځان بختور وبولي.

په مسلمان کې باید د بن زیدﷺ په شان په اسلام د عزت احساس وي، اسامهﷺ ته په تعجب وویل شول چې تا د یمن د پادشاه چپنه اغوستې؟ هغه وویل هو، دا څه د تعجب ځای نه دی، په الله قسم زه تر هغه پاچا ډېر غوره یم او زما مور او پلار د هغه له مور او پلار غوره دي، دا ځکه چې اسامهﷺ مسلمان او د یمن پاچا کافر وو، حقیقت دا

Bawar.net

دی چې عزت ټول د الله سره دی،قرآن فرمايي:الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً(النساء۱۳۹)- **ترجمه: هغه کسان چې له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نيسي، آيا دوی له هغو سره عزت غواړي؟ پرته له شکه چې عزت ټول د الله سره دی.** نو د الله له دين پرته بل څه کې عزت نشته او څوک چې د الله له دين پرته په بل دستور او نظام کې عزت لټوي، هغه به حتماً الله ذليل کوي، عمر رضي الله عنه فرمايي: **نحن قوم أعزنا الله بالإسلام فمهما ابتغينا العزة بغيره أذلنا الله**(البداية و النهاية)- **ترجمه:موږ هغه قوم يو چې الله په اسلام عزت راکړ، هرکله مو چې له اسلام پرته عزت ولټاوه، الله به مو ذليل کړي.**

**۶- د اسلامي امت په وحدت عقيده:** په اسلامي شخصيت کې شپږم مهم عقيدوي صفت چې د رښتيني ايمان لپاره محک دی، هغه د اسلامي امت په وحدت عقيده لرل دي، دا هم عادي خبره نه ده بلکې د رښتيني مؤمن د عقيدې لوی اصل دی، قرآن فرمايي: **إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ**(الانبياء۹۲)- **ترجمه: حقيقت دا دی چې دا ستاسو امت يو امت دی او زه مو رب يم نو زما عبادت وکړئ.** د امت وېشل په ملکونو، قومونو، تنظيمونو او مذهبونو د مسلمان په عقيده کې ځای نه لري.

د امت په وحدت ايمان لرل او د دې وحدت رامنځته کولو لپاره قدم پورته کول کوم خيال او محض تصور نه دی، دا د ايمان برخه ده او له دې رکن پرته ايمان نيمګړی دی، د مسلمانانو په نامه چې کوم خلک د

Bawar.net

قوم او نژاد په محوررونو راڅرخېدونکي ايډيالوژيو ته چې د اسلامي عقيدې او ايماني ارزښتونو سره پوره تضاد لري، له اسلامه خارجې ايډيالوژۍ دي، دوی په اصل کې خپل دا ايماني معيار(د امت د وحدت عقيده) له لاسه ورکړې نو ځکه هم په دوی کې د اسلامي شخصيت نور معيارونه لټول بې ځايه زحمت دی، په دوی کې د ايماني صفاتو يو عمده رکن نشته نو څنګه به مسلمان شخصيت ترې جوړ شي؟ د نشنليزيم او ناسيوناليزيم عقيدې لرونکو خلکو د ايمان دعوی تشه دعوی ده، اسلام په اسلامي امت کې د رنګ، قوم، ژبې او هر بل مادي تميز معيارونه ختم کړي، دلته ټول مسلمانان ورونه او يو شان دي، د لوړوالي معيار يوازې تقوی ده او بس.

لکه څنګه چې علماء فرمايي: **الكفر مِلّة واحدة- ترجمه: كفر** (**د مسلمانانو په خلاف**) **يو ملت دی.** همدارنګه قرآن مسلمانانو ته ارشاد لري:**مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ**(الحج۷۸)- **ترجمه: د خپل پلار ابراهيم ملت ياست هغه تاسې مسلمانان نومولي ياست.** نو د امت په يووالي عقيده د مسلمان د عقيدې مهم شاخص دی او په همدې محک سره هغه له نورو نژادپالونکو(نشنلستانو) خلکو څخه بېليږي، د اسلامي شخصيت په ايماني مهمو مواصفاتو کې دا صفت داسې دی چې له يوې خوا مسلمانان له تفرقې او په جاهلي معيارونو له وېشل کېدو ساتي او له بل پلوه مسلمان ته اجازه نه ورکوي چې د اسلام له حدودو بهر له چا سره د ژبې، قام او يا هېواد په نامه وحدت وکړي او له هغو سره ملت جوړ کړي، د مسلمان ملت ابراهيمي ملت دی او يوازې له نورو مسلمانانو سره

Bawar.net

جوړېږي، له خپل پلار او مور پیدا شوی ورور چې له اسلام بهر وي دده د ملت برخه نه ده خو د نړۍ په بل سر کې د ده د عقیدې او فکر مسلمان ورور د ده د ملت غړی دی.

په اسلامي شخصیت کې دا شپږ ایماني صفات او معیارونه د عقیدې او نړۍ لید اساس جوړوي، مسلمان ته هغه وخت رښتینی اسلامي شخصیت ویلی شو چې په لومړي قدم کې د هغه عقیده او فکر په دغو شپږو عمده معیارونو ولاړ وي: اسلامي شخصیت باید د توحید عقیده ولري، مقدرات ټول د الله له لورې وګڼي، د خپل رب دوستان او اولیاء خپل دوستان او دښمنان ئې دښمنان وګڼي یعنې یوازې له مسلمان سره دوستي وکړي او له هر طاغوت او د طاغوت له لاروي سره دښمني، حاکمیت یوازې د الله وبولي او اسلام ځان ته د ژوند کامل او شامل دستور وګڼي، په خپلې مسلمانۍ د عزت احساس او د اسلامي امت په وحدت کلکه عقیده ولري.

کله هم چې د اسلامي شخصیت په فکر او عقیده کې دا شپږ معیارونه رامنځته شول بیا کېدی شي د ایمان نورې څانګې او برخې د همدې ایماني معیارونو په سیوري کې وپالي او تربیه کړي، او که د یو چا د ایمان په دې اساسي برخو کې نقص وي د دې معنی دا ده چې په ده کې د اسلامي شخصیت لومړني او اساسي معیارونه ناقص او کم دي، او

Bawar.net

دی نشي کولی په حقیقي معنی د اسلامي شخصیت عنوان ځان ته غوره کړي که څه هم په ظاهر کې ډېر لمونځ کوونکي او روژه نیوونکی وي.

موږ په پیل کې وویل د دې لیکنې مطلوب دا دی چې هغه معیارونه ښکاره کړي، کوم چې یو حقیقي مسلمان او اسلامي شخصیت پرې پېژندل کېدی شي او یا د یو اسلامي شخصیت د روزلو لپاره ضروري او حتمي دي، د دې معیارونو لومړی برخه ایماني صفات او معیارونه دي چې پورته ذکر شول، دا صفات په حقیقت کې د یو مسلمان د ایمان مقیاسونه او محکونه دي، په دې معیارونو د هغه د ایمان کیفیت او کمیت پېژندل کېدی شي، که په چا کې د دې مقیاسونو او معیارونو په اساس د ایمان حقیقت ثابت شو نو په حقیقت کې د اسلامي شخصیت داسې یو رکن(رښتینی ایمان) په ده کې تعمیر شوی چې د بنسټ حیثیت لري او د ده د اسلامي شخصیت نور ارکان پرې بنا کیږي، نو چې کله په مسلمان کې دا ایماني معیارونه او صفات پیدا شول په حقیقت کې د هغه د اسلامي شخصیت بنیاد کېښودل شو او له دې وروسته به د هغه د اسلامي شخصیت نورې برخې جوړیږي، حقیقت دا دی چې له یوې رښتیني ایمان او عقیدې پرته د اسلامي شخصیت تصور غلط دی او کوم خلك چې له پورتنیو ایماني مواصفاتو بې برخې دي، د اسلامي شخصیت دعوی ئې هم باطله ده.

Bawar.net

که څوک غواړي څان او یا بل څوک د اسلامي شخصیت په معیارونو او مقیاسونو وتلي نو په دې خبرې پوهیدل ضروري دي چې د اسلامي شخصیت مطالعه او پېژندل له همدې ځایه پیلیږي، که د اسلامي شخصیت بنسټ او تهداب (ایمان) د پورتنیو صفاتو لرونکی وو نو بیا وروسته د نورو برخو مطالعې ته ضرورت دی او که داسې نه وي بیا د اسلامي شخصیت په نورو برخو کې چې څومره پرمختګ شوی وي داسې ده لکه د سیل وړل شوې پاڼ په سر تعمیر چې د اوسېدو لپاره هیڅ ارزښت نه لري.

که څوک غواړي د اسلامي شخصیتونو په روزلو او تعمیر کې کار وکړي هغه ته هم د دې خبرې پوهېدل مهم دي چې د اسلامي شخصیت د تعمیر کار باید له همدې ځایه پیل شي، دا ځکه چې له بنسټ پرته تعمیر قوام او قیام نه شي ترلاسه کولی، نبوي منهج مسلمانانو ته همدا روزنه ورکوي چې لومړی باید د خلکو ایماني او فکري تربیت وشي او د هغوی د عقیدې ارکان مضبوط کینبودل شي او بیا د دې ارکانو په سیوري کې د هغه د شخصیت نورې برخې تربیه شي، همدا د اصلاح یوازینی لاره ده، د فاسدې عقیدې په سیوري کې اصلاً اصلاح ممکن نه ده، که څه مؤقتي اصلاح هم راشي داسې ده لکه د باد یوه څپه چې هیڅکله قرار نه لري.

Bawar.net

نبي کریم۲ مکمل دیارلس کاله د دې لپاره کار وکړ چې د عقیدې همدا معیارونه رامنځته او هغه تربیه کړي او بیا چې کله په یوه وړوکي ټولګي کې دا معیارونه رامنځته او وروزل شول نو له هغوی د انساني ټولنې نه هېرېدونکې بېلګې جوړې شوې، نبی کریم۲ له جاهلي خاورو د عقیدې په اوبو داسې خټه جوړه کړه چې بیا ترې د انسانیت عجوبې جوړې شوې او تر ننه د هغو په منهج په ملیاردونو انسانان د تلو ویاړ لري.

د ایماني اصولو تربیت داسې خلك روزي چې بیا ضرورت نه لري د حلال او حرامو لپاره طبي او ساینسي دلائل ورته وړاندې شي، هغوی دې ته ضرورت نه لري چې په حکمت او فلسفې د دین هر حکم ورته ثبوت شي، بلکې هغوی د عبودیت په حقیقي معنی د خپل رب هر حکم او هره فیصله د زړه له کومې مني او همدا د دنیا او آخرت د نجات لپاره یوازینۍ لاره بولي، زموږ د دې خبرې معنی دا نده چې د حلال او حرامو تر شا کوم طبی او ساینسی حقیقت او یا کوم عقلانی حکمت او فلسفه نشته بلکې په دې معنی ده چې یو رښتیني مؤمن ته د دې ضرورت نشته چې د الله ﷻ او د هغه د رسول۲ وینا ورته په مادي اسبابو ثبوت شي چې بیا دی پرې قانع شي، هغه د خپل رب ﷻ هر لیږل شوی حکم ته له کوم شك او تردید پرته د سعادت د یوازینۍ لارې په توګه د تسلیمېدو سر ښکته کوي.

Bawar.net

له داسې ایماني مواصفاتو سره د روزل شویو سپاهیانو بله ځانګړتیا دا وې چې د هیڅ طاغوت په وړاندې د عجز او ناتوانۍ احساس نه کوي، د پوره‌تنیو ایماني صفاتو کمال دا دی چې داسې مسلمان روزي چې یوازې خپل رب ځان ته کافي بولي او له هغه پرته له هیچا طمع او خوف نه لري، لکه د نبي کریم۲ په مدرسه کې د اسلام لومړني شاګردان چې له ټولو مادي امکاناتو محروم خو یوازې الله ﷻ ته طامع او په الله ﷻ توکل کوونکي ول، د فارس او روم په خلاف داسې ودرېدل چې هیڅ مادي مقیاس ورته اجازه نه ورکاوه، دوی هر څه د خپل رب په واک کې ګڼل او ورته معلوم ول چې که مو خپل رب راضي کړ نو هر څه به زموږ وي، او که رب خفه شو نو بیا هیڅ خیر نشته، نو ځکه دوی خپل ټول ژوند د خپل رب رضاء په لټولو کې مصرف کړ، دا ټول د ایماني تربیت کمال وو چې په دوی کې رامنځته شوی وو.

نن هم که په مسلمانانو کې دا ایماني تربیت رامنځته او ایماني معیارونه ژوندي شي دوی په حقیقت کې همغه اسلامي شخصیتونه جوړېږي چې بیا د نورو خلکو لپاره قدوې او نمونې وي، او بیا د همدې شخصیتونو په مټ رب ﷻ خپل دین په خپلې زمکې حاکموي: **وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ**

Bawar.net

الْفَاسِقُونَ(النور۵۵)- ترجمه: وعده کړې الله له هغو کسانو سره چې ایمانونه ئې راوړي او نېک عملونه ئې کړي چې حتماً دوی ته د زمکې داسې خلافت ورکوي لکه څنګه چې له دوی مخکې خلکو ته ئې ورکړې وو او دوی ته به خپل دین حاکموي چې دوی پرې راضي دي، او له وېرې وروسته به امن ورکوي، دوی به زما عبادت کوي او له ما سره به هېڅ څه شریک نه ګرځوي، او څوک چې له دې وروسته کافر شو نو همدوی فاسقان دي. دا وعده له مؤمنانو سره ده، هغوی چې د ایمان تربیت ئې شوی او ایماني صفات پکې کمال ته رسېدلي وي او د همدې ایمان په سیوري کې نېک عملونه کوي.

د ایمان په دې تربیت کې نه یوازې سوبې او فتحې راځي، بلکې د رب لخوا پر مسلمان راتلونکي ازمېښتونه هم په آسانۍ او سهولت تېرېږي، نبي کریم۲ مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د ډېرو نورو خبرو تر څنګ له خپل رب داسې ایماني یقین وغواړئ چې د دنیا مصائب او دردونه، مشکلات او آزمېښتونه درته آسانه کوي، ترمذي او نور له خالد ابن ابی عمران او هغه له نبي کریم۲ د یوې دعا الفاظ داسې روایت کوي: ...وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا- ترجمه: او داسې یقین(ایمان) را کړې چې له هغه سره د دنیا ازمېښتونه او مصیبتونه آسانه شي.

Bawar.net

خلاصه دا چې د اسلامي شخصیت لومړنی رکن چې له همدې ځایه د ده د شخصیت تعمیر او یا پېژنده پیلیږي ایماني تربیت دی او په دې ایماني تربیت کې باید د اسلامي شخصیت ایماني صفات خپلو لوړو معیارونو ته رسېدلي وي، که رښتیا هم دا ایماني صفات په یوه مسلمان کې رامنځته شوي وي نو بیا کېدی شي د اسلامي شخصیت نور ارکان او برخې تر بحث او یا تعمیر لاندې ونیول شي.

## درېیم بحث

## د اسلامي شخصیت اخلاقي صفات

د انساني ټولنې له پیدایښت تر نن د انسانانو ترمنځ اخلاق او اخلاقي معیارونه پېژندل شوي ارزښتونه دي او مختلفو قومونو او تاریخي دورو د اخلاقو او اخلاقي اصولو جلا جلا تعریفونه کړي، په یو لنډ تعبیر ویلی شو: د انسانانو تر منځ د رابطې او تعامل کیفیت او څرنګوالي ته اخلاق وایي، یا د یو انسان د رابطې او تعامل کیفیت له خپل هم نوع انسانانو سره د اخلاقو په نامه یادیږي، دا تعریف او تعبیر تر ټولو ساده او جامع تعبیر دی، اخلاق د انساني ټولنې له فکري او عقیدوي بحث وروسته تر ټولو مشهور او څېړل شوی بحث دی، انسانان له پیدایښت تر نننه د اخلاقو په نامه په ځینې ارزښتونو باور لري چې د دوی تر منځ د رابطې او تعامل څرنګوالی ښکاره کوي.

Bawar.net

سره له دې چې په ربښتینو انساني ټولنو کې(هغه چې په انساني ارزښتونو ولاړې ټولنې دي) اخلاقي ارزښتونه تر ډېره ځایه متفق علیه پاتې شوي، دا ځکه چې انساني فطرت په طبعي ډول د دې ارزښتونو غوښتنه کوي خو متأسفانه له انساني ارزښتونو بې برخې ټولنې بیا دا معیارونه د خپلو نفساني غوښتنو پر بنسټ له انساني معیارونو حیواني حالت ته اړولي او له انساني اخلاقو ئې حیواني اخلاق جوړ کړي چې په هغه کې له نورو انسانانو سره د رابطې او تعامل لپاره معیار یوازې د هر انسان خپل نفساني غوښتنې او مادي ګټې ګڼل شوې او د دوی ژوند یوازې د حیواناتو په شان د لذت او ګټې اخیستنې پر بنسټ له هر اخلاقي ارزښت خالي پاتې شوی.

اسلام چې د انسانانو تر منځ د روابطو او تعاملاتو لپاره کوم موازین او معیارونه وضع کړي د اسلامي اخلاقو په نامه یادیږي، ټول انسانیت په دې شاهد دی چې اسلامي اخلاق د اخلاقی نظام تر ټولو لوړ معیار دی او هیڅ دین او هیڅ ټولنه ئې سیالي نشي کولی، د اسلام اخلاقي نظام حتی د خپلو دښمنانو او حیواناتو لپاره هم معیارونه او اصول وضع کړي، اسلامي اخلاق نه یوازې د اسلامي او انساني ټولنې د ښکلا مظهر پاتې شوی بلکې د اسلامي دعوت ستره وسیله هم ده.

Bawar.net

زمونږ بحث دلته د اسلامي شخصیت اخلاقي حالت دی چې باید کوم معیار ته رسیدلی وي؟ د ایمان په عنوان له خپل رب سره د رابطې او تعامل له اصولو منلو وروسته چې په تېر بحث کې پرې رڼا واچول شوه، مسلمان باید په دې ځان مکلف وبولي چې د خپل هم نوع انسانانو سره هم د رابطې او تعامل معیارونه له الهي دین او منهج واخلي، د رابطې او تعامل همدا اصول د اسلامي اخلاقو حدود او دایره ده، مسلمان او اسلامي شخصیت هغه وخت پوره اسلامي شخصیت بلل کیدی شي چې د ایمان په رڼا کې له نورو انسانانو سره د رابطې او تعامل داسې لاره اختیار کړي چې ده ته د الله له لوري ټاکل شوې.

د ایمان او اخلاقو رابطه داسې ده لکه د ونې او مېوې رابطه، ایمان د هغې ونې حثیت لري چې مېوه ئې اسلامي اخلاق دي، د اخلاقو مېوه د ایمان له ونې لاسته راځي او چې څومره د ایمان ونه مضبوطه وي هومره ئې مېوه ډېره او خوږه وي، او که د ایمان مېوه(اخلاق) ترلاسه نه شي نو حتماً ونه وچه شوې او په ایمان کې نقص راغلی.

له ایمان وروسته اخلاق ځکه د مسلمان او اسلامي شخصیت له عمده ارکانو شمېرل کیږي چې له اخلاقو پرته په مؤمن او مسلمان کې ایمان له تاوان سره مخ کیږي،نبي کریم۲ ډېر داسې احادیث روایت شوي چې حتی د یوه اخلاقي معیار نشتوالی د ایمان نشتوالی بلل شوی لکه: امام

Bawar.net

احمد رحمه‌الله له عبدالله بن مسعود۲ څخه روایت کوي چې رسول الله۲ و فرمایل: لیسَ المؤمِنُ بِطَعّان ولا لعّان ولا فاحِش ولا بَذيء- ترجمه: مؤمن طعن ویونکی، لعنت ویونکی، بدکاره او پوچ خولی نوي، همدارنګه په بل حدیث کې روایت شوی: والله لا یؤمن، والله لا یؤمن، والله لا یؤمن)، قیل: من یا رسول الله؟ قال: الذي لا یأمن جاره بوائقه(بخاري او مسلم له ابی هریره روایت کړی)- ترجمه: په الله قسم چې ایمان نه لري، په الله قسم چې ایمان نه لري، په الله قسم چې ایمان نه لري، وویل شول: څوک یا رسول الله؟ وئې فرمایل: هغه چې ګاونډی ئې له شر په امان نه وي. همدارنګه امام بخاری او امام مسلم له انس بن مالک رضي‌الله‌عنه روایت کوي چې رسول الله وفرمایل: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ- ترجمه: مؤمن کېدی نشي یو ستاسې تر څو خوښ نه کړي د مسلمان ورور لپاره هغه څه چې د ځان لپاره خوښوي. داسې حدیث هم روایت شوی چې فرمایي:عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من كان يؤمن بالله واليوم الآخر، فليقل خيراً أو ليصمت، ومن كان يؤمن بالله واليوم الآخر، فليكرم جاره، ومن كان يؤمن بالله واليوم الآخر، فليكرم ضيفه(رواه البخاري، ومسلم).- ترجمه: څوک چې په الله او آخرت ایمان لري نو ښې خبرې دې وکړي او یا دې کښېني چپه خوله، څوک چې په الله او آخرت ورځ ایمان لري نو د خپل ګاونډي عزت دې وکړي، او څوک چې په الله او آخرت ورځ ایمان لري د خپل میلمه عزت دې وکړي.

Bawar.net

د پورتنیو احادیثو مطلب د مطلق ایمان نفي نه، بلکې د کمال ایمان نفي ده، خو د دې تر څنګ بیا له مهمو اخلاقي ارزښتونو او معیارونو بې برخې شخص ته منافق هم ویل شوي، په حدیث کې روایت شوي چې څوک دا څلور عمده اخلاقي معیارونه مات کړي کامل منافق دی، بخاري او مسلم روایت کوي: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْ نِفَاقٍ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ- ترجمه: عبدالله بن عمر وايي رسول الله وفرمایل: څلور صفتونه دي چې په چا کې وي هغه خالص منافق دی او که چا کې یو وي نو د منافق یو خصلت پکې دی تر څو چې ترک ئې کړي-هغه څلور صفتونه دا دي: کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې تعهد کوي خیانت کوي، کله چې وعده کوي وفا نه کوي، کله چې جګړه کوي بښکنځل کوي.

له پورتنیو روایتونو په ښکاره ډول معلومیږي چې د اخلاقو او ایمان کلکه رابطه ده، ایمان دی چې په مسلمان کې اخلاقي معیارونه لوړوي، که په ایمان کې نقص او یا نفاق وي نو اخلاق هم لوېدلي او ټیټ وي، څومره چې د ایمان ونه مضبوطه او جرړې یې په ځمکې کې ژورې وي په همغې اندازې ئې مېوه هم ډېره او خوږه وي.

Bawar.net

همدارنګه د اخلاقو او عباداتو تر منځ هم ژوره رابطه ده، که ایمان د اخلاقو د مېوې لپاره ونه ده نو عبادات د دې مېوې لپاره د غذا حیثیت لري، یعنې په مؤمن کې د ایمان ونه د اخلاقو مېوه راوړي او دا مېوه د عباداتو په غذا وده کوي او خوږېږي، په عباداتو سره اخلاقي معیارونه وده کوي او پوخوالی مومي، څومره چې عبادت او التزام ډېر شي په همغې کچې د ایمان مېوه(اخلاق) پخېږي او خپل لوړ معیار ته رسي، په اسلام کې د عباداتو یوه فلسفه دا ښودل شوې چې په انسان کې اخلاقي ارزښتونه رامنځته کوي، هر عبادت په مسلمان کې اخلاقي پیاوړتیا راولي، د بېلګې په توګه قرآن فرمايي: **إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ**(العنكبوت ۴۵)- **ترجمه: په تحقیق سره لمونځ له فحشاء او منکراتو منع کوي.** یعنې لمونځ په مسلمان کې تقوی او اخلاقي معیارونه تقویه کوي، د زکات په هکله قرآن فرمايي: **خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا**(التوبه۱۰۳)- **ترجمه: د دوی له مالونو ذکات واخله، دوی پرې پاک کړه او د دوی تزکیه پرې وکړه.** په حدیث کې د روژې په هکله صحیح ابن خزیمه روایت کوي چې رسول الله۲ فرمايي: **لیس الصیام من الأكل والشراب ،إنما الصیام من اللغو والرفث**- ترجمه: **روژه یوازې له خوراک او څښاک نه ده، روژه له بېهوده او فحش خبرو ده.** د حج په هکله قرآن فرمايي: **الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ ۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ**(البقره-۱۹۷)- **ترجمه: حج معلومدارې میاشتې دي، په چا چې**

Bawar.net

فرض شو نو په حج کې بدې خبرې، بدکارونه، او جګړې نشته. یعنې حج د دغو اخلاقي معیارونو د تربیت ماحول دی، دا ټول نصوص پدې شاهدي ورکوي چې عبادات اخلاق روزي او اخلاقي تربیت رامنځته کوي.

د اخلاقو د اهمیت په وجه کله چې قرآن غواړي د نبی کریم۲ صفت بیان کړي نو فرمايي: **وَإِنَّکَ لَعَلی خُلُقٍ عَظِيمٍ**(القلم۴)- **ترجمه: او بې شکه چې ته په سترو(غوره) اخلاقو سمبال يې.** یعنې د بنی کریم۲ له لوړو صفتونو څخه یو هم د هغه لوړ او غوره اخلاق دي چې رب له نورو ټولو صفتونو دا صفت غوره بللی او دی پرې ستايي.

نبی کریم۲ هم د اخلاقو اهمیت په یو ډېر له معنی ډک عبارت کې چې امام مالك په موطاء کې نقل کړی، بیانوي او فرمايي: **إنما بعثت لأتمم مكارم الأخلاق- ترجمه: زه استول شوی یم چې اخلاقي ښېګڼې پوره کړم.** هغه د خپل رسالت یو عمده موخه دا بیانوي چې د اخلاقي تربیت لپاره استول شوی، تر رسالت وړاندې په قریشو کې تر هر بل امتیاز د نبی کریم۲ د اخلاقو امتیاز لوړ وو، په ټولنه کې محروم او یتیم پاتې شوی نبی کریم۲ سره همدا یوه پیاوړې اسلحه وه چې د دعوت په لاره کې ئې تر ټولو مؤثر او رغند رول ولوباوه، خدیجه الکبری رضي الله عنها د وحې

Bawar.net

له پیل سره کله چې ئې نبی کریم۲ ته داډ ګېرنه ورکوله ورته ئې ویل: الله تا نه ضایع کوي ځکه ته د ډېرو لوړو اخلاقي صفاتو خاوند یې.

الله او د هغه رسول ته د نژدې کیدو وسیله هم نېک اخلاق دي، الله ته تر ټولو محبوب خلك د ښو اخلاقو خاوندان دي، طبراني په یو حدیث کې روایت کوي: **أحب عباد الله إلى الله أحسنهم خُلُقاً- ترجمه: الله ته تر ټولو محبوب بندګان هغه دي چې تر ټولو د ښو اخلاقو لرونکي دي.** رسول الله۲ ته د قیامت په ورځ تر ټولو نږدې خلك د ښو اخلاقو خاوندان دي، مشکوة روایت نقل کوي: **إن أقربكم مني مجلساً يوم القيامة أحسنكم أخلاقاً- ترجمه: ما ته د قیامت په ورځ په مجلس کې تر ټولو نږدې خلک تر ټولو د غوره اخلاقو خاوندان دي.** همدارنګه د کامل ایمان لرونکي د ښو اخلاقو خاوندان وي، ترمذي له ابی هریره‌ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله۲ وفرمایل: **أكمل المؤمنين إيمانا أحسنهم خلقا- ترجمه:د کامل ایمان لرونکي مؤمنان د ښو اخلاقو لرونکي دي.** تر ټولو د ښه اسلام لرونکي مسلمانان د ښو اخلاقو خاوندان دي له رسول الله۲ جابر‌ﷺ روایت کوي: **وَإِنّ أَحْسَنَ النّاسِ إِسْلامًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا- ترجمه: له خلکو تر ټولو د ښه اسلام خاوندان هغه دي چې تر ټولو ښه اخلاق لري.** د مسلمان د حساناتو په میزان کې ترټولو دروند عمل نېک اخلاق دي، ابی درداء روایت کوي، ترمذي دا روایت نقل کړی چې رسول الله۲ وفرمایل: **ما من شيء أثقل في ميزان المؤمن يوم القيامة من حسن الخلق وإن الله يبغض الفاحش البذي-**

ترجمه: د قیامت په ورځ د حسناتو په تله کې مؤمن ته تر ښو اخلاقو درونه عمل نشته، او الله بدکاره او بدژبی ډېر بد ګڼي.

Bawar.net

اخلاق د مسلمان وسله ده چې د خلکو زړونه پرې فتح کوي او د خلکو زړونه تر ډېرو پادشاهیو لوړ قیمت لري، د زمکو فتح کول آسانه دي او د وسپنې وسلې ورته په کار دي خو د زړونو فتح کول د داعي نرم او ښایسته اخلاق غواړي، د مسلمان اخلاق، سیرت او صورت باید داسې وي چې په ټولنه کې ترې یو الف او مألوف شخصیت جوړ کړي، د مسلمان اخلاقي عظمت نه یوازې د مسلمانانو بلکې د دښمنانو په زړونو کې هم باید خپل اثر پرېږدي، داسې چې د هغه د وقار او لوړ اخلاقي شخصیت په وړاندې دښمنان هم مات شي او د هغه په لوړ اخلاقي مقام اعتراف وکړي.

په اسلام کې د اخلاقو باب دومره وسیع او پراخه دی چې په ډېرو کتابونو کې ئې هم خلاصه کول ممکن نه دي، انسانان څه چې د حیواناتو په وړاندې هم مسلمانان په اخلاقي مکلفیتونو مسؤل شوي، او د دې هر اخلاقي چلند په بدل کې ورته اجر ورکول کیږي، که یو مسلمان نورو انسانانو ته د خیرغوښتنې په نیت له لارې یو مضر شی لرې کوي دا د هغه د ایمان برخه ګڼل شوې او ده ته پرې د اجر تر څنګ د ایمان کمال په برخه کیږي.

Bawar.net

موږ په دې بحث کې د اسلام د ټولو اخلاقي ارزښتونو او معیارونو یادونه نه کوو بلکې یوازې هغه عمده اخلاقي صفات په ډېر اختصار بیانوو چې د یو اسلامي شخصیت د جوړېدو لپاره عمده صفات او معیارونه بلل کیږي، دا اخلاقي صفات استحبابي او زینتي صفات نه دي، بلکې له دې صفاتو پرته یو مسلمان ته مکمل مسلمان او د هغه شخصیت ته اسلامي شخصیت نه ویل کیږي، لکه چې مخکې مو وویل له دې پرته ایمان نه بشپړیږي او اسلام نه ښه کیږي.

کله چې موږ د یو اسلامي شخصیت تمیز او تشخیص کوو او یا د یو اسلامي شخصیت د روزلو لپاره برنامه جوړوو په دې باید پوه شو چې دا اخلاقي معیارونه او مواصفات چې اوس ئې ذکر کوو، حتمي دي او د دې صفاتو په رڼا کې به موږ اسلامي شخصیتونه پېژنو او یا د اسلامي شخصیتونو د جوړولو او تعمیر لپاره قدم اخلو:

**۱- صداقت:** تر ټولو عمده اخلاقي صفت چې له هغه پرته مسلمان ته د نفاق ګوته نیول کیږي هغه د صداقت او رښتینولی صفت دی، مسلمان باید صادق او رښتینی وي، نبي کریم۲ فرمایي: **عن سعد بن أبي وقاص عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: یطبع المؤمن علی کل شيء إلا الخیانة والکذب**(رواه البیهقی)- **ترجمه: مؤمن په هر طبعیت او خصلت کېدی شي پرته له خیانت او دروغ څخه**. مسلمان شخصیت باید یوازې له صادقینو سره ملګرتیا ولري، قرآن په دې هکله فرمایي: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ**

Bawar.net

وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ(التوبه۱۱۹). ترجمه: ای د ایمان خاوندانو! له الله وېره وکړئ او له صادقینو سره پاتې شئ.

صداقت هم د خیانت ضد دی او هم د دروغو، یعنې مسلمان باید له خیانت او دروغو پاک وي، له هېچا سره حتی له خپل معاهد دښمن سره هم خیانت ونکړي، د معاویه رضي الله عنه د خلافت په دور کې په کومه ورځ چې سبا ته له رومیانو سره معاهده پای ته رسېده مجاهدینو د جګړې سامان چمتو کاوه خو مشهورو صحابه وو د دې کار ممانعت وکړ او دا ئې د معاهدې خیانت وباله او ویل ئې چې د سولې پر وخت د جګړې لپاره تیاری هم خیانت دی، دا د مسلمانانو د اخلاقو لوړه مانې ده چې د دښمنانو سرونه ورته ټیټ دي.

مسلمان باید هېچا ته حتی ماشوم او حیوان ته دروغ و نه وایي، په دې هکله شرعي نصوص ډېر زیات دي، امام بخاري رحمه الله علیه له هغه چا حدیث نه روایت کوي چې په چل سره ئې خپله خالي لمنه خپل آس ته ټوله نیولې وه په داسې حال کې چې په لمن کې ئې څه نه ول، امام بخاري رحمه الله علیه داسې کس عادل نه بولي چې له هغه حدیث روایت کړي.

مسلمان ته له مسلمان سره خیانت حرام دی، له محض انسان سره خیانت حرام دی، له معاهد جنګیدونکي دښمن سره خیانت حرام دی، مسلمان ته له ماشوم سره دروغ ویل جواز نه لري، په ټوکه دروغ ویل حرام

Bawar.net

دي، په دروغو مدح کول حرام دي، په دروغو د مال خرخول لويه ګناه ده، په دروغو فکر کول مسلمان د الله په وړاندې په دروغجنو کې شمېري، ، په دروغو شاهدي ورکول او قسم خوړل له سترو کبيره ګناهونو شمېرل شوي، د اسلامي شخصيت ايمان او لوړ اخلاقي کردار بايد دی له خيانت او دروغو داسې وساتي لکه له کفر او نفاق ئې چې ساتي، څکه په حديث کې په صراحت سره ويل شول: مؤمن هر څه کيدای شي خو خائن او دروغجن نه وي.

**۲- امانت داري:** په اسلامي شخصيت کې دوهم مهم اخلاقي صفت امانت داري ده، مسلمان بايد امين وي، يوازې په مال کې امانت نه، بلکې په هرڅه کې امانت کول، د مسلمانانو په مال عزت او وينه کې، د الله په احکامو کې، په خپل بدن او د الله په ورکړل شويو استعدادونو او نعمتونو کې... په ټولو کې بايد مسلمان امين وي، له دې صفت پرته هم مسلمان د نفاق او بې ايمانۍ له خطر سره مخ وي، مسند امام احمد له انس رضي الله عنه روايت کوي چې نبي کريم۲ فرمايلي: **لا إيمان لمن لا أمانة له ولا دين لمن لا عهد له- ترجمه: څوک چې امين نه وي ايمان نه لري او څوک چې تعهد نه لري دين نه لري.** همدارنګه د منافق په څلورو عمده صفاتو کې يو د امانت خيانتول ګڼل شوی.

Bawar.net

امانت وسیع مفهوم لري او په مقابل کې ئې ظلم او خیانت دواړه مفاهیم واقع دي، هر صاحب حق ته د هغه حق نه اداء کول او نه سپارل ظلم او خیانت بلل کیږي، لکه د قرآن حقوق ایمان، تلاوت، زده کړه، تدبر، عمل، تبلیغ، استشفاء او حاکمول دي، که څوک د قرآن دا یو حق هم نه اداء کوي په حقیقت کې له قرآن سره خیانت کوي، منصب، مأموریت، وکالت او کفالت امانتونه دي، خپل اهل ته د دې امانتونو نه سپارل او په واسطو، خپلویو، روابطو او رشوتونو د چا مقررول خیانت دی، هر مسلمان ته سپارل شوی مسؤلیت او مأموریت امانت دی او د دې مسؤلیت او مأموریت حق نه اداء کول خیانت، د انسان وخت او استعدادونه الهي امانتونه دي او ضایع کول ئې خیانت، د مسلمانانو اسرار او پټ رازونه امانتونه دي او افشاء کول ئې خیانت ، د ښځې او خاوند رابطه او د پالنګ راز امانت دی او افشاء کول ئې لوی خیانت، خلاصه د هر حقدار حق امانت دی او نه اداکول ئې خیانت، مسلمان هغه وخت د اسلامي شخصیت خاوند دی چې له دې ټولو خیانتونو پاک او امین وي، او د اسلامي اخلاقو دا عمده رکن ئې مضبوط شوی وي.

**۳- په عهد وفا:** دریم اخلاقي صفت او معیار چې باید مسلمان ئې ولري او د اسلامي شخصیت له عمده اخلاقي صفاتو بلل کیږي، په عهد وفا کول دي، عهد یو ډول امانت دی او د عهد ماتول خیانت بلل

Bawar.net

کیږي، دا صفت د اهمیت په بر بناء د امانت او صداقت له بحث جلا یو ځل بیا تکرار ذکر کیږي، د وعدې په امانت کې خیانت نه کول د مسلمان له لازمي صفاتو بلل کیږي او د تعهد په هکله صداقت او ربښتینولي د مسلمان اخلاقي رکن دی، مسند امام احمد له انس رضي الله عنه روایت کړی چې نبي کریم۲ فرمایلي: **لا إیمان لمن لا أمانة له ولا دین لمن لا عهد له- ترجمه: څوک چې امین نه وي ایمان نه لري او څوک چې تعهد نه لري دین نه لري.** او قرآن مسلمانانو ته امرکوي: **وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۖ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا**(الاسراء۳۴)- **ترجمه: او په خپلو وعدو وفا وکړئ، له شک پرته له وعدو پوښتل کیږئ.**

مسلمان باید په یاد ولري چې تر ټولو لوی عهد ئې له خپل رب سره دی، د دې عهد التزام تر هرڅه وړاندې لازم دی، قرآن فرمایي: **أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ**(یس۶۰)- **ترجمه: ای د آدم زامنو! آیا له تاسو تعهد نه وو اخیستل شوی چې د شیطان بندګي مه کوئ هغه ستاسو ښکاره دښمن دی؟** او همدارنګه فرمایي: **وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ**(الانعام۱۵۲)- **ترجمه: او له الله سره په خپلو ژمنو وفا وکړئ دا تاسو ته غوره ده که پند اخیستونکي یاست.** د الله سره تر ژمنې وروسته پر هغو ژمنو وفا لازم ده چې، مسلمان ئې له اسلامي جماعت او اسلامي ټولي او مسلمان امیر سره کوي، تردې وروسته هغه چې له مسلمان ورور سره ئې کوي، او بیا هغه چې له بل

Bawar.net

هر انسان سره ئې کوي، دا ټول عهدونه پوښتل کیږي او مسلمان ئې په وفا او التزام مکلف دی، د قرض ادا کول عهد دی، نکاح عهد دی، له اهل ذمه وو سره قرار عهد دی، له کفارو سره قراردادونه عهود دي او مسلمان په دې ټولو د وفا مکلفیت لري، څوک چې په خپلو وعدو وفا نه لري هغه د اسلامي شخصیت له لوی اصل او صفت محروم دی او ده ته رښتیني اسلامي شخصیت نشي ویل کیدی.

**۴- د ژبې له آفاتو پاکوالی:** په اسلامي شخصیت کې څلورم عمده اخلاقی صفت او معیار د ژبې له آفاتو(دروغ، غیبت، بهتان، نمامت، طعن او لعن ویل، بې ځایه ټوکې، استهزاء ...) پاکوالی دی، د ژبې له ساتلو پرته د ایمان او زړه استقامت له منځه ځي، نبی کریم۲ فرمایي: **لا یستقیم إیمان عبد حتی یستقیم قلبه ، و لا یستقیم قلبه حتی یستقیم لسانه**(الباني په سلسله الصحیحه کې له انس بن مالک روایت کړی)- **ترجمه:مستقیم نشي پاتې کېدی د بنده ایمان ترڅو چې زړه ئې مستقیم پاتې نشي، او د هغه زړه مستقیم نشي پاتې کېدی ترڅو چې ژبه ئې مستقیم پاتې نشي.** یو رښتینی مسلمان خوږ ژبی او د خیر وینا ښتن وي، نېکې خبرې کوي یا چپ پاتې کیږي، چوپتیا پرې غلبه لري، نبی کریم۲ فرمایي: **عَلَيْکَ بِالصَّمْتِ إِلا مِنْ خَيْرٍ ، فَإِنَّهُ مَرْدَةٌ لِلشَّيْطَانِ عَنْکَ، وَعَوْنٌ لَکَ عَلَى أَمْرِ دِينِکَ**(امام احمد له ابی زر رضی الله عنه روایت کړی)- **ترجمه: له خیر خبرې پرته پر تا چپ والی لازم دی، ځکه دا له تا شیطان شړي او د دین په کار کې درسره مرسته کوي.**

Bawar.net

صداقت، امانت داري، وفا په عهد او د ژبې له آفاتو پاکوالی د اسلامي شخصیت د اخلاقي رکن حتمي او اساسي صفات او معیارونه دي، له دې وروسته نور ټول اخلاقي صفات لکه (اخوت، تواضع، ترحم، صله رحمي، د رفق او نرمۍ معامله، په نرمۍ خبره کول، په حکمت او نیکې طریقې خپل دعوت رسول، د مشرانو احترام او په کشرانو شفقت، عفو، شکر کول، په نېکو کارونو کې تعاون ، د بدۍ ځواب په نېکیو ورکول، د خپلې ژبې او لاس له ضرره خلک په امن کې کول، د بل لپاره هغه څه خوښول چې د ځان لپاره خوښ ګڼل کیږي، حیاء، سخاوت، صبر، قناعت، استغنأ، مېلمه پالنه، مروت، نارینتوب، نظافت، له معنوي مرضونو د زړه پاکوالی...) د یو مسلمان د اسلامي شخصیت د اخلاقو برخې او څانګې دي چې باید ټول د کمال معیارونو ته ورسیږي، موږ په پورتني بحث کې له دې ټولو اخلاقي صفاتو هغه څلور عمده صفات بیان کړل چې د اسلامي شخصیت د اخلاقو ماڼۍ لپاره د بنسټ حیثیت لري او د اخلاقو پیل ئې په دې صفاتو کیږي، له دې صفاتو چې هر یو په مسلمان کې پیدا شي د دې شاهدي ورکوي چې هغه د مضبوط ایمان څښتن دی او د دې ایمان مېوه ئې چې اخلاق دي، پخه او خوږه ده.

تر ایماني او اخلاقي صفاتو وروسته د دې خبرې ذکر هم په کار دی چې د اسلامي شخصیتونو روزلو او بیا له هغو د اسلامي جماعت جوړولو لپاره قرآني اسلوب او نبوي منهج دا دی چې لومړی باید په

Bawar.net

ایماني او اخلاقي معیارونو سمبال خلک تربیه او بیا ترې اسلامي جماعت جوړ شي، او بیا د ایمان او اخلاقو په وسلو د دې سمبال جماعت علمي او عملي روزنه او پالنه وشي او د دوی په لاس د جاهلیت په وړاندې د دعوت او جهاد فریضه پیل او پرمخ ولاړه شي، تر څو د الله په زمکه د الله له لوري انتخاب شوی نظام حاکم شي، نبي کریم۲ په خپل دیارلس کلن مکي دور کې په لوړ ایماني او اخلاقي صفاتو سمبال جماعت تربیه کړ، قرآن هم په دې دوره کې ټول د ایمان او اخلاقو معیارونه او ارزښتونه بیانول، او چې کله ئې دوی د ایمان او اخلاقو په وسلو سمبال کړل د جاهلیت په وړاندې ئې د حق سنګر پرانیست او بیا ئې په دې سنګر کې د خپلو داعي مجاهدینو علمي او عملي تربیت هم وکړ او د دعوت او جهاد چارې ئې هم پر مخ بوتلې.

له دې منهج په ښکاره ډول څرګندیږي چې په یو جاهلي ټولنه کې د اسلامي تحریک رامنځته کولو لپاره لومړی ګام دا دی چې په لوړو ایماني او اخلاقي ارزښتونو سمبال ټولې رامنځته شي، چې د ایمان په لاره تلو لپاره هرې قرباني او هر حکم منلو ته چمتو وي، او د دې ټولي ایمان د اخلاقو داسې خوږه مېوه کړې وي چې هر انسان ئې په خوند کتلو دې ته اړ شي چې د دې ایماني ونې تر سیوري لاندې اوسیدل تر هر جاهلي نظام غوره وبولي، له ایماني قوت او اخلاقي ارزښتونو خالي پروفیسران د اسلامي تحریک لپاره د دعوت او جهاد په لاره کې هیڅ

Bawar.net

ارزښت نه لري، کوم خلک چې د ایمان مواصفات او د اخلاقو معیارونه ئې ټیټ دي د هغو علمي شخصیت د هغو چینجي خوړلو لرګیو په شان دي چې نه د اسلامي نظام ماڼۍ ترې جوړېږي او نه د اسلامي انقلاب اور پرې بلېدی شي، کوم خلک چې غواړي د اسلامي دعوت او جهاد توغ پر خپلو اوږو حمل کړي هغوی باید په لوړو ایماني صفاتو سمبال سپاهیان وي او دا ایمان په دوی کې د اخلاقو مېوه او د قرباني احساس رامنځته کړی وي.

نو اسلامي اخلاق نه یوازې خپله ستره پانګه ده چې باید په یو حقیقي مسلمان او اسلامي شخصیت کې وي او له دې پرته مسلمان ته مسلمان شخصیت نشي ویل کېدی، بلکې اسلامي اخلاق د اسلامي دعوت په لاره کې داسې ستره او مؤثره وسیله ده چې د جاهلیت ټول فاسد او له اخلاقي معیارونو خالي سنګرونه پرې فتح کېدی شي، اسلامي اخلاق مسلمان ته په انساني ټولنه کې تمکین ښښي او د ده دعوت ته لارې پرانېزي، په یو لنډ تعبیر ویلی شو: اسلامي اخلاق د ایمان هغه خوږه مېوه ده چې په نېکو اعمالو پخېږي او خلکو ته په وړاندې کولو سره پرې د انسانانو زړونه ترلاسه کېدی شي او د مسلمان په شخصیت کې له ایمان وروسته د عمده رکن حیثیت لري، او له همدې ځایه ویل کېږي چې له ایماني مواصفاتو وروسته په اسلامي شخصیت کې د

Bawar.net

اخلاقي مواصفاتو شتون حتمي دی چې، څو بنسټیز مواصفات ئې پورته ذکر شول.

## څلورم بحث

## د اسلامي شخصیت علمي صفات

علم او پوهه هم د اسلامي شخصیت له عمده ارکانو دی، مسلمان باید پوه او عالم وي، دا ځکه چې اسلام غواړي مسلمان د انسانیت لوړ مقام ته ورسوي او د انسانیت امتیاز په علم کې دی، قرآن د آدم عليه السلام لوړ مقام چې ملائکې ورته په سجده مأمورې شوې او ده ته پرې د ځمکې خلافت ورکړل شو، علم معرفي کوي او فرمايي: **وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا**(البقره۳۱)- **ترجمه:او آدم د ټولو په نومونو پوهيده.** د آدم عليه السلام علم د ملائکو څخه د ده امتیاز وو چې دده د خلافت لپاره د دلیل په توګه وړاندې شو، همدارنګه قرآن لومړی له جهالت سره د مبارزې په عنوان د (اقرأ) په لفظ نبي کریم۲ ته د هغه رسالت پیلوي، او بیا له هغه غواړي چې د علم دا وسائل او اسباب درسره واخله او پورته شه، دې تیاره کې د علم ډیوه بله کړه، نو ځکه هم مسلمان باید عالم وي او په ټولنه کې د جهالت ختمولو لپاره مسلسله مبارزه وکړي.

الله د یو لوی حکمت پر بنسټ د یو نالوستي بنده(نبی کریم۲) په لاس د علم او پوهې داسې ډیوه بله کړه چې تر نن پورې ټول انسانیت ترې د خپل ژوندانه لپاره د لارې مشال په توګه کار اخلي، تر نبی کریم۲

Bawar.net

وروسته د ده د مدرسې شاګردانو او راتلونکو مسلمانانو د انسانیت علمي منار چې د آدم عليه السلام په لاس ئې د بنسټ ډبره ایښودل شوې وه، داسې لوړ کړ چې نه یوازې اسلامي ټولنه پرې ښېرازه شوه بلکې د قرون وسطی په جهالت کې ډوبه غربي دنیا هم پرې له تیارو را بهر شوه، مسلمانان د انساني ټولنې د جهالت په لرې کولو کې روڼ تاریخ لري او د بشري ژوند په ټولو برخو کې د دوی علمي هڅې د انسانیت ډیوې دي.

مسلمانان د علم په ډګر کې څکه ډېر پر مخ ولاړل چې اسلام د دوی شخصیتونه علمي شخصیتونه وروزل او مسلمانانو ته ئې دا تربیه ورکړه چې هغه وخت رښتیني مسلمانان کېدی شئ چې پر پوهې ولاړ اسلامي ژوند اختیار کړئ، قرآن فرمایي:**وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ**(التوبه۱۲۲)- **ترجمه: او د ټل لپاره مسلمانانو ته دا نه دي په کار چې ټول خروج وکوي، ولې دوی نشي کولی چې له یوې لویې فرقې یوه ډله خروج وکوي او نور پاتې شي چې په دین کې پوهه ترلاسه کړي او کله چې ملګري ئې راغلل هغو ته ئې وښائي.** او همدارنګه قرآن فرمایي: **يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ**(المجادله۱۱)- **ترجمه: الله په درجو کې هغه خلک پورته(لوړ) کړي چې ایمان لري او هغه چې علم ورکړل شوي.**
او فرمایي: **إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ**(فاطر۲۸)- **ترجمه: بې شکه له الله**

Bawar.net

ډېر وېرېدونکي بندګان علماء دي. نبي کریم۲ د پوهې اساسي منبع (قرآن کریم) په هکله فرمايي: **خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ** (بخاري له عثمان رضی الله عنه روایت کړی)- **ترجمه: بهترين ستاسو هغه دي چې قرآن زده کړي او نور ته ئې وښائي.** همدارنګه نبی کریم۲ ځان معلم معرفي کوي، ابن عمر‎ﷺ روايت کوي چې رسول الله۲ وفرمايل: **إنما بعثت معلما- ترجمه: حقيقت دا دی چې زه معلم استول شوی یم.** او بيا د هر مسلمان مکلفيت بولي چې علم ترلاسه کړي، لکه چې بيهقي له انس‎ﷺ دا حديث روايت کړی چې رسول الله۲ فرمايلي: **طلب العلم فريضة على كل مسلم- ترجمه: د علم زده کړه په هر مسلمان فرض دی.** د پورتنيو روايتونو تر څنګ ډېر نور داسې نصوص شته چې مسلمانان پوهې ته هڅوي او د پوهې ترلاسه کول ئې مسؤليت او د لوړوالي وسيله بولي.

دلته د دې خبرې يادول هم ضروري دی چې په اسلام کې علوم د دين او دنيا په نامه د نيت پر بناء وېشل شوي نه د موضوع له مخې، د دنيا علم هغه دی چې د دنيا ګټلو لپاره زده کيږي که دا د قرآن زده کړه وي او که د بل هر علم زده کړه، او د دين علم هغه دی چې د الله رضا حاصلولو لپاره زده کيږي که هغه شرعي علوم دي او که د مسلمانانو د خدمت لپاره نور طبعي او ټولنيز علوم دي.

Bawar.net

علوم په شرعي او عصري، یا هم په شرعي او ساینسي او اجتماعي او یا نورو عنوانونو د موضوعاتو پر بناء وېشل کېدی شي خو د دنیا او دین په نامه یوازې د نیت پر بنسټ وېشل کېږي، د اسلام دښمنانو په غیر مستقیم ډول د اسلامي امت د تخلف او جهالت لپاره داسې وېش کوي چې ځینو علومو ته د دنیا علوم وايي تر څو مسلمانان د بې معنی زهد په نامه له هغه مخ واړوي او په هغه برخه کې جاهل پاتې شي، خپلو دښمنانو ته مجبور او محتاج وي، په داسې حال کې چې د بشري علومو په ساحه کې مسلمانانو د خپل ځلانده مدنیت په درشل کې داسې وځلېدل چې هغه مهال د نن ورځې کاذب متقدم غرب ورته ګوته په غاښ وو، اروپایانو چې د نن ورځې مادي تقدم د ځان لپاره د ویاړ شعار ګرځولی او په حقیقت کې د انسانیت د تخریب په قیمت ئې دا ماڼۍ تعمیر کړې، په دې خبرې اعتراف لري چې د تجربوي علومو اساس مسلمانانو د اندلس په پوهنتونونو کې ایښی ده او د هغه وخت لوړ معیار ته مسلمانانو رسولی، اروپایانو په هغه وخت کې له اروپا اندلس ته د ساینسي علومو زده کړې ته ورتلل، خو متأسفانه ځانو اروپایانو هغه ټول تحقیقات نن د ځان په نامه نومولي او پرې ویاړي.

کله چې د مسلمان هدف د الله رضاء حاصلول او د دین او مسلمانانو خدمت وي بیا هر علم چې د اسلام له اصولو سره په ټکر کې نه وي، دیني او اسلامي علم دی او مسلمان ته پرې پوره اجر حاصلیږي،

Bawar.net

مسلمانانو علماوو په دې خبره اجماع کړې چې د مسلمانانو د دنيائي امورو د تنظيم لپاره هر ضروري علم د کفائي فرض حيثيت لري که ټول مسلمانان ترې بې برخې پاتې شول ټول د الله په وړاندې مسؤل دي.

په اسلام کې د علم په مقام او منزلت بحث زمونږ موضوع نه ده يوازې د يوې مقدمې په توګه مو دا وويل چې د علم زده کړه د اسلام له نظره د هر مسلمان فريضه ده او د هر مسلمان د اسلامي شخصيت له ارکانو شمېرل کيږي، مسلمان بايد علم ترلاسه کړي او دلته موږ په هغو عمده علمي صفاتو بحث کوو کوم چې د يوه اسلامي شخصيت په توګه بايد په هر مسلمان کې وي.

**۱- د الله رضا غوښتل:** دعلمي صفاتو په سلسله کې لومړی مهم صفت دا دی چې مسلمان د الله ﷻ رضا لپاره د علم طلب وکړي، لکه څنګه چې د مسلمان ټول اعمال بايد د الله ﷻ رضا لپاره وي او مسلمان په خپل هر عمل کې اخلاص ولري همدارنګه علم چې له عمده عباداتو دی بايد يوازې د الله ﷻ رضا لپاره او د دين او مسلمانانو د خدمت لپاره ترلاسه شي، د نبی کريم۲ په وينا هر هغه طالب چې نيت ئې يوازې د الله ﷻ رضا حاصلول وي، هغه له خپل کور وتلو بيا تر راګرځيدو پورې د الله په لاره کې وي، او ملائکې ورته خپل وزرونه غوړوي.

Bawar.net

د مسلمان په عملي او عبادي صفاتو کې د دې خبرې ذکر کیږي چې د مسلمان هر عمل باید په اخلاص او د الله لپاره وي، اخلاص د توحید او ایماني صفاتو غوښتنه ده او باید د مسلمان هر عمل د الله لپاره وي، اخلاص د مسلمان له لویو صفاتو شمېرل کیږي، دلته په خاص ډول له علم سره ئې ذکر کول ځکه ضروري دي چې اکثراً علم د دنیائي ګټو او یا هم ځان ښودنې او ریاء لپاره زده کیږي، د مسلمان زړه باید له داسې خیرنو نیتونو پاک وي، او د ده موخه په علم سره د الله رضا حاصلول، په پوره او صحیح دین عمل کول، نورو خلکو ته د صحیح دین رسول او د مسلمانانو خدمت کول وي، په دې هکله امام بیهقی له ابی هریرهرضي الله عنه یو حدیث روایت کوي چې رسول الله۲ فرمايلي: **من تعلم علما مما يبتغى به وجه الله، لا يتعلمه إلا ليصيب به عرضا من الدنيا ،لم يجد عرف الجنة يوم القيامة- ترجمه: څوک چې د دنیا متاع ترلاسه کولو لپاره هغه علم چې د الله رضا لپاره حاصلیږي، ترلاسه کړي د قیامت په ورځ به ده ته د جنت بوی هم و نه رسیږي.**

**۲- طلب:** د اسلامي شخصیت د علمي صفاتو په سلسله کې دوهم مهم صفت دا دی چې هغه ټول عمر د علم په طلب کې وي، د یو مسلمان لپاره مسؤلیت دا نه دی چې حتماً په ټولو علومو کې پوه او بر لاس ولري، بلکې مسؤلیت دا دی چې ټول عمر د علم په طلب کې کوښښ وکړي، لکه څنګه چې امام احمدرحمه الله به د علم مجالسو کې کښیناسته

Bawar.net

نو خلکو ترې پوښتنه وکړه چې ته خو د علم لوړ مقام ته رسیدلی یې، بیا څنګه د علم درسونو ته کښېنې؟ هغه وفرمایل: **مَعِي الْمِحْبَرَةُ إِلَى الْمَقْبَرَةِ- ترجمه: موشوانی به له ماسره تر قبره وي.**

پوهه باید د مسلمان ورک شوی مال وي چې هر کله ئې لټوي، لکه څنګه چې له ورك شوي مال زړه آرام نه کوي او هر کونج ورپسې لټول کیږي، مسلمان باید پوهه او حکمت همداسې ولټوي او په کوم ځای کې چې ګمان کیږي هلته پوهه او حکمت شته مسلمان باید هلته سر وړاندې کړي او ترلاسه ئې کړي، په همدې معنی یو ضعیف روایت هم شته چې ترمذی او ابن ماجه روایت کړی.

د مسلمانانو پخوانیو نسلونو چې کومې علمي هڅې کړې او خپل ټول عمرونه ئې د علم لپاره وقف کړي د نن ورځې خلکو ته د همت دکموالي په وجه خارق العاده امور برېښي، پخوانیو علماؤو د اسلامي امت کتابتون دومره غني کړی چې د بل هیڅ امت دومره غني نه دی، او د انسانیت د آرام او سوکاله ژوند لپاره ئې د خپل وخت تر ټولو شانداره مدنیت رامنځته کړی.

**۳- له اصلي او مهمو علومو پیل:** د مسلمان شخصیت دریم علمي صفت دا دی چې تر ټولو مهم علم پیل کوي او ټول ژوند د مهمو علومو کې په زدکړه کې مصرفوي، له بې معنی علومو چې نه د آخرت

Bawar.net

په ګټه دي او نه په دنیا کې د مسلمانانو د خدمت لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي او د ذهني سپورت په شان یوازې مشغولتیا ده، ځان ساتي؛ معنی دا چې مسلمان ته هغه علوم اهمیت لري کوم چې هغه ته د دنیا او آخرت سمون راولي، په هغو تش په نامه علومو ځان نه مصروفوي چې د آخرت ښېګڼه له ځان سره نه لري او د مسلمانانو په ژوند کې د خدمت کومه وسیله نشي جوړېدی، معلومه خبره ده، قرآن او حدیث په ترتیب سره هغه علوم دي چې د هر مسلمان دنیوي او اخروي سعادت له ځان سره لري او مسلمان باید خپل ډېر وخت د قرآن او حدیثو په زده کړه کې او د هغه علومو په زده کړه کې ولګوي چې له قرآن او حدیثو اخیستل شوي.

په دوهم قدم کې هغه علوم دي چې د مسلمانانو د خدمت لپاره کېدی شي د دنیا په ژوند کې ترې ګټه واخیستل شي، هغه علوم چې نه د آخرت سره څه تړاو لري او نه هم په دنیا کې د اسلام او مسلمانانو په خدمت کې ترې ګټه اخیستل کېدی شي د مسلمان وخت باید پرې ضایع نشي، ډېر داسې مصروفیتونه شته چې خلك د علم په نامه په کې مصروف شوي خو هېڅ هم ترې ترلاسه کېدی نشي، له الهي هدایت د محرومو تش په نامه پوهانو خیالي فلسفې چې نه د دنیا امور پرې تنظیم کیږي او نه د آخرت سعادت له ځان سره لري د دې تش په نامه علومو مثال کېدی شي چې ډېر خلك یوازې د ځان ښودنې په نیت خپل ټول

Bawar.net

ژوند پرې ضایع کوي، د اسلامي شخصیت له علمي مواصفاتو دا دی چې له دې په نامه علمي مصروفیتونو ځان ساتي او خپل وخت د اصلي علومو په زده کړه کې تېروي.

**۴- تواضع او الهي خشیت:** دا چې علم کمال دی او د علم ترلاسه کول د انسان شأن لوړوي نو د علمي صفاتو په سلسله کې دا خبره هم باید هېره نشي چې په مسلمان کې باید علم تواضع او الهي خشیت رامنځته کړي، هغه علم چې په مسلمان کې عجب او تکبر رامنځته کوي د مسلمان لپاره سعادت نه، بلکې د هلاکت وسیله ګرځي، د تکبر، عجب او ریاء اصلي عامل د اخلاص نشتوالی دی او چې کله په تعلیم کې اخلاص نه وي هغه عبث دی، که دنیا پرې ترلاسه هم شي د آخرت لپاره هلاکت جوړېږي، مخلص علماء له الله وېرېدونکي او متواضع خلک وي، قرآن د رښتینو علماؤو په هکله فرمايي: **إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ**(فاطر۲۸)- **ترجمه: بې شکه له الله ډېر وېرېدونکي بندګان علماء دي.**

تقوی او تواضع د مسلمان او اسلامي شخصیت له اخلاقي صفاتو دي او باید په مسلمان کې وي خو د علم په وجه باید تقوی او تواضع دواړه لوړ معیار ته ورسېږي، د علم حقیقت دا دی چې له مسلمان د مېوه لرونکې ونې په شان د تواضع مثال جوړوي، لکه څنګه چې مېوه

Bawar.net

لرونکي ونې تر بې ثمره ونو ډېرې ځانګې ټيټې ساتي همدا شان علماء تر نورو خلکو ډېر متواضع خلك وي.

**۵- له خپل علم ګټه اخيستل:** د علمي صفاتو په سلسله کې وروستی مهم صفت دا دی چې مسلمان له خپل علم هم د ځان لپاره او هم د نورو مسلمانانو لپاره ګټه واخلي، خپل علم د ځان لپاره د تقوی، عمل او ښه ژوند ذريعه او د نورو مسلمانانو لپاره د هدايت او خدمت وسيله وګرځوي، خپله پرې عمل وکړي او نور پرې د جاهلت له تيارو وژغوري، دا د علم حق او د عالم مسؤليت دی، نافع علم همدې ته وايي چې خلکو ته ئې ګټه ورسيږي، او يو له هغه عملونو چې کوونکي ته ئې له مرګ وروسته هم ګټه رسيږي، علم نافع دی.

خلاصه دا چې ربښتيني مسلمان او اسلامي شخصيت د علم څښتن وي او د ده په اسلامي شخصيت کې د علم عمده رکن تل د کمال په لور روان وي او هغه ټول عمر د علم په طلب کې وي، د علم طلب د الله رضا لپاره کوي، تر ټولو مهم او د آخرت او دنيا د ګټې علوم ترلاسه کوي، د علم تر څنګ تواضع او الهي خشيت پکې زياتيږي، له کبر او عجب ځان ساتي او بلاخره خپل علم د ځان د سعادت او د خلکو د هدايت او خدمت وسيله ګرځوي، او دا د اسلامي شخصيت د دريم رکن(علمي صفاتو) خلاصه ده.

Bawar.net

## پنځم بحث

## د اسلامي شخصیت عملي یا عبادي صفات

له اقرار او تصدیق وروسته د ایمان کمال او صداقت هغه وخت رښتینی کیږي چې رب ته د اطاعت او عبودیت سرکیښودل شي او د هغه احکام ومنل شي، د رب احکام منل او سرته رسولو ته عبادت وايي، د عبادت له ګڼو تعریفونو جامع تعبیر داسې کیږي چې په خپل قلبي او ظاهري اعمالو کې د الله احکام منل او د رب لخوا په وضع شویو حدودو کې یوازې د الله لپاره د دې اعمالو ترسره کولو ته عبادت وايي، د عبادت مفهوم په اسلام کې په لمانځه او روژې پورې منحصر نه دی، له ایمان وروسته هر قرار، قول او قدم چې د الهي حدودو په داخل کې د الله لپاره د نبي کریم۲ له لورې د ښودل شوې طریقې پر بنا ترسره شي، هغه نېک عمل او عبادت بلل کیږي.

د انسان د خلقت مقصد د خپل رب پېژندنه او عبادت ښودل شوی او دا مقصد هغه وخت ترلاسه کېدی شي چې د انسان ټول ژوند د عبادت رنګ واخلي او د ده هره اراده، هره خبره او هر عمل عبادت وګرځي، ایمان هم هغه وخت خپل صدق او رښتینولي ثابتولی شي چې عمل د هغه تصدیق وکړي، په دې هکله حسن بصری رحمه الله فرمايي: **لیس الإیمان بالتمنّي ولا بالتحلّي إنما هو ما وقر في القلب وصدقه العمل - ترجمه: ایمان تش امېدونه او ځان ښایسته کول نه دي، ایمان هغه پانګه ده چې د مؤمن په**

Bawar.net

**زړه کې ځای نیسي او د هغه عمل پرې شاهدي ورکوي.** د دې خبرې مطلب دا دی چې نېک اعمال د رښتیني ایمان ښکارندوی دي او که نېک اعمال نه وي نو دا ایمان نه، بلکې تش امېدونه دي.

پس نېک عمل هم د مسلمان د شخصیت مهم رکن دی، مسلمان هغه وخت حقیقي مسلمان او شخصیت ئې اسلامي شخصیت بلل کیږي چې نېک اعمال ترسره کړي او د ژوند عمده برخه ئې په عبادت کې تېره شي، د دې خبرې معنی دا نه ده چې ټول ژوند په لمانځه ولاړ وي او یا ټول ژوند روژه ولري، بلکې د دې خبرې معنی دا ده چې هره اراده، خبره او کړنه ئې د دین د غوښتنې او د رب د حکم مطابق وي، او له هغو کړنو ځان وساتي چې رب ترې منع کړی، په دې مفهوم کېدی شي د مسلمان لمونځ، روژه، صدقات، خوب، خوراک، کورنی ژوند، ټولنیز خدمات، دعوت او جهاد ...ټول له اخلاص او له نبوي طریقې مراعاتولو وروسته په عبادت کې حساب شي.

د عمل او عبادت په ډګر کې هم باید مسلمان او اسلامي شخصیت د څه امتیازي صفاتو خاوند وي، چې دا صفات ئې د اسلامي شخصیت له مکوناتو بلل کیږي، لکه څنګه چې د ایمان، اخلاق او علم په ارکانو کې داسې صفات بیان شول چې د ایمان، اخلاق او علم حقیقت په مسلمان کې رامنځته کوي او پالي ئې، دلته هم هغه صفات بیانیږي چې

Bawar.net

په هغه سره مسلمان د عمل په ساحه کې د خپل شخصیت کمال لپاره قدم اخلي، که موږ د کوم اسلامي شخصیت څېړنه کوو، چې آیا اسلامي شخصیت دی او که نه؟ او یا غواړو یو نوی اسلامي شخصیت وروزو نو د عمل په ساحه کې به خامخا د دې صفاتو په نظر کې نیولو اسلامي شخصیت پیژنو او یا نوی تربیه کوو.

**۱- اخلاص:** د عمل په ډګر کې لومړی صفت دا دی چې د مسلمان هر قدم او هره کړنه د الله لپاره وي، اخلاص له ایمان وروسته د عمل د قبولیت لپاره اساسي شرط دی، او مسلمان هغه وخت رښتینی مسلمان بلل کېدی شي چې هر عمل ئې له ټولو خیرو پاک او یوازې د رب لپاره وي، الله ﷻ له اخلاص پرته په هیڅ عمل امر نه دی کړی: **وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ**(البينه۵)- **ترجمه: او امر نه وو شوی دوی ته پرته له دې چې د الله خالص عبادت وکړي په داسې حال کې چې له شرک د توحید په لوري مستقیم پاتې وي.** یعنی د عمل په ډګر کې له دې پرته مسلمان ته په بل څه امر نه دی شوی چې خپل هر عمل په اخلاص وکړي او هغه حنیف طریقه اختیار کړي چې ده ته ښودل شوې.

که په کوم عمل کې اخلاص نه وي هغه د الله په وړاندې هیڅ ارزښت نه لري، قرآن فرمايي: **وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا**(الفرقان۲۳)- ترجمه: **او ورسیدو موږ د دوی هغه عملونو ته چې دوی کړي وو بیا مو وګرځول د تیت شوي غبار په شان. همدا شان د قربانیو په هکله**

Bawar.net

فرمايي: لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُم(الحج۳۷)- ترجمه: كله هم نه رسيږي الله ته غوښې او وينې - ستاسو د قربانيو او رسيږي ستاسو تقوى(اخلاص). همدارنګه نبى كريم۲ په هغه روايت كې چې مسلم له ابى هريره نقل كړى فرمايي: إن الله لا ينظر إلى أجسامكم، ولا إلى صوركم، ولكن ينظر إلى قلوبكم- ترجمه: الله ستاسو جسمونو او څېرو ته نه ګوري بلكې ستاسو زړونو ته ګوري. يعنې ستاسو اخلاص ګوري چې څومره دى.

نو د عمل په ذكر كې لومړى شرط دا دى چې عمل په اخلاص تر سره شي او له رياء، منفعت غوښتنې، شهرت غوښتنې، مدح غوښتنې، قدرت غوښتنې، د خلكو رضا غوښتنې، كبر، عجب او حسد... او نورو ګندګيو پاك وي، د رښتيني مسلمان دا نښه وي او د اسلامي شخصيت دا معيار او شاخص وي چې هغه هر څه د الله لپاره كوي او په خپلو اعمالو كې اخلاص لري.

په بل تعبير داسې ويلى شو چې بايد د مسلمان زړه له خيرو او امراضو پاك وي او هېڅ عمل د الله ﷻ له رضا غوښتنې پرته په بل نيت ترسره نه كړي، نه له چا د پور او بدل په عنوان او نه هم له چا د څه طمعې او يا وېرې پر بنا، بلكې يوازې او يوازې د رب رضا حاصلولو لپاره، هره خبره او هر قدم واخلي، كه له انسانانو سره څه كوي او كه له حيواناتو سره، كه له ځان سره څه كوي او كه له نورو سره، كه خپل رب ته څه

Bawar.net

وړاندې کوي او که د رب بندګانو ته ټول یوازې د الله لپاره وي، نه د بل چا لپاره، دا د مسلمان عمده صفت دی چې هغه له لوېې بدبختی (شرک) په امان کې ساتي او په ده کې لویه هستي (توحید) پالي.

اخلاص د مسلمان په ژوند کې مهم اصل دی، له اخلاص پرته د مسلمان ژوند خپل اصلي ماهیت نه شي ترلاسه کولی، اخلاص د مسلمان د اعمالو ښه محک دی، په دې سره د الله په وړاندې د مقبول او غیر مقبول عمل تمیز کیږي، د اخلاص په هکله قرآن او حدیث ډېر واضح ارشادات لري، په دې هکله ډېر نصوص راغلي او ډېر کتابونه لیکل شوي، موږ دلته یوازې په اختصار سره د دې صفت یادونه وکړه.

**۲- اتباع سنت:** د عمل په ډګر کې د اسلامي شخصیت دوهم صفت دا دی چې خپل عمل د نبی کریم۲ په طریقې ترسره کوي، هغه نبی کریم۲ چې الله خپلو بندګانو ته د عمل په ډګر کې د یوې نمونې او قدوې په توګه رالیږلی او فرمایي: **لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا**(الاحزاب۲۱)- **ترجمه: خامخا ستاسو لپاره د رسول الله په شخصیت کې یوه ښکلې نمونه او بېلګه ده، د هغه چا لپاره چې له الله او د آخرت له ورځې-د رحمت او خلاصون - طمع لري او د الله ذکر ډېر کوي.** همدارنګه الله ته د تقرب او دوستۍ لاره همدا ښودل شوې، قرآن فرمایي: **قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ**(ال عمران۳۱)- **ترجمه: ووایه که تاسې الله**

Bawar.net

**دوست ګڼئ نو زما متابعت وکړئ الله به مو دوست و ګڼي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي، او الله ښښونکی مهربان دی.** همدارنګه خپله رسول الله۲ په دې هکله فرمايي: **من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه، فهو ردٌّ**(البخاري او مسلم له ام المؤمنين عايشې روايت کړی)- **ترجمه: او چا چې زموږ په امر(دين) کې داسې څه نوي پيدا کړ چې په کې نه ول هغه رد دي.**

اخلاص او اتباع سنت هغه دوه عمده صفتونه دي چې بايد په اسلامي شخصيت کې وي، بايد د رښتيني مسلمان هر عمل الله لپاره او د هغه د رسول۲ په طريقې ترسره شي، کوم اعمال چې له دې دوه ګونو ارکانو خالي وي؛ هغه الله ته منظور ندي، الله د غوره دين لرونکي او مسلمان نښې همدا بولي او فرمايي: **وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ**(النساء۱۲۵)- **ترجمه: او تر هغه به څوک د ښه دين خاوند وي کوم چې يوازې د الله رضا غواړي او محسن دی(هر عمل د رسول الله په طريقې ترسره کوي).**

اخلاص د نيت په پاکوالي راځي او د نبي کريم۲ د طريقې متابعت په هر عبادت کې د هغه د خاصې طريقې التزام غواړي، بيا په هر عبادت کې د نبي کريم۲ د مشخصې طريقې التزام تر څنګ د نبي کريم۲ د اعمالو څو عمده صفات دي چې په هر عمل کې ئې التزام ضروري دي، دا چې وايو د نبي کريم۲ په طريقې ترسره شي معنی دا ده چې له همدې صفاتو سره ترسره شي، که په هر نيک عمل کې دا اصول

Bawar.net

مراعات شوي نه وي او يا دا صفات موجود نه وي؛ هغه عمل د سنتو مطابق نه دی ترسره شوی او ناقص دی.

د عباداتو په هکله د نبي کریم۲ د طریقې ګڼ صفات:

**الف – اعتدال:** په اسلام کې هر عمل باید له افراط او تفریط پاک او د اعتدال په حد کې ترسره شي، په دې هکله اسلام ډېر ارزښتمن ارشادات لري او مسلمانانو ته حکم کوي چې د هیڅ نیک عمل په کولو کې له افراط او تفریط کار وانخلي، نبي کریم۲ له اعتدال مخ اړوونکو(غُلُو کوونکو) خلکو ته د هلاک شویو خلکو خطاب کوي، امام مسلم له عبدالله بن مسعودﷺ روایت کړی: **هلک المتنطعون.. قالها ثلاثاً- ترجمه: رسول الله۲درې ځله وویل: هلاک شول افراط کوونکي.** په احادیثو کې د پخوانیو امتونو د هلاکت یو عامل همدا ښودل شوی، ابن عباسﷺ روایت کوي چې رسول الله۲ وفرمایل: **يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّينِ، فَإِنَّهُ أَهْلَکَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ الْغُلُوُّ فِي الدِّينِ- ترجمه: ای خلکو! په دین کې له غُلُو ځان وساتئ، تر تاسو مخکني خلک په دین کې د غُلُو په خاطر هلاک شول.**

نبي کریم۲ په خپلو عباداتو کې د امت لپاره نمونه او قدوه وو او ویل به يې، ترجمه: **زه تر تاسو ډیر له الله وېرېدونکی او متقی یم، خو زه روژه نیسم او افطار کوم، لمونځ کوم او ویده کېږم، او له ښځو سره نکاح کوم، څوک چې**

Bawar.net

**زما له سنتو مخ اړوي زما نه دی**(بخاری له انس بن مالک دا حدیث روایت کړی)، خلاصه دا چې اسلامي عمل باید له افراط او تفریط پاک او د اعتدال په حدودو کې ترسره شي.

**ب- اتقان:** د نبي۲کریم په متابعت کې دوهم صفت د اتقان صفت دی، هر اسلامي عمل باید په ښه توګه او پوره ترسره شي، په اسلام کې عجول او له تمکین خالی عبادت ته ارزښت نشته، عایشه رضی الله عنها له نبي کریم۲ روایت کوي چې هغه وفرمایل: **إِنَّ اللّٰهَ** عَزَّوَجَلَّ **يُحِبُّ إِذَا عَمِلَ أَحَدُكُمْ عَمَلًا أَنْ يُتْقِنَهُ**- ترجمه: **پرته له شکه الله خوښ ګڼي ستاسو د یو کس عمل کله چې ئې په اتقان ترسره کړي.** په اسلام کې هغه عمل اهمیت او ارزښت لري چې په آرام فکر، وقار او پوره ترسره شي، هغه عمل هیڅ ارزښت نه لري چې کوونکی یوازې په نامه ترسره کوي، ګوډ او مات وي، په عجلې او له وقار پرته ترسره کیږي، د زړه له مینې او اخلاص خالي وي. پس د اسلامي شخصیت بل صفت د عمل په ډګر کې د نبي کریم۲ د متابعت په عنوان د هر نېک عمل پوره او په اتقان سرته رسول دي.

**ج- استمرار:** د نبي کریم۲ د متابعت دریم عمده صفت چې باید په اسلامي شخصیت کې وي، هغه په نېکو اعمالو کې د استمرار صفت دی، اسلام له مسلمان دوامداره نېک اعمال غواړي، مقطعي اعمال که

Bawar.net

ډېر زيات هم وي تر هغه اعمالو ډېر کم ارزښت لري چې کم او دوامداره وي، په سرعت سره او په مقطعي ډول عمل کول د افراط نښه ده او داسې اعمال دوام نه کوي، داسې وي لکه زغاستي وهونکی چې په ډير سرعت خپله منډه پيل کړي او بيا له لږ واټن فاصلې وروسته ئې نفس بند او د مخته تلو همت ئې ختم شي او د زمکې پر مخ پرېوزي بيا د پورته کېدو توان نه لري، په دې هکله امام مسلم رحمه الله له عايشې رضي الله عنها روايت کوي چې رسول الله۲ و فرمايل: **أحب الأعمال إلى الله تعالى أدومها وإن قل- ترجمه: د الله په وړاندې تر ټولو غوره عملونه هغه دي چې دوامداره ترسره کيږي که کم هم وي.**

که يو مسلمان دوامداره او متقن عمل ډېر کوي تر ټولو ښه دی، او که ډېر عمل کوي او استمرار په کې نه وي نو بيا تر دغه ډېر او مقطعي عمل؛ لږ او دوامداره عمل غوره دی، لکه يو مسلمان چې هره شپه د څه وخت لپاره تهجد ته پورته کيږي ډېر غوره دی تر هغه مسلمان چې ټوله شپه په ويښه او د الله په عبادت کې تيروي خو کله کله، نو هغه وخت يو مسلمان ته په رښتيني ډول د نبي کريم۲ د سنتو تابع اسلامي شخصيت ويلی شو چې په نېکو اعمالو کې ئې استمرار وي.

**د- په اولويت او افضليت عمل:** بل مهم صفت چې مسلمان ئې بايد د نبي کريم۲ د سنتو په متابعت کې ولري، په اولويتونو او افضليتونو عمل کول دي، حقيقي مسلمان له فرصتونو د ډېرې ګټې اخيستو په فکر کې

وي، هغه ته وخت او صحت دوه عمده نعمتونه ښکاري چې بايد ترې ډېره ګټه واخلي، رښتينی اسلامي شخصيت په ثانوي امورو کې ځان نه مصروفوي، د الله د دين ډېری احکام داسې دي چې د خلکو د استعدادونو او توان په نسبت مختلف مراتب لري، رښتينی مسلمان خپل ټول توان په کار اچوي ترڅو تر ټولو د لوړې مرتبې عمل ترسره کړي، د بېلګې په توګه د ټولو محاربو کفارو وژل په اسلام کې مطلوب دي خو تر ټولو ښه او افضل عمل د کفارو د امامانو وژل دي، يو رښتينی مسلمان شخصيت خپل ټول توان په کار اچوي تر څو د کفر امامان له منځه يوسي او ځان په وړو اهدافو کې نه مصروفوي، الله فرمايي: **الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا**(الملک۲)- **ترجمه: الله هغه ذات دی چې مرګ او ژوند ئې پيدا کړي چې تاسې وآزمويي کوم يو تر ټولو ډېر ښه عمل کوونکي ياست.**

**هـ-د نېکو اعمالو رشد:** لکه څنګه چې نبوي منهج د اسلام په لومړنيو شاګردانو کې په مرحله ايز ډول د عبادت داسې فضا رامنځته کړه چې د هغو هره ګړی عبادت شوه او د ژوند هرې چارې ئې د عبادت رنګ او خوند واخيست، نن هم بايد هر مسلمان کوښښ وکړي چې خپلو نېکواعمالو ته وده ورکړي او له خپلې هرې لحظې د عبادت اجر ترلاسه کړي، په نېکو اعمالو کې د رسول الله۲ متابعت يو دا دی چې مسلمان په عمل بسيا نشي او د بل نېک عمل په فکر کې وي، خپل

Bawar.net

عمل ورته ستر او ډېر معلوم نه شي، هر وخت ځان ورته پړ ښکاره شي او د بل عمل په لټه کې وي.

هم د خپل عمل په لا ښه کولو کې کوښښ وکړي او په خپل کړيو اعمالو ځان د الله د حق په وړاندې مقصر او ملامت وبولي او استغفار وکړي او د نورو غوره اعمالو کوښښ وکړي، د همدې لپاره تر هر لمانځه وروسته باید استغفار وشي، دا ځکه چې موږ د الله د بندګۍ حق نه شو اداء کولی او باید خپل عمل نیمګړی وګڼو او له الله بښنه وغواړو.

د دې بحث خلاصه دا شوه چې اسلامي شخصیت یا حقیقي مسلمان د عمل په ډګر کې هم د داسې مواصفاتو خاوند دی چې تر نورو خلکو د ده تمیز پرې کیدی شي، رښتینی اسلامي شخصیت په خپلو اعمالو کې مخلص دی او د رسول الله۲ متابعت کوي، د رسول الله۲ د متابعت غوښتنه داده چې دی هر عمل په اعتدال ترسره کوي، پوره او په اتقان ئې سرته رسوي، دوامداره ئې کوي، اولویتونه او افضلیتونه پکې په نظر کې نیسي او د هرې ورځې په تېرېدو خپلو نېکو اعمالو ته نوره وده ورکوي او په خپل تقصیر له الله بښنه غواړي.

Bawar.net

## شپږم بحث

# د اسلامي شخصیت دعوتي او جهادي صفات

یو مسلمان ته هغه وخت حقیقي مسلمان او اسلامي شخصیت ویل کیدی شي چې په خپل ځان کې د ایماني، اخلاقي، علمي او عملي صفاتو په رامنځته کولو سره د خلکو لپاره د هدایت په لاره کې د یوې ډېوې په شان بله شي، خلکو ته د هدایت وسیله وګرځي او په خپل ځان کې راټول شوي ایماني، اخلاقي، علمي او عبادي ښېګڼې او مواصفات د ټولنې د هر غړي په وجود کې د رامنځته کولو لپاره کار پیل کړي، یوازې صالح نه؛ بلکې مصلح ژوند اختیار کړي.

مسلمان ته د ټولنې د اصلاح لپاره د عمل کولو مسؤلیت د دعوت او جهاد په نامه یاد شوی، مسلمان باید داعي او مجاهد شي تر څو په ټولنه کې هم د ځان په شان اصلاح راولي. تر اوسه چې کوم صفات وویل شول هغه که ایماني مواصفات ول، که اخلاقي، که علمي، که عملي او عبادي مواصفات ول ټول د داعي تر شخصیت پورې محدود ول، په دې بحث کې د رښتیني مسلمان او اسلامي شخصیت هغه ممیزات او صفتونه شمېرو؛ کوم چې دی ئې په خپلې ټولنې کې د اصلاح لپاره په ځان کې ولري، لکه څنګه چې له یاد شویو ایماني، اخلاقي، علمي او عملي مواصفاتو پرته یو اسلامي شخصیت نشي جوړېدی، همدارنګه له دعوتي او جهادي مواصفاتو پرته اسلامي شخصیت نشي بشپړېدی، که

Bawar.net

په یو شخص کې ټول پورتني مواصفات موجود وي خو هغه د خپلې ټولنې او نور انسانیت د هدایت لپاره لازم کردار نه اداء کوي او په دې لاره کې په خپل شخصیت کې لازم مواصفات نه رامنځته کوي هغه کامل اسلامي شخصیت نلري.

انسان اجتماعي مخلوق دی او ټولنیز ژوند لري، یوازې د فردي ژوند په اصلاح صالح پاتې کیدی نه شي، که یو ډېر صالح انسان هم په یوې جاهلي ټولنې کې ژوند وکړي او د دې جاهلي ټولنې د سمون او اصلاح په لاره کې خپل رسالت ترسره نه کړي، هغه صالح انسان هم ددې ټولنې رنګ اخلي، که فردي ژوند ئې صالح وي د ټولنیز ژوند برخې ئې حتماً له جاهلي قوانینو او عاداتو سره خلط کیږي، نو ځکه مسلمان باید د خپلې ټولنې د اصلاح فکر او حرکت ولري، چې همدغه فکر او حرکت ته په اسلام کې دعوت او جهاد ویل شوي، یعنی د حق لارې ته د نورو انسانانو رابلل او د دې بلنې په وړاندې د مانع کېدونکو طاغوتانو سره په سر او مال جنګېدلو ته دعوت او جهاد وایي.

دعوت او جهاد نه یوازې د نورو لپاره د هدایت وسائل دي؛ بلکې د مسلمان د بقاء او مسلمان پاتې کیدو لازمي وسائل دي، څومره چې مسلمان په دعوت او جهاد سره د نورو خلکو د اصلاح لپاره کار کوي همغومره د ځان د صالح پاتې کېدو لپاره شرائط برابروي، که دعوت او

Bawar.net

جهاد نه وي د مسلمان لپاره په خپل دين عمل کول ناشونی کيږي او حتی شيطان او ملګري ئې د زمکې پر مخ د الله د عبادت هيڅ ځای ودان نه پريږدي، قرآن فرمايي: **وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا**(الحج ٤٠)- ترجمه: که **الله دفع کړي نه وی ځينې خلک په ځينو نورو(د جهاد په واسطه) وران شوي به ول د اهل کتابو د عبادت ځايونه او مسجدونه چې د الله ډېر ډېر ذکر په کې کيږي.**

نو د ټولنې د اصلاح لپاره او د مسلمانانو د بقاء لپاره اسلام مسلمانانو ته د دعوت او جهاد لاره ښودلې او په مسلمانانو ئې لازمه کړې چې په دې لارې ولاړ شي تر څو نور خلك هدايت او د مسلمانانو د دين حفاظت وشي، ټولنه هغه وخت د صلاح په لور درومي چې هلته د حق لپاره دعوت وشي او د دې دعوت د منکرينو او معاندينو په وړاندې له توري او جهاد کار واخيستل شي، او مسلمانان هلته مسلمان پاتې کيدی شي چې جاهلي ظالمانه کردار او د زمکې پر مخ فرعوني او شيطاني اقتدار له منځه ولاړ شي.

موږ د دعوت او جهاد ذکر په يو ځای ځکه لازم بولو چې دعوت او جهاد يو د بل لپاره لازم او ملزوم دي، هيڅ مجاهد حقيقي مجاهد ندی ترڅو داعي نه وي او هيڅ داعي حقيقي داعي نه دی تر هغه چې مجاهد نه وي، مجاهد هغه وخت مجاهد دی چې په اسلام پوه او اسلام په خپل

Bawar.net

ژوند کې حاکم کړي او نور خلک ورته راوبولوي بیا چې د ده دعوت په وړاندې کوم خلک خنډ جوړیږي له هغو سره جهاد وکړي، او داعي هغه وخت رښتینی داعي دی چې خپله په دین پوه وي او دین ئې په خپل عملي ژوند کې حاکم کړی وي او نور خلک ورته رابولي او کله چې د ده دعوت په وړاندې خنډونه رامنځته کیږي بیا د ځان او مال په قیمت د هغه په وړاندې جهاد ته چمتو وي.

که داعي جهاد ته چمتو نه وي هغه په خپل دعوت کې رښتینی نه دی او که مجاهد داعي نه وي هغه په خپل جهاد کې صادق نه دی، دعوت او جهاد د یوه سپاهي کار دی، په اسلام کې د دعوت لپاره بېل او د جهاد لپار بېل جماعتونه جوړول څه اصل نه لري، مسلمان یو وخت هم په جهاد مکلف دی او هم په دعوت، کوم خلک چې له جهاد پرته دعوت کوي او یا چې له دعوت پرته په جهاد بوخت دي د دین په حقیقي منهج نه دي پوه شوي او د دوی کار له نبوي منهج سره اړخ نه لږوي.

دا چې حقیقي مسلمان او اسلامي شخصیت له دعوت او جهاد پرته حقیقي مسلمان نشي بلل کیدی نو دلته موږ د هغو مهمو صفاتو یادونه کوو چې باید یو مسلمان داعي او مجاهد ئې ولري تر څو حقیقي داعي او مجاهد شي او چې کله داعي او مجاهد شو د اسلامي شخصیت د

Bawar.net

صفاتو وروستۍ مجموعه هم په ده کې رامنځته شوه او په دې سره د هغه د اسلامي شخصيت مهم ارکان پوره شول.

البته د دعوت او جهاد فريضې چې څومره مهمې او سترې فريضې دي په هماغې کچې په مسلمان کې د لوړو صفاتو او معيارونو غوښتونکي دي، دا چې يو مسلمان ته حقيقي داعي او مجاهد وويل شي هغه ته د سلګونو داسې مواصفاتو درلودل ضروري دي چې د دعوت او جهاد حقيقت په کې رامنځته کړي، موږ دلته يوازې د هغو مهمو او اساسي صفاتو يادونه کوو چې د دعوت او جهاد په ډګر کې د بنسټ او اساس حيثيت لري او دا مواصفات کولی شي په داعي او مجاهد کې د دعوت او جهاد لپاره نور صفات هم رامنځته کړي.

دا مهم صفات عبارت دي له:

**۱- لوړ تربيت:** د دعوت او جهاد لپاره بايد په يو رښتيني مسلمان او اسلامي شخصيت کې د پورتنيو ذکر شويو ايماني، اخلاقي، علمي او عملي صفاتو لوړ معيارونه موجود وي، يو داعي او مجاهد هغه وخت دعوت او جهاد کولی شي چې خپله د خپلې داعيې رښتينی مثال وي، د هغه ژوند او کردار خلکو ته د هغه دعوت او فکر وړاندې کړی شي، د هغه ايمان، اخلاق، پوهه او عمل د خلکو لپاره عملي نمونه وي، هغه خلک تشو الفاظو او خيالي نظرياتو ته دعوت نه کړي، بلکې خلک يو

Bawar.net

داسې خوځند او متحرك فکر ته دعوت کړي چې تر ټولو زيات خپله د هغه فکر په غوښتنو عمل کوونکی او ملتزم وي.

نبی کريم۲ د يو داعي او مجاهد ټولګي د رامنځته کولو او تربيت لپار پوره درويشت کاله زحمت او تکليف وګاله ترڅو د ايمان، اخلاقو، پوهې او التزام داسې نمونې ئې تربيه کړې چې بيا د دعوت په ساحه کې د هغو خپل شخصيتونه او اعمال د خلکو لپاره دعوت وو، دوی خلکو ته ډېر څه نه ويل يوازې لنډ پيغام ئې درلود: **کونوا مثلنا- ترجمه: زموږ په شان شئ.** هغوی د خپل دعوت لپاره د کلماتو د جوړولو او احساساتو د راپارولو ضرورت نه ليده، دعوت ئې د عملي ګامونو پورته کول وو چې دوی خپله ورته ښه مثالونه ګرځيدلي ول او د خپل فکر، عقيدې او دعوت لپاره تمثيل شوې نمونې وې.

د نبی کريم۲ په مبارکو لاسونو تربيه شوی نسل د ټول انسانيت لپاره تر نن ورځې ځکه د مثال حثيت لري چې هغوی د خپل دعوت صداقت په خپل عملي ژوند کې خلکو ته ښودلی وو او ځکه په ډېر کم وخت کې د نړی ستر، ستر مادي ځواکونه د دغه عملي اصلاحي تحريك په وړاندې په ګونډو شول.

ډېر عقايد او نظريات د کتابونو له پاڼو او د افرادو له کوپړيو د انساني ټولنې حقيقتونو ته نه دي ښکته شوي او نه هم د انساني ټولنې عملي

Bawar.net

قیادت او سیادت ئې ترلاسه کړي، د افلاطون مدینه فاضله تر اوسه د فلاسفه وو په بحثونو کې څېړل کیږي خو حقیقت ئې په هېڅ انساني ټولنه کې رامنځته نه شو، دا ځکه چې د دې نظریاتو او عقایدو لپاره انساني بېلګې او نمونې نه دي روزل شوي او د دې افکارو طرح کوونکي د دې دعوت رښتینولي په خپل عملي ژوندانه کې خلکو ته نه دي ښودلي، خو د نبوي دعوت لپاره له جاهلي ختو په اسلامي بتې کې داسې خښتې جوړې شوې چې تر ننه د اسلام ځلی پرې دنګ ولاړ دی او د هېڅ زماني جاهلي دوړو ئې رڼا نه ده تته کړې.

له دې ځایه ویلی شو چې لومړی صفت د یو مجاهد داعي لپاره د خپل دعوت عملي تمثیل دی چې دې ته اسلامي تربیت وایي، یعنې په خپلې عقیدې، اخلاقي معیارونو، پوهې داسې ملتزم عمل کول چې د نورو خلکو لپاره مثال وي او په عملي ډول خلکو ته د دعوت ښېګڼې په ګوته کړي، د داعي او مجاهد په شخصیت کې لوړ ایمان، ښایسته اخلاق، صداقت، اخلاص، تقوی، تزکیه او دائمي عبادت له ورایه ښکاري او د ده د جهاد او دعوت صداقت ثابتوي، هېڅ منافق صفته، بداخلاقه او بې تقوی انسان د دعوت او جهاد دعوی نشي کولی، او که دعوی وکړي نو هغه په خپلې دعوی کې رښتینی نه بلل کیږي، د ده دعوت او جهاد په دنیا کې څه نتیجه نه لري او په آخرت کې ئې کوم درد نشي دوا کولی.

Bawar.net

**۲- فقاهت:** دوهم صفت چې د اسلامي شخصیت د دعوتي او جهادي صفاتو په سلسله کې ئې باید داعي او مجاهد ولري، فقاهت او پوهه ده، البته د عامې پوهې په هکله پخوا په مستقل بحث کې مطالب بیان شوي دلته د دعوت او جهاد فقه مطلوب ده، یوازې د دین په احکامو صحیح او دقیق فهم د دعوت او جهاد لپاره کافي پوهه نه ده، د دعوت او جهاد لپاره د دین له صحیح او دقیق فهم علاوه د دعوت او جهاد پوهه او فقاهت هم لازمي او ضروري دی، داعي او مجاهد باید د دعوت او جهاد په اولویتونو، حکمتونو او طریقو پوه شي، بصیرت او فراست ولري، له خپلې ټولنې او خلکو دقیق پېژندګلوي ولري، د خلکو سره د اختلاط او تعامل په لارو چارو پوه شي، ځان ته د دعوت او جهاد د برنامې جوړولو اهلیت ولري، د دعوت او جهاد لپاره وسائل ترلاسه کړی شي، او په دې لاره کې د تل لپاره د اعداد او استعداد ظرفیت ولري، یعنې هغه تل په دې کوښښ کې وي چې څنګه له ځان یو مؤثر داعي او مجاهد جوړ کړي، د هغه په فکر، ژبه، قلم، مټ او هر غړي کې د دعوت او جهاد لپاره د استعدادونو لویې ذخیرې جوړې شوې وي، او دی وشي کولی د ژوند له ټولو فرصتونو د دعوت او جهاد په لاره کې کار واخلي، که د یوسف علیه السلام په شان له ده سره د خوب د تعبیرونو استعداد وي او د یو زندان په کونج کې پروت وي بیا هم هغه

Bawar.net

وشي کولی له دې استعداد او دې شرائطو د خپل دعوت لپاره کار واخلي او خلک د یوه الله عبادت ته وبولي.

نو له عامې پوهې سره د دعوت او جهاد لپاره د فقاهت ترلاسه کولو صفت د ربښتیني داعي او مجاهد بل صفت دی چې باید په ربښتیني مسلمان او اسلامي شخصیت کې شته وي، اسلامي شخصیت له دعوت او جهاد پرته نشي پوره کیدی او دعوت او جهاد د دې غوښتونکی دی چې داعي او مجاهد د دعوت او جهاد فقه او مهارت ترلاسه کړي.

**۳- له دعوت او جهاد سره مینه:** دریم صفت چې باید په یو داعي او مجاهد کې وي هغه له دعوت او جهاد سره بې کچې مینه، تحرک، نشاط او قرباني ته چمتووالی دی، جهاد پر قناعت برسېره مینه او محبت غواړي، یوازې قناعت نشي کولی د دعوت او جهاد مشکلاتو ګاللو ته خوک تیار کړي، هغه خلک د دعوت او جهاد تکالیف ګاللی شي چې په زړه کې ئې له جهاد سره بې کچې مینه وي، شهید دکتور عبدالله عزام رحمه الله وایي: له جهاد سره کمه مینه باید دومره وي چې یو کس ئې له خپل مور، پلار، ښځې، مال او بچیانو سره لري.

که له جهاد سره مینه او محبت نه وي او یا نسبت دوستانو او دنیوي مالونو ته دا مینه کمه وي مسلمان نشي کولی د دعوت او جهاد په لاره کې خروج وکړي او خپل محبوب شیانو لکه(مور، پلار، ښځه، مال او

Bawar.net

اولاد) د هغه لپاره پرېږدي، قرآن د دې مينې يادونه کوي او فرمايي: **قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ**(التوبه۲۴)- **ترجمه: ووايه که ستاسو پلرونه، زامن، ورونه، ښځې، ټبر، مالونه چې ترلاسه کړې مو دي، تجارتونه چې له تاوان ئې ويره لرئ او قصرونه چې ترې راضي ياست؛ پر تاسو گران وي تر الله، د هغه تر رسول او د الله په لاره کې تر جهاد، نو انتظار وکړئ چې د الله فيصله مو په هکله وشي او الله فاسق قوم ته هدايت نه کوي.** له دې آيت په ښکاره ډول څرگندېږي چې تر دې ټولو شيانو بايد له جهاد سره مينه ډېره وي.

کله هم چې مسلمان له دعوت او جهاد سره مينه پيدا کړي بيا په هغه کې تحرک او نشاط پيدا کېږي، هغه آرام او راحت پرېږدي او د الله ﷻ د لارې له ستړيا خوند اخلي، د هغه جسم د روح په واک کې شي او د جسم تنعم د روح په خوشحاليو کې فنا شي، د روح تنده دومره غلبه وکړي چې د جسم تنده او لوږه هېره کړي، د قرباني احساس پياوړی شي، عزم ټينګ شي او له مشکلاتو وېره ورکه شي، له دعوت او جهاد سره مينه په مسلمان کې خواهشات او غوښتنې و ټکوي او د آخرت فکر ژوندی کړي، بيا مسلمان نه ماته پېژني او نه هم ستړيا او يأس، بيا داسې داعي او مجاهد چې له خپل دعوتي او جهادي سنگر سره مينه

Bawar.net

لري هر څه د الله لپاره او د آخرت په فکر ترسره کوي، د دنيا نتائج ورته کم او واړه ښکاري که ترلاسه شول ښه او که ترلاسه نشول هغه د آخرت په هيله پر مخ درومي.

خلاصه دا چې يو رښتيني داعي او مجاهد له جهاد سره د زړه له کومې مينه لري، متحرك او نشيط وي، قربانيو ته چمتو وي، د آخرت فکر ورسره وي او د دنيا نتائجو باندې حساب نه کوي، له سختيو او مشکلاتو وېره نه لري او د خپلې محبوبې لارې په تلو کې د هر څه منلو ته تيار وي، هغه خپلې ټولې شخصي ګټې د دې لارې له مصالحو قربانوي او د ځان لپاره هيڅ نه غواړي هر څه چې غواړي د خپل فکر او عقيدې لپاره ئې غواړي.

**۴- صبر او استقامت:** د داعي او مجاهد څلورم مهم صفت چې له ده رښتيني داعي او مجاهد جوړوي او د ده اسلامي شخصيت تکميلوي، صبر او ثبات دی، کوم خلك چې د دعوت او جهاد په لاره کې د تکليفونو ګاللو ته نه وي تيار؛ هيڅکله هم داعي او مجاهد نشي جوړېدی، د دعوت او جهاد په لاره کې ازميښتونه او مشکلات او بيا په دې مشکلاتو صبر کول لازمي دي، قرآن په وار وار دا حقيقت بيانوي، او له جهاد سره د صبر يادونه هم کوي: **وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ**(محمد ۳۱)- **ترجمه: او حتماً به تاسې ازميښت کوو تر څو په تاسو کې مجاهدين او صبر کوونکي څرګند کړو او ستاسو**

Bawar.net

احوال معلوم کړو. په بل آیت کې فرمایي: **أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ**(ال عمران۱۴۲)- **ترجمه: ایا تاسې ګمان کوئ چې تاسې به جنت ته داخل شئ او الله به نه معلوموي ستا مجاهدین او صابران.** یعنې د مجاهد او صابر له تمیز وروسته کله چې خبیث خلک له پاکو خلکو بېل شي د دنیا او آخرت د کامیابۍ فیصله کېږي او تر دې به ازمېښتونه دوام لري.

د کمزوري عزم خاوندان، د ستونزو په وړاندې جزع او فزع کوونکي خلک، زړه تنګي او په الله د غلطو ګمانونو خاوندان چې هرې ستونزې ته د هلاکت په سترګه ګوري او د انسانانو له خوا پېښه شوې ستونزه ورته د الله عذاب ښکاري؛ هیڅکله هم د جهاد او دعوت په لاره کې پرمخ نشي تللی، داعي او مجاهد باید د کلک عزم او تحمل خاوند وي، په دې یقین ولري چې صبر د ده مقام لوړوي او د ده اجر ډېروي، صبر ده ته په دنیا کې هم نتائج او د الله نصرت راولي او په آخرت کې هم د نجات وسیله ګرځي.

د صبر په هکله د قرآن آیتونه، احادیث او بیا خپله د رسول الله۲ مبارک ژوند د هر مسلمان داعي او مجاهد لپاره ښه قدوه او نمونه ده، څوک چې د نبي کریم۲ له سیرت خبر وي په دې پوهېږي چې د دې لارې ستونزې حتمي او صبر ئې یوازینی چاره ده، داعي او مجاهد نه یوازې خپله صبر کوي بلکې د نجات لاره او له تاوان د خلاصون یوازینی

Bawar.net

وسیله ئې دا ده چې خپلو نورو ملګرو ته هم د صبر او ثبات توصیه وکړي، په دې هلکه قرآن فرمايي: وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ(العصر۳)- یعنی هغه خلک له تاوان خلاصیږي چې له ایمان او نېکو عملونو وروسته یو بل ته په حق دعوت کوي او د دعوت په دې لاره کې چې کوم ازمېښتونه راځي په هغو یو بل صبر ته رابولي.

**۵- شجاعت او مېړانه:** پنځم صفت چې له یو داعي او مجاهد سره لازمي بلل کیږي؛ شجاعت او مېړانه ده، د صبر معنی جبن او ډار نه دی چې د ستونزو په وړاندې به داعي او مجاهد د صبر په نامه له جهاد او دعوت لاس اخلي او یوازې ځان به ساتي بلکې د دې خبرې برعکس صبر دا ده چې داعي له ستونزو سره سره د وړاندې تلو همت له لاسه ورنکړي او په دې ستونزو صبر وکړي، له صبر سره شجاعت او مېړانه ضرور ده، او همدا شجاعت ده چې د دعوت او جهاد په ټولو ستونزو کې مسلمان ته د پر مخ تللو همت او جرأت ورکوي، داسې شجاعت چې که داعي او مجاهد کومه ورځ د جګړې او مبارزې په ډګر کې یوازې هم پاتې شو، د جبن او ډار احساس ونکړي بلکې په خپل رب د پوره توکل او باور سره په دې حالت صبر وکړي او له پوره مېړانې سره پر مخ ولاړ شي، هر څه د خپل رب له لوري وګڼي او یوازې خپل رب ته پناه یوسي او هغه د ځان لپاره کافي وبولي.

Bawar.net

داعي او مجاهد باید د روحي آرمتیا خاوند وي، هره فیصله د رب فیصله وګڼي او پر خپل رب نېک ګمان ولري، عقیده ئې دا وي چې الله ﷻ خپل دعوتګر او مجاهد بندګان نه ضایع کوي، د دعوت او جهاد په لاره کې هر مشکل ورته اجر او د آخرت ذخیره معلومه شي، او په پوره صبر او مېړانې پر مخ ولاړ شي، د دښمن د تبلیغاتو تر اثر لاندې رانشي او چې کله واوري: **الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ**(ال عمران۱۷۳)- **ترجمه:هغه کسان چې کله ورته خلک ووایي ستاسو په خلاف ډېر خلک راټول شوي له هغو وېره وکړئ، نو د دوی ایمان زیات شي او وایي زموږ لپاره الله کافي دی او هغه تر ټولو ښه مولا او کارجوړوونکی دی.**

او په دې هم پوهېدل په کار دي چې شجاعت د تهور په معنی نه ده او هېڅکله د شجاعت غوښتنه بې احتیاطي نه وي، شجاعت په هر حالت کې له جهاد او دعوت مخ نه اړولو ته وایي، او احتیاط په پوره فکر او سوچ قدم اخیستلو ته وایي، شجاعت او احتیاط د یو بل منافي او ضد نه، بلکې یو د بل ملګري او مرستندوی دي، همداسې چې مسلمان په شجاعت مکلف دی په احتیاط هم مکلف شوی، هر داعي او مجاهد د مېړانې ترڅنګ باید محتاط وي، دا احتیاط فقط د ځان ساتلو په هدف او فکر نه، بلکې د الله ﷻ د یو امر په ځای کولو لپاره وي، ځکه قرآن حکم کوي: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا**

Bawar.net

جَمِيعًا(النساء۷۱)- ترجمه:اې ایمان لرونکو! خپل احتیاط وکړئ او ووځئ(د الله په لاره کې) ډلې ډلې او یا ټول.

د دې ټولو صفاتو ښه بېلګه د نبي کریم۲ شخصیت دی چې الله ﷻ امت ته د نمونې په توګه معرفي کړی، د نبی کریم۲ شجاعت د جګړې په میدانونو کې حتی په هغه وخت کې چې د احد او حنین په ډګرونو کې یوازې پاتې وو؛ د هر داعي او مجاهد لپاره ښه بېلګه ده، یو ځل د شپې مهال په مدینه کې د یو دروند غږ له اورېدو سره راوتلي صحابه له نبي کریم۲ سره په داسې حال کې مخ شول چې په لوڅ آس سپور او د غږ له لوري په بیرته راګرځېدو کې وو او خلکو ته ئې د امنیت ډاډ ورکاوه، د داسې شجاعت ترڅنګ هغه۲ خپلو ټولو غزواتو کې په عملي ډول د احتیاط او تدبیر ښکاره نمونې خپل امت ته ښودلي.

۶- **په اسلام اعتزاز:** شپږم صفت چې د یو داعي او مجاهد لپاره ضرور دی تر څو له ده رښتینی داعي او مجاهد جوړ کړي؛ په اسلام د اعتزاز احساس او فکر دی، د یو فکر او عقیدې لپاره هغه وخت دعوت کیدی شي او قرباني ورکول کیدی شي چې ستا د بدن هرې حجرې ته ننوتی وي او ته پرې د افتخار او عزت احساس وکړې، اسلام له مسلمان داسې فکر غواړي چې هغه په هر څه کې له خپل شخصي ژوند بیا تر ټولنیز او اداري نظام یوازې پر اسلام باور ولري، او یوازې اسلام د انساني ټولنې د سعادت لار او دستور وبولي، د جاهلیت له ټولو مظاهرو او

Bawar.net

اصولو سره داسې مقاطعه وکړي چې د يوه وېښته په اندازه د هغه په لور تلل ورته د دنيا او آخرت هلاکت ښکاره شي، او برعکس د اسلام په هر حکم عمل ورته د دنيا او آخرت سعادت او کاميابي ښکاري او په خپلې دغې عقيدې د عزت احساس وکړي.

کوم خلک چې په اسلامي احکامو، اخلاقو، نظامونو د سعادت د يوازينۍ لارې په توګه باور نه لري او يا که باور لري د باطل خلکو له شرم پرې عمل نشي کولی او پر اسلام د افتخار او اعتزاز احساس له ځان سره نه لري او په دې عقيده نه دي چې يو مسلمان له ټولې جاهلي ټولنې او د هغې له ټولو مظاهرو قدرمن دی؛ داسې خلک د اسلام لپاره دعوت او جهاد نشي کولی او کله هم مجاهدين او داعيان نشي جوړيدی.

دا بايد د مسلمان عقيده وي چې عزت يوازې له الله سره دی او خپل رښتينو بندګانو ته ئې ورکوي، قرآن فرمايي: **أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا**(النساء۱۳۹)- **ترجمه:آيا دوی له کفارو سره عزت لټوي، حقيقت دا دی چې عزت ټول له الله سره دی.** همدارنګه قرآن د مسلمان داعي او مجاهد د دې صفت په هکله فرمايي: **أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ**(المائده۵۴)- **ترجمه:د کفارو په وړاندې سرلوړی او عزتمن دی، د الله په لاره کې جهاد کوي.** نو عزت د مسلمان برخه ده او مسلمان هغه وخت د خپل فکر او عقيدې داعي او مجاهد جوړيدی شي چې په اسلام د

Bawar.net

عزت احساس وکړي، او د ځان په وړاندې ټول جاهلي نظامونه او ټولنې ذلیل او خوار وبولي.

د اسلام لپاره داعي او مجاهد د جاهلیت په وړاندې دفاعي حالت نه لري چې ټوله ورځ فکر وکړي؛ څنګه له اسلامي منهج او قانون دفاع وکړم، بلکې هغه تعرضي حالت لري او په دې باور دی چې د اسلام په منهج، قانون او منطق څوک اعتراض نشي کولی او که څوک اعتراض کوي د هغه ړانده د اعتراض حکم لري چې لمر نشي لیدی او داسې اعتراض د ځواب ورکولو ارزښت نه لري، نو ځکه مسلمان د دغو ړندو د اعتراضاتو په وړاندې دفاعي حالت نه غوره کوي؛ بلکې مسلمان داعي او مجاهد د جاهلیت په دود او دستور، د جاهلیت په اخلاق او نظام، د جاهلیت په ټولنه او افرادو تعرض کوي او د هغو حقیقت خلکو ته ښایي او د شیطان په غولوونکو جامو کې پټ شوی جاهلیت له خپلې اصلي څېرې سره خلکو ته معرفي کوي، او په دې د عزت احساس کوي چې الله ده ته له جاهلیت پناه ورکړې.

**۷- د اسلام منفعت مقدم شمېرل:** بل مهم صفت د یو داعي او مجاهد لپاره د اسلام منفعت تر هر څه مقدم ګڼل دي، د دعوت او جهاد په اغزنې لارې یوازې هغه کسان تلی شي چې تر هرڅه خپل رسالت ته ډېر اهمیت ورکوي، هغه خلک چې ځان غوښتنه لري، مزاجي او

Bawar.net

طبعيتي خلک دي، د خپلو غوښتنو پرېښودو ته چمتو نه دي، خپل ځان او د ځان پالل ورته هدف وي، مزاج پاله خلک دي او غواړي هم د دين کار پرمخ ولاړ شي او هم د دوی، داسې خلک د دې لارې سپاهيان نه شي کيدی، دوی د دعوت او جهاد ستونزې نشي زغملی، که چېرې داسې خلک په دې لاره روان هم شي ثابت نشي پاتې کيدی، ځکه دوی د ځان پالنې په مصيبت اخته دي، په داسې حال کې چې د دعوت او جهاد لاره اغزنه ده او مسلمان بايد له خپل هر څه تېر شي تر څو د اسلام خدمت وکړي.

قرآن او د نبی کريم۲ احاديث د هغو خلکو پوره بيان کړی چې دوی ته ځان او د ځان منفعتونه تر عقيدې او دين مقدم دي، که ورته منفعت وو نو د دين په لاره روان وي او که د ده منفعت د دين له منفعت سره په ټکر کې شو او يا د دين لپاره کوم ازميښت سره مخ شو بيا له دين مخ اړوي او ستونزه په ځان نه مني، قرآن کريم فرمايي: **وَمِنَ النَّاسِ مَن يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ۖ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ ۖ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ(الحج۱۱)- ترجمه:او ځينې خلک د الله عبادت په يوې شکمنې خبرې کوي که ورته خير ورسېد نو مطئن شي او که په کومې فتنې اخته شو بيا مخ واړوي، په دنيا او آخرت کې ئې تاوان وکړ او دا ډېر ښکاره تاوان دی.**

Bawar.net

**۸- له خپلو تحریکي ورونو سره خاص اخلاقي چلند:** د اخلاقو په بحث کې د اسلامي شخصیت د اخلاقي صفاتو بیان وشو، او دا هم وویل شول چې د مسلمان اخلاقي حدود حتی له حیواناتو سره په تعامل کې هم ټاکل شوي او مسلمان مکلف دی دا ټول حدود مراعات کړي، د تأکید په عنوان دلته د ځینو اخلاقي معیارونو یوازې یادونه کوو چې یو مسلمان داعي او مجاهد مکلف دی د خپل سنګر له ورورنو سره په دې معیارونو او اصولو چلند ولري، که داسې نه وي بیا د اسلامي صف او تحریک شتون له ګواښ سره مخ کیږي، د نبي کریم۲ په وخت کې له دې اخلاقي حدود لږه سرغړونه هم نه ده منل شوې او هغه ته د جاهلیت نوم ورکړل شوی، کله چې ابوذر رضي الله عنه، بلال رضي الله عنه ته تیزه خبره وکړه؛ نبي کریم۲ ورته وویل په تا کې د جاهلیت صفت دی او هغه هم له دې صفت د خلاصون لپاره سم له لاسه سر په زمکې کېښود او بلال رضي الله عنه ته ئې وویل تر هغه مې سر نه پورته کوم چې ته پرې خپله پښه کېنږدې.

داعي او مجاهد په اسلامي تحریک کې باید د نورو ملګرو په وړاندې رحیم وي، قرآن فرمایي: رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ(الفتح۲۹)- **ترجمه: په خپلو کې رحیم او نرم زړي دي.** همدارنګه داعي او مجاهد د نبي کریم۲ په متابعت خپلو ملګرو ته د خیر او هدایت په رسولو کې حریص وي لکه چې قرآن د نبي کریم۲ دا صفت بیانوي: **حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ**

Bawar.net

رَّحِيمٌ(التوبه۱۲۸)- ترجمه: په تاسو حريص دی او په مؤمنانو روف او مهربانه. د داعي او مجاهد زړه بل مسلمان ورور سره له حسد او کينې پاک وي، ضمره بن ثعلبه روايت کوي چې نبي کريم۲فرمايلي: لا يزال الناس بخير ما لم يتحاسدوا(الصحيح الترغيب و الترهيب)- ترجمه: خلک به تل په خير وي تر هغه چې يو له بل سره حسد نه کوي. په خپل مسلمان ورور نېک ګمان او اعتماد ولري، د خپل مسلمان ورور غيبت و نه کړي، بهتان ورپورې و نه تړي، د عيبونو پلټنه ئې ونکړي، چغلي ونکړي، الله فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضاً (الحجرات۱۲)- ترجمه:اې د ايمان خاوندانو! له ډېرو ګمانونو ځان وساتئ، ځيني ګمانونه ګناه وي، تجسس مه کوئ او يو د بل غيبت مه کوئ. دا ټول هغه بد صفات دي چې اسلامي صف له ماتې او تفرقې سره مخ کوي او له دې بدو اخلاقو د خلاصون لپاره قرآن د حجراتو مستقل سورت نازل کړی.

د بل مسلمان سره د اختلاف او کرکې لاره و نه نيسي، برعکس له هغه سره مينه او محبت ولري او نورو مسلمانانو سره د يوه وجود په شان ژوند وکړي، نبي کريم۲ فرمايي: مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ، وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى(امام نووي له نعمان ابن بشير روايت کری)- ترجمه: مثال د مؤمنانو له يو بل سره

Bawar.net

په محبت، ترحم او عاطفې کې په شان د یو بدن دی چې کله ئې یو غړی په درد شي ټول بدن ورسره په بې خوبۍ او تبې شریک شي.

داعي او مجاهد په اسلامي ټولنه کې د هر مسلمان ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره ئې خوښوي، نبي کریم۲ فرمايي: **لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه**(بخاری له انس روایت کړی)- **ترجمه:مؤمن کیدی نشي هیڅ یو ستاسې تر څو د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چې د ځان لپاره ئې خوښوي.** یو بل ته خیر خواهي ولري، رسول الله۲ فرمايي: **الدين النصيحة قلنا: لمن؟ قال: لله ولكتابه ولرسوله ولأئمة المسلمين وعامتهم**(امام مسلم له تمیم داري روایت کړی)- **ترجمه: دین ټول خیرغوښتنه ده، موږ وپوښتل د چا لپاره؟ هغه وفرمایل: د الله لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانانو د امامانو لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره.** یو د بل په وړاندې ایثار او قرباني ولري، الله فرمايي: **وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ**(الحشر۹)-ترجمه: **او ایثار کوي له خپلو برخو اگر که دوی خپله ورته حاجت لري.** د خیر په کارونو کې له خپلو مسلمانو ورونو سره مرسته وکړي، الله فرمايي: **وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ**(المائده۲)- **ترجمه: او مرسته وکړئ یو له بل سره په نېک کارونو او تقوی کې.**

خلاصه دا چې یو داعي او مجاهد په اسلامي ټولنه او جماعت کې د خپلو نورو ورونو په وړاندې رحیم، د خیر په لوري حریص، له حسد او کینې پاک، مینه ناک، نېک ګمانه، له غیبت بهتان عیب پلټنې او چغلي

Bawar.net

ځان ساتونکی، د یو تن او جسد په شان، د هر خیر په کار کې مرستندوی، بل مسلمان ورور ته د هغه څه خوښوونکی چې ځان ته ئې خوښوي، خیر غوښتونکی او بل ورور ته له خپلې برخې تېرېدونکی او ایثار کوونکی وي، دا صفات د هر داعي او مجاهد لپاره حتمي دي او دا صفات ئې د دعوتي او جهادي شخصیت په کمال کې محوري حیثیت لري.

**۹- نظم او اطاعت:** دعوت او جهاد یو دعوتي او جهادي صف او تحریک ته ضرورت لري، په اسلامي جماعت او تحریک کې اوسېدل د دعوت او جهاد لپاره لازمي دي، کله چې مسلمان په اسلامي تحریک او جماعت کې ژوند کوي باید منظم او مطیع ژوند وکړي، د تحریکي او تنظیمي ژوند غوښتنه نظم او اطاعت دی، له نظم او اطاعت پرته اسلامي تحریک خپلو اهدافو ته نشي رسیدی، د اسلامي تحریک هر داعي او مجاهد غړی باید د نظم او اطاعت یوه بېلګه وي، اسلام چې څومره د نظم او اطاعت په هکله تأکید کړی د تنظیمي ژوند په هیڅ اصل ئې دومره تأکید نه دی کړی او دا ځکه چې د نظم له مراعاتولو او اطاعت پرته اسلامي تحریک په خپل حال نشي پاتې کیدی، په لسګونو آیتونه او احادیث د دې خبرې امر کوي چې مسلمان باید د اسلامي جماعت په منځ کې منظم او مطیع ژوند وکړي.

Bawar.net

قرآن فرمایی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنكُمْ(النساء۵۹)- ترجمه:اې د ایمان خاوندانو! د الله اطاعت وکړئ او د هغه د رسول۲ او خپلو امیرانو اطاعت وکړئ. همدارنګه نبي کریم۲ فرمايي: اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنْ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ(بخاري روایت کړی)- ترجمه: واورئ او اطاعت وکړئ اګر که پر تاسو مقرر شي یو حبشي غلام چې سر ئې د ممیز په شان وي.

**۱۰- شوری تـه التزام:** شوری د اسلام په ټولنيز نظام کې اصل دی، ان شاءالله په راتلونکي فصل کې په دې اصل پوره بحث کيږي، دلته د مسلمان داعي او مجاهد د یوه صفت په توګه یوازې یادونه کوو چې دې اصل ته هر داعي او مجاهد پوره التزام ولري او دا التزام د ده له صفاتو څخه وي، قرآن فرمايي: **وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ**(الشوری۳۸)- **ترجمه: او د دوی کارونه په خپلو کې په شوری ترسره کيږي.** په بل ځای کې رسول الله۲ ته امر کوي: **وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ**(ال عمران۱۵۹)- **ترجمه: او له دوی سره مشوره وکړه په کارونو کې.**

کله چې د وحيې په سيوري کې مزل کوونکي نبي۲ ته الله د شوری حکم کوي نو په ډاګه معلوميږي چې د اسلام په خدمت کې داعيان او مجاهدين بايد خپل امور د شوری او مشورې له مخې پر مخ بوسي او هر یو ځان مکلف وبولي چې په کارونو کې مشوره وکړي.

Bawar.net

موږ په اسلامي شخصيت او يو رښتيني مسلمان بحث کوو، او ويلي مو دي چې مسلمان هله واقعي مسلمان او اسلامي شخصيت جوړيدی شي چې داعي او مجاهد وي او داعي او مجاهد هغه وخت جوړيږي چې دا پورتني صفتونه پکې موجود شي، نو کله چې اسلامي شخصيت له دعوت او جهاد پرته نشي پوره کيدی او له دې صفتونو پرته څوک داعي او مجاهد نشي جوړيدی نو ويلی شو چې په دې بحث کې هم پورتني ذکر شوي صفات د هر مسلمان لپاره ضرور او د هغه د اسلامي شخصيت له اساساتو شمېرل کيږي، چې په نشتون کې ئې اسلامي شخصيت نيمګړی وي.

## د فصل خلاصه

اسلامي شخصيت د اسلامي ټولنې او اسلامي حاکميت په لاره کې لومړی واحد دی چې ترې مسلمانه کورنۍ، اسلامي ټولنه او جماعت او بلاخره اسلامي نظام او حاکميت جوړيږي، اسلامي شخصيت د هغې پخې خښتې حيثيت لري چې د اسلامي ټولنې او نظام بنياد او تعمير پرې جوړيږي او د اسلامي شخصيت روزنه په حقيقت کې د هغو خښتو پخول دي چې وروسته ترې اسلامي ټولنه او نظام جوړيږي، د اسلامي شخصيت تعمير په حقيقت کې د اسلامي ټولنې د تعمير لومړی ګام دی

Bawar.net

چې اخیستل ئې حتمي وي، په بل تعبیر ویلی شو د اسلامي خلافت تعمیر د اسلامي شخصیت له تعمیر پیلیږي.

د مسلماني کورنی او اسلامي ټولنې د جوړېدو د دغه واحد(اسلامي شخصیت) تعمیر تر هر څه مقدم دی، او باید د مسلماني کورنی او اسلامي ټولنې او نظام د جوړولو لپاره لومړی اسلامي شخصیت تعمیر شي، د اسلامي شخصیت تعمیر په هغو اصولو او منهج ممکن دی چې د الله استازي نبي کریم۲ په عملي ډول د یو بې ساري نسل په روزلو موږ ته راښودلي، هغه نسل چې د لوړ ایمان، ښایسته اخلاقو، صحیح او دقیق فهم او پوهې، پوره التزام او تقوی لروونکي رښتیني داعیان او مجاهدین ول او انساني تاریخ ئې مثال نشي وړاندې کولی، نن هم که څوک د اسلامي شخصیت د تعمیر او جوړولو هوډ لري یوازینی لاره ئې همدا ده چې په عملي ډول له هغه منهج متابعت وکړي چې رسول الله۲ موږ ته په میراث پریښی.

موږ د اسلامي شخصیت د تعمیر او تشخیص عمده او مهم معیارونه په پورتنیو بحثونو کې بیان کړل او دا په داسې حال کې چې اسلامي امت نه یوازې له اسلامي خلافت محروم شوی بلکې د اسلامي شخصیت له پوره فقر سره هم مخ دی، په امت کې د داسې خلکو شتون له پوره کموالي سره مخ دی چې په هغو کې د اسلامي شخصیت مهم اساسات

Bawar.net

وموندل شي، موږ دا بحث په همدې هدف مطرح کړ چې د اسلام داعیان او مربیان تر هرڅه وړاندې د اسلامي شخصیت د تعمیر فکر وکړي او په شته مسلمانانو کې ربښتیني اسلامي شخصیتونه و پېژندل شي، تر څو همدا پخې خښتې(روزل شوي اسلامي شخصیتونه) د اسلامي جماعت او اسلامي خلافت د تعمیر لپاره استعمال شي.

د ربښتیني مسلمان شخصیت لپاره د سلګونو ایماني، اخلاقي، علمي، عبادي، دعوتي او جهادي صفاتو درلودل ضروري دي چې د هغه تشخیص او تمیز پرې کیدی شي، موږ دلته یوازې په پنځو عنوانونو کې هغه عمده او مهم صفات بیان کړل چې په هر مسلمان شخصیت کې ئې موجودیت حتمي او ضروري دي، له همدې معیارونو سره یو مسلمان ته ربښتینی مسلمان ویل کیدی شي او له دې پرته مسلمان نیمګړی وي.

که موږ د ربښتیني شخصیت د تعمیر او تربیې لپاره فکر کوو نو په دې پوهېدل په کار دي چې یوازې د پورتنیو مواصفاتو په روزلو موږ مسلمان شخصیت روزلی شو او بس، او که موږ د اسلام په حدودو کې د کوم شخصیت څېړنه کوو او حقیقت ئې مطالعه کوو باید د همدې مواصفاتو او معیارونو په رڼا کې ئې مطالعه کړو، هر څومره چې په یو مسلمان کې پورتني ذکر شوي مواصفات ډېر وي په همغې کچې هغه ته د اسلامي شخیصت ویل صحیح خطاب دی.

Bawar.net

# دوهم فصل

## مسلمانه کورنۍ (په کورنۍ کې د اسلام حقیقت)

- د مسلمانې کورنۍ پېژندنه
- د مسلمانې کورنۍ غړي یا افراد
- د مسلمانې کورنۍ د غړیو ترمنځ اړیکې
- د مسلمانې کورنۍ ماحول او چاپېریال
- د مسلمانې کورنۍ اړیکې له نورو کورنیو سره
- د مسلمانې کورنۍ اقتصادي نظام او عواید
- د فصل خلاصه

Bawar.net

## دوهم فصل

### لومړی بحث

### د مسلماني کورنۍ پېژندنه

د خاصو نسبي اړیکو پر بنسټ د انسانانو وړوکې مجموعه چې یو ځای ژوند کوي کورنۍ نومیږي، د کورنیو له مجموعې انساني ټولنه جوړیږي، یا په بل عبارت کورنۍ د ټولنې د جوړېدو واحد دی، له کورنۍ پرته د انساني ټولنې رامنځته کېدل ناشونې ده او له کورنۍ پرته د انسانانو مجموعه خپل انساني حیثیت نه شي ترلاسه کولی، د نورو حیواناتو په نسبت د انساني ټولنې یو عمده فرق همدا دی چې انساني ټولنه له کورنیو جوړه ده او حیوانات له کوم کورني تړاو پرته ژوند لري، الله ﷻ انسان ته د کورنۍ نعمت ورپه برخه کړی تر څو د انسانانو ترمنځ اړیکې په انساني معیارونو ثابت پاتې او وپالل شي، هر څوک خپل پلار، مور، ورور او خور وپېژني او بیا د دوی تر منځ خاصه اړیکه د انسانیت یو سمبول او معیار وي، د کورنۍ نه شتون په اصل کې د ډېرو انساني معیارونو له منځه تلل دي لکه د نن ورځې په غربي ټولنه کې چې د کورنۍ له منځه تلو سره ډېر انساني معیارونه هم له منځه تللي او د حیواناتو په شان د هغوی تر منځ د پلار، مور او اولادونو تمیز ختم شوی.

Bawar.net

له کورنۍ پرته ژوند په حقیقت کې د انساني فطرت خلاف ژوند دی، اسلام کورنۍ ته ډېر زيات اهميت ورکړی، کورنۍ ته يې اصول او ضوابط وضع کړي، په کورنۍ کې د هر غړي مسؤليت او صلاحيت ئې مشخص کړی، د هر غړي وجايب او حقوق ئې ښودلي او بيا په دغو اصولو رامنځته شوې کورنۍ ته ئې مسلمانه کورنۍ ويلي.

لکه په تېر بحث کې مو چې ووېل اسلام ته نسبت يو تش نوم نه دی دلته هم وايو: مسلمانه کورنۍ يو تش عنوان او محض دعوی نه ده چې هر اسلام ته منسوب کورنۍ وشي کولی د هغه حقيقت ترلاسه کړي، بلکې مسلمانه کورنۍ د يو لړ داسې مفاهيمو او معيارونو مجموعه ده چې کله هم په يوې کورنۍ کې رامنځته شي د مسلمانې کورنۍ نوم پرې اېښودل کېږي.

د مسلمانې کورنۍ غړي، د دې غړيو تر منځ اړيکې، حقوق او وجايب، د کورنۍ معنوي او ظاهري ماحول، له نورو کورنيو سره د دې کورنۍ اړيکې، د دې کورنۍ انساني ضرورتونه او اقتصادي نظام دا ټول هغه موارد دي چې اسلام ورته اصول وضع کړي او بايد د اسلامي اصولو مطابق تنظيم شي تر څو کورنۍ د مسلمانې کورنۍ حقيقت ترلاسه کړي.

Bawar.net

په یو عام تعبیر ویلی شو؛ د مسلمانې کورنۍ غړي باید اسلامي شخصیتونه وي چې په پخواني بحث کې ئې مهم صفات بیان شول، د غړیو ترمنځ اړیکې ئې په احترام او شفقت بناء وي، د کور ماحول ئې له مفاسدو او د فساد له محرکاتو پاک د ذکر او عبادت ماحول وي، یوازې له مسلمانو کورنیو سره اړیکې ولري او د دعوت مرکز، د تعلیم مدرسه او د جهاد سنګر وي، اقتصاد ئې له حلالې لارې تأمین شي، دا د مسلمانې کورنۍ عمده او مهم اصول او ارکان دي چې مسلمانه کورنۍ پرې جوړیږي.

موږ په لاندې بحثونو کې د مسلمانې کورنۍ په دې عمده او اساسي معیارونو بحث کوو چې له هغو پرته مسلمانه کورنۍ خپل حقیقت ته نشي رسیدلی، او د یوې مسلمانې کورنۍ په پېژندلو او یا جوړولو کې د دې معیارونو په نظر کې نیول حتمي دي، البته لاندني مواصفات د یوې مسلمانې کورنۍ ټول اسلامي اصول او صفات نه دي بلکې هغه مهم او حتمي اصول او ارکان دي چې له دې پرته کورنۍ ته د مسلمانې کورنۍ خطاب نشي کیدی، که په یوې کورنۍ کې دا صفات او معیارونه رامنځته شي د مسلمانې کورنۍ نور صفات د دې تر سیوري لاندې رامنځته کیدی شي او که دا صفات په کې نه وي نو چې څومره نور د اسلام په نامه رنګ شوې وي دا یو تش رنګ دی چې د اسلام حقیقت په کې نشته.

Bawar.net
دوهم بحث

## د مسلماني کورنۍ غړي

د مسلماني کورنۍ غړي مسلمان شخصيتونه وي، په يوې کورنۍ کې اسلامي ارزښتونه او معيارونه هغه وخت راتلی شي چې د کورنۍ غړي رښتيني مسلمانان وي، دوی په خپل فردي ژوند کې اسلام د دستور او قانون په توګه منلی وي، که د يو مسلمان په خپل وجود او فردي ژوندکې اسلام نه وي حاکم او اسلام ورته د يوازېني دستور په توګه ارزښت ونه لري هېڅکله مسلمانه کورنۍ نشي جوړولی، څنګه کېدی شي هغه څوک چې حاضر نه دی د خپل ژوند فردي ابعاد د اسلام په پولو کې تنظيم کړي؛ بيا دې ته حاضر شي چې کورنۍ ژوند ئې په اسلامي اصولو برابر پر مخ ولاړ شي.

يوازې په اسلامي نکاح د يوې جوړې يوځای کېدل د اسلامي کورنۍ د جوړېدو معنی نه لري، ډېر خلک خو لا داسې دي چې نکاح ئې هم له سلګونو مفاسدو ډک او تش په نامه اسلامي نکاح وي، په داسې کورنيو کې د اسلام حقيقت له لومړۍ ورځې نه وي رامنځته شوی، د مسلماني کورنۍ حقيقت هغه وخت په يوې کورنۍ کې رامنځته کېږي چې رښتينی مسلمان خاوند له رښتينې مسلمانې ښځې سره د اسلام په اصولو برابر د مسلماني کورنۍ د بنسټ ډېره کېږدي او اسلامي نکاح وکړي، نو د مسلماني کورنۍ لومړنۍ صفت د مسلمانو او صالحو

Bawar.net

مؤسسینو او غړیو لرل دي، کوم چې غواړي له خپل ځان وروسته په خپلې کورنۍ کې هم اسلام حاکم ولري.

د یوې کورنۍ غړي دي چې د هغې کورنۍ ماحول اصلاح کوي او یا ئې په فساد ککړوي، د کورنۍ غړي دي چې یا له صالحو خلکو سره د کورنۍ رابطه ساتي او یا هم له فاسدو خلکو سره، د کورنۍ غړي دي چې یا کورنۍ ته پاک او حلال رزق راوړي او یا له حرام او ککړو عوایدو د کورنۍ خوراك او څښاك برابروي، که غړي په خپله صالح او اسلامي شخصیتونه وي نو د کورنۍ چارې هم په اسلامي اصولو برابرې ترسره کوي او که مفسد افراد وي؛ کورنۍ له خپلو اسلامي معیارونو بې برخې کوي، له همدې ځایه ویلی شو په لومړي قدم کې هغه کورنۍ چې له صالحو خلکو جوړه وي یوه صالحه او مسلمانه کورنۍ ده او که له فاسدو خلکو جوړه وي فاسده او غیر اسلامي کورنۍ ده.

د بې فکره او مفسدو عناصر له مجموعې هېڅکله مسلمانه کورنۍ نشي جوړیدی، که د یوې کورنۍ افراد صالح نه وي نو کورنۍ قطعاً مسلمانه او صالحه نه ده، که څوك غواړي یوه مسلمانه کورنۍ جوړه کړي نو باید د هغه جوړوونکي او له هغو پیدا کېدونکي غړي ئې مسلمان او صالح وروزي.

Bawar.net

که چېرې په يوې کورنۍ کې والدين او اولاد هر يو د کورنۍ د غړيو په حيث په دين التزام ولري او په هغوی کې د اسلامي شخصيت مواصفات چې په تېر فصل کې پرې بحث وشو رامنځته شوي وي د دوی مجموعه چې کورنۍ بلل کيږي د مسلمانۍ کورنۍ لومړی او عمده رکن پوره کړی، دوی کولی شي د هغو نورو مواصفاتو په خپلولو سره چې په راتلونکو بحثونو کې ذکر کيږي په آسانۍ سره له خپلې کورنۍ يوه رښتينې مسلمانه کورنۍ جوړه کړي، او که په يوې کورنۍ کې دا لومړی رکن نه وي رامنځته شوی او د کورنۍ غړي په اسلام التزام ونه لري او د اسلامي شخصيت مواصفات پکې نه وي رامنځته شوي له داسې خلکو د يوې مسلمانې کورنۍ جوړول ناشونې دي.

### درېيم بحث

## د مسلمانې کورنۍ د غړيو ترمنځ رابطه

هره انساني ټولنه هغه مهال پايښت مومي چې د غړيو تر منځ ئې سالمه اړيکه موجوده وي، داسې اړيکه چې په خواخوږۍ او احترام ولاړه وي او هر غړی په دې اړيکه کې خپل حقوق او مسؤليتونه وپېژني، کورنۍ هم د يوې وړوکي انساني مجموعې په توګه هغه وخت دوام موندلی شي چې غړي ئې له يو بل سره په شفقت او احترام ولاړه رابطه ولري،

Bawar.net

د یو بل حقوق اداء او په ګډه د کورنی خپل منځي او ټولنیز مسؤلیتونه ترسره کړي.

د اسلام کامل او جامع دین چې د انساني ټولنې په ټولو خواوو ئې احاطه کړې په کورني نظام کې ئې هم داسې ضوابط او معیارونه وضع کړي چې د هر غړي لپاره د حقوقو او مسؤلیتونو حدود په ښکاره توګه ټاکل شوي، په مسلمانه کورنۍ کې هر غړی په دې مکلف دی چې د دغو حدودو التزام او له نورو غړیو سره نیکه اړیکه ولري او په وړاندې ئې خپل مسؤلیتونه ترسره کړي.

په طبعي ډول هره کورنۍ دوه طبقې غړي لري؛ مشران او کشران، مشران والدین او یا د هغوی په نه شتون کې د دوی ځای ناستي مشران وروڼه او خویندې، کشران اولادونه او یا د کورنۍ ماشومان او ځوانان دي، موږ په مختصر ډول د دې هرې طبقې په مسؤلیتونو او حقوقو لنډ بحث کوو او دا څکه چې د کورنۍ هر غړی د بل په وړاندې د مسؤلیت احساس وکړي او د کورنۍ د غړیو تر منځ سالمه فضا او رابطه رامنځته شي چې دا سالمه رابطه د یوې مسلمانې کورنۍ له معیارونو او مواصفاتو شمېرل کیږي، د مسلمانې کورنۍ د غړیو ترمنځ د مسؤلیت په احساس ولاړه اړیکه د دې کورنۍ د بقا عامل او د اختلافاتو مخنیوونکی ده.

Bawar.net

## ۱- د کورنۍ لومړۍ طبقه غړي والدين او مشران:

مور او پلار او له دوی وروسته مشران وروڼه او خويندې چې د دوی ځای ناستي بلل کيږي په يوې مسلمانې کورنۍ کې د مسؤليتونو لويه برخه په غاړه لري، د مور او پلار د مسؤليتونو په هکله نبي کريم ﷺ فرمايي: **كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِه وَهُوَ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْؤُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا، وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِه وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، -قَالَ: وَحَسِبْتُ أَنْ قَدْ قَالَ: وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه- وَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه**(بخاری او مسلم له ابن عمر روايت کړی)- **ترجمه: هر يو ستاسو راعي او مسؤل دی د خپل رعيت، امام د خپل رعيت راعي او مسؤل دی، سړی په خپل اهل کې راعي او د هغوی مسؤل دی، او ښځه د خپل خاوند په کور کې راعيه او مسؤله ده، او خادم د خپل بادار په مال کې راعي او مسؤل د ساتنې دی، او زه گمان کوم چې داسې يې هم ويل: سړی مسؤل دی د خپل پلار په مال کې او مسؤل دی د ساتلو د هغې، او ټول ستاسو راعيان او مسؤلين ياست د خپل رعيت.** يعنې مور او پلار د کورنۍ د مؤسسينو په توګه تر ټولو زيات مسؤليت لري چې د خپلو اولادونو شرعي حقوق تر سره او په هکله ئې پوره پاملرنه ولري.

د کشرانو(ځوانانو او ماشومانو) په عنوان چې وروسته د کومو حقوقو يادونه کوو هغه ټول د والدينو او مشرانو وجايب او مسؤليتونه جوړوي چې هلته يې ذکر کوو، د دې تر څنګ په کورنۍ کې د مسلمانې کورنۍ د ټولو معيارونو، اصولو او مواصفاتو رامنځته کول، پالل او ساتل

Bawar.net

هم د همدې مشرانو مسؤلیت جوړیږي، یعنې هم د کشرانو غړیو حقوق اداء کول او هم د کورنۍ اسلامي هویت او معیارونو د رامنځته کولو او پاللو لویه برخه د والدینو او مشرانو مسؤلیت جوړیږي.

والدین نه یوازې د کورنۍ د دنیوي چارو د تنظیم او د کشرانو د خیر ښېګڼې مسؤلیت په غاړه لري بلکې تر ټولو لوی مسؤلیت ئې دا دی چې د کورنۍ د ټولو غړیو اخروي خیرخواهي وکړي او له الهي عذاب د خلاصون په فکر د هغوی د اسلامي ژوندانه مراقبت او څارنه وکړي، او د دې ترڅنګ د کورنۍ د اسلامي اصولو او ضوابطو حفاظت وکړي، قرآن کریم مور او پلار ته تر ټولو لوی مسؤلیت له جهنم د خپلې کورنۍ د غړیو ژغورل معرفي کوي او فرمايي: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ**(التحریم۶)- **ترجمه: اې د ایمان خاوندانو! وساتئ ځانونه او کورنۍ مو له هغه اوره چې خاشاک یې خلک او تیږې دي، په دې اور مقررې شوي سختي کوونکي ملائکې چې د الله له امر سرغړونه نه کوي او ترسره کوي هغه څه چې ورته امر کیږي.** مور او پلار د اولادونو د هدایت لویه وسیله ده او په دې برخه کې رغنده برخه لري، نبي کریم۲ فرمايي: **کل مولود یولد علی الفطرة فأبواه یهودانه أو ینصرانه أو یمجسانه**(بخاری له ابی هریره روایت کړی)- **ترجمه: هر ماشوم په فطرت برابر پیدا کیږي، وروسته مور او پلار ئې ترې یهودي، نصراني او مجوسي جوړ کړي.**

Bawar.net

يعني مور او پلار د هدايت او ګمراهی عمده وسائل دي نو ځکه هم په مور او پلار تر ټولو لوی رسالت او مسؤليت همدا ايښودل شوی چې د خپلو اولادونو د اخروي سعادت او کاميابی فکر وکړي، او د الله په لاره د خپل توان تر کچې د هغوی د هدايت لپاره کوښښ وکړي او دا هغه وخت کيږي چې د اولادونو شرعي حقوق اداء او په کورنی کې د اسلامي اصولو مراعات او حفاظت وشي.

مونږ دلته د والدينو په مسؤليتونو ډېر بحث نه کوو ځکه دا مسؤليتونه د کشرانو د حقوقو په نامه راتلونکي بحث کې څېړل کيږي او دلته همدومره کافی دی چې مور او پلار د اولادونو او کورنی په وړاندې تر ټولو ډېر مسؤليت لري چې هم د هر غړي حقوق اداء کړي او هم په مجموع کې د کورنی د اسلامي هويت او معيارونو څارنه او پالنه وکړي.

تر مسؤليتونو وروسته د والدينو حقوق دي، څرنګه چې والدين مسؤليت لري د اولادونو حقوق اداء کړي؛ اولادونه او د کورنی کشران هم مکلف دي د والدينو او مشرانو حقوق اداء کړي، په دې هکله قرآن په تأکيد سره امر کوي او فرمايي: **وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا**(الاسراء۲۳)- **ترجمه: او فيصله کړې الله چې تاسې له هغه پرته د چا عبادت مه کوئ او له خپلو والدينو سره نېکي کوئ، که**

Bawar.net

ورسید ستاسره یو یا دواړه(مور او پلار) زړګوټیا ته نو دوی ته د اُف په اندازې هم تېزه خبره مه کوه او مه ئې رټه او دوی ته د عزت خبرې کوه. او همدارنګه نبي کریم۲ فرمايي: رغم أنف رجل ذكرت عنده فلم يصل علي، ورغم أنف رجل دخل عليه رمضان ، ثم انسلخ قبل أن يغفر له، ورغم أنف رجل أدرک والديه عند الكبر، أحدهما أو كليهما، ثم لم يدخل الجنة(ترمذی له ابی هریره روایت کړی)- **ترجمه: سپېره دې وي د هغه چا پوزه چې زه يې مخ ته ياد شم او پر ما درود نه وايي، سپېره دې وي پوزه د هغه چا چې رمضان پرې راشي او ختم شي مخکې له دې چې ده ته ببښنه وشي، او سپېره دې وي پوزه د هغه چا چې خپل والدين دواړه او یا یو په زړښت کې و مومي او بیا هم جنت ته داخل نه شي.**

مور دلته د والدينو حقوق په څو لاندنيو عنوانونو کې خلاصه کوو:

**الف- احترام او نېک چلند:** د مور او پلار احترام او نیک چلند په هر اولاد د الله له لوري لازمي حکم دی، قرآن فرمايي: **فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا**(الاسراء۲۳)- **ترجمه: دوی ته د اُف په اندازې هم تېزه خبره مه کوه او مه ئې رټه او دوی ته د عزت خبرې کوه.** د مسلمان مور او پلار څه چې د کفر په لوري دعوت کوونکي مور او پلار سره هم قرآن د دنيا په کارونو کې د معروف چلند امر کوي او فرمايي: **وَإِن جَاهَدَاکَ عَلَىٰ أَن تُشْرِکَ بِي مَا لَيْسَ لَکَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا**(لقمان۱۵)- **ترجمه: که ټينګ شول(مور او پلار) په دې خبرې چې**

Bawar.net

**له ما سره هغه څه شریک ونیسه چې تاته معلوم نه دي نو دا خبره د دوی مه منه، او چلند وکړه له دوی سره د دنیا په کارونو کې ښه چلند.** یعنې د شرک او کفر په لوري ئې دعوت مه منئ خو د دنیا په چارو کې بیا هم ورسره معروف او نېک چلند وکړئ، نو د مور او پلار لومړی او ستر حق احترام او له دوی سره نېک چلند دی.

**ب: اطاعت:** د مور او پلار بل حق په ښو کارونو(معروف) کې د هغوی اطاعت کول دي، مور او پلار د کور د امیرانو او مشرانو حیثیت لري او هره معروفه خبره او امر ئې باید ومنل شي، په حدیث کې وویل شول چې والدین د کورنۍ مسؤلین دي او د کورنۍ ولایت د دوی په غاړه ده؛ اسلام د هر مشر او مسؤل اطاعت په افرادو لازم بولي او دا دیوې مجموعې د دوام او ثبات اصل ګڼي، او که د مور او پلار مشروع احکام او خبرې و نه منل شي د هغوی د خفګان سبب کیږي او په حقیقت کې د هغوی د احترام حق هم ضایع کیږي، د نصوصو په رڼا کې علماء وایي: د والدینو مشروع اوامر منل واجب او لازم دي.

له اوامرو سره د مشروع او معروف قید ځکه ذکر کیږی چې د مخلوق اطاعت د الله په معصیت کې نه کیږي که هغه هر څوک وي، لکه په آیت کې چې یو مثال ئې ذکر شو: شرک ته د والدینو دعوت نه منل کیږي، او که په معروف او نېکیو امر کوي بیا دا امر منل لازم دي.

Bawar.net

ج: خدمت: د مور او پلار خدمت خصوصاً چې کله د عمر پوخوالي ته رسېدلي وي په اولادونو لازم دی، د مور او پلار خدمت استحبابي امر نه دی؛ دا لازمي او واجبي حکم دی، نبي کریم۲ فرمايي: ورغم أنف رجل أدرک والديه عند الکبر، أحدهما أو کليهما، ثم لم يدخل الجنة(ترمذی له ابی هريره روايت کړی)- ترجمه: او سپېره دې وي پوزه د هغه چا چې خپل والدين دواړه او يا يو په زړګوتيا کې و مومي او بيا هم جنت ته داخل نه شي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې ما له نبي کریم۲ څخه تر ټولو د ښه عمل پوښتنه وکړه او هغه ځواب راکړ: الصلاة على وقتها، قلت: ثم أي؟ قال: ثم بر الوالدين ، قلت: ثم أي؟ قال: الجهاد في سبيل الله(بخاری روايت کړی)- ترجمه: لمونځ په خپل وخت، ما وپوښتل وروسته کوم؟ ويې فرمايل: له مور او پلار سره ښېګڼه(خدمت)، ما وپوښتل وروسته کوم؟ و يې فرمايل: جهاد د الله په لاره کې. نبي کریم۲ حتی کفائي جهاد ته تلونکو مجاهدينو ته ويلي چې که محتاج والدين لري د هغوی خدمت لپاره دې پاتې شي او دا ورته غوره ده، دا يوازې د فضيلت خبره نه بلکې د مکلفيت او وجيبې خبره ده چې بايد د مور او پلار خدمت وشي.

د: دعاء او نېک اعمال کول: مور او پلار ته بايد تل د خير دعاء وشي او دا د مور او پلار له حقوقو څينې ده، نبي کریم۲ يو له هغو اعمالو چې له مرګ وروسته انسان ته ګټه رسولی شي صالح اولاد بولي چې مور او پلار ته دعاء کوي، نبي کریم۲ فرمايي: إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ

Bawar.net

عَمَلُهُ إلا مِنْ ثَلاثَه إلا مِنْ صَدَقَه جَارِيَه أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ (مسلم له ابوهريره روايت كړى)- ترجمه: كله چې انسان مړ شي نو اعمال ئې هم قطع شي پرته له دريو عملونو، جاري صدقه، هغه علم چې ګټه ترې اخيستل كيږي، او هغه اولاد چې ورته دعاء كوي.

نه يوازې دعاء بلكې په نېكو اعمالو او صدقاتو سره د مور او پلار سره ښېګڼه او هغوى ته اجر رسول د والدينو له حقوقو دي او دا د صالح اولاد نښه ده چې خپل مور او پلار ته په دعاء او نېكو اعمالو ګټه رسوي، په عام ډول د صالح اولاد په نېكو اعمالو كې چې مور او پلار د هغه د تربيې او هدايت وسيله ګرځېدلي وي هغوى ته الله د اجر او ثواب برخه وركوي او په خاص ډول كله چې اولاد خپل مور او پلار ته د اجر رسولو په نيت نېك اعمال خصوصاً مالي عبادات او صدقات ترسره كوي الله ﷻ هغوى ته دا اجر رسوي او دا له مرګ وروسته د والدينو حق دى پر خپلو اولادونو چې هغوى ته د اجر وسيله وګرځي.

هـ: **د والدينو دوستان پالل:** د مور او پلار بل حق د هغوى د دوستانو او خپلوانو او ملګرو پالل دي، دا حق له مرګ وروسته هم د اولادونو په غاړه دى، دا انساني فطرت دى چې د خپلو دوستانو په پاللو خوشحاله كيږي او هر مور او پلار خپل اولادونه د ځان ځاى ناستي بولي چې بايد د هغوى له دوستانو سره د دوى په شتون او نه شتون كې ښېګڼه وكوي، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د مكې په لاره كې له يوه اعرابي سره مخ

Bawar.net

شو هغه ته ئې سلام وکړ، په خپل مرکب يې سپور کړ او خپله لنګوټه ئې ور په سر کړه، ابن دينار وايي چې موږ ورته وويل الله دې تاسره ښه وکړي دا اعرابيان په کم څه خوشحاله کيږي، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وفرمايل: د ده پلار له عمر بن خطاب رضي الله عنه سره دوست او ملګرى وو او ما له رسول الله ۲ څخه اوريدلي چې ويل به يې: **إن أبر البر صلة الولد أهل ود أبيه**(امام مسلم روايت کړى)- **ترجمه: تر ټولو لويه ښيګڼه د زوى صله رحمي ده د پلار له دوستانو سره.**

## ۲- د کورنۍ دوهمه طبقه غړي کشران (ځوانان او ماشومان):

له مور او پلار او د کور له مشرانو وروسته د کور ځوانان او ماشومان د کورنۍ عمده برخه جوړوي، ځوانان د کورنۍ د ملا تير او ماشومان د کورنۍ د ميوې او ثمرې حيثيت لري، ځوانان د کورنۍ قيام او قوام ساتي او په ماشومانو(د کورنۍ په ميوو) کې د راتلونکو اسلامي کورنيو زړي او تخمونه تربيه کيږي، د کورنۍ راتلونکى په همدې نوي نسل پورې تړلې، د يوې مسلمانې کورنۍ ځوانان او ماشومان که په اسلامي معيارونو برابر تربيه شي په راتلونکې کې د هغې کورنۍ د اسلامي حيثيت ساتنه او پالنه کيږي، د نوي نسل ښه تربيه هغه وخت ممکنه ده چې د کورنۍ د غړيو ترمنځ سالمه اړيکه وي او د کورنۍ مشران د دوى په وړاندې د مسؤليت احساس وکړي.

Bawar.net

په انساني تعاملاتو کې د یوې کورنی د ځوانانو په شمېر او صلاحیتونو حساب کیږي، لکه څنګه چې په یوې کورنی کې مشران د تعقل او تدبر له پلوه د اهمیت وړ وي ځوانان د عمل او نشاط له پلوه د حساب وړ دي، ځوانان هم د تعمیر په لور او هم د تخریب په لور د مؤثرو وسائلو په توګه کارول کیدی شي، که یوه هدفمنه کورنی له تعقل او تدبر غني مشران او له نشاط او عمل ډک ځوانان ولري او خپل ماشومان په ښه ډول وروزي په یقین چې دا کامیابه کورنی ده.

په مسلمانه کورنی کې ځوانان او کشران هم د مشرانو په شان مسؤلیتونه او حقوق دواړه لري، دوی ته د کورنی د مشرانو په شان برسېره په حقوقو څه مسؤلیتونه هم په غاړه دي البته دا مسؤلیتونه ماشومانو ته نه دي متوجه او ماشومان د مسؤلیت له پېټي اوچتولو ازاد دي خو چې څومره دوی د ځوانی مرحلې ته نږدې کیږي هغومره د مسؤلیتونو بار هم پرې اچول کیږي، د مکلفو ځوانانو د مسؤلیتونو په هکله په لنډ ډول ویلی شو چې د کورنی د مشرانو حقوق اداء کول د دوی اصلي مسؤلیت ګڼل کیږي، د کور د مشرانو کوم حقوق چې پورته ذکر شول د ځوانانو او اولادونو په غاړه دي، همدارنګه د ماشومانو په حقوقو کې هم باید ځوانان برخه واخلي.

Bawar.net

د دې ترڅنګ د مسلمانې کورنۍ چې کوم نور صفات بيانيږي په کورنۍ کې ئې رامنځته کول او ساتل هم له مشرانو وروسته د ځوانانو مکلفيت بلل کيږي، په لنډ ډول ويلی شو د کورنۍ د نورو غړيو حقوق اداء کول او د دې ترڅنګ له مشرانو وروسته په کورنۍ کې د مسلمانې کورنۍ د ذکر کېدونکو اسلامي مواصفاتو رامنځته کول او پالل يا په بل عبارت د کورنۍ د اسلامي اصولو او اسلامي هويت ساتل او د هغې معياري کول د ځوانانو مسؤليتونه دي چې دا مسؤليتونه(د نورو حقوق او د مسلمانې کورنۍ اصول) ټول په همدې فصل کې ذکر کيږي، نو په کورنۍ کې ځوانان مکلف دي د کورنۍ د نورو غړيو حقوق اداء او خپله کورنۍ په هغو معيارونو برابر کړي چې د مسلمانې کورنۍ معيارونه او مواصفات دي او په دې برخه کې د کورنۍ د مشرانو مرسته وکړي، د کورنۍ د اسلامي معيارونو د تعمير لپاره کار وکړي نه دا چې د تخريب وسيله وګرځي.

د کورنۍ ماشومان له ډېرو حقونو برخمن دي، له ماشومانو وروسته ځوانان هم د کورنۍ په مشرانو خاص حقوق لري، لومړی بايد د کور مشران او ځوانان په ګډه د ماشومانو حقوق اداء کړي او بيا د کور مشران د کورنۍ د ځوانانو حقوق اداء کړي.

Bawar.net

د راتلونکو اسلامي شخصیتونو په توګه د ځوانانو او ماشومانو د شخصیت پالل او تربیه کول له هغو اصلي مسؤلیتونو دي چې د ماشومانو له تولد وروسته متصل د کور د مشرانو او والدینو په غاړه اېښودل کېږي، د ماشوم جسمي او روحي تربیه دواړه د والدینو مسؤلیت جوړېږي، لکه څنګه چې مور او پلار کوښښ کوي تر څو اولاد ئې سالم او د ښه صحت څښتن وي باید دا هڅه او هاند هم وکړي چې اولاد ئې د ښه فکر، نیکو اخلاقو، لوړې پوهې او ښه عمل څښتن شي او په کې د یوه اسلامي شخصیت ټول ارکان رامنځته او بیا تر لوړ معیار وروزل شي.

مورږ دلته د ماشومانو او ځوانانو اصلي حقوق بیانوو کوم چې د کورنی مشران مکلف دي په ترسره کولو کې ئې په پوره توان هڅه وکړي:

**الف: د صالحې مور انتخاب:** د اولاد او ماشومانو له انتخاب وړاندې د مسلمانې کورنی د جوړولو له لومړي هوډ او عزم سره د اولاد یو لوی حق دا جوړېږي چې صالحه مور ورته انتخاب شي، که څوک یوازې د خپلو خواهشاتو په خاطر یوازې د مادي امتیازاتو څښتنه ښځه انتخاب کړه او یا همداسې یوه ښځې فقط د دنیا په خاطر له یو سړي سره واده وکړه په حقیقت کې دوی د خپلو اولادونو لومړی او اصلي حق ضایع

Bawar.net

کړي، خصوصاً د مور انتخاب چې د ماشوم د تربيت چارې يې په لاس کې دي خورا مهم او د اولاد لومړی حق دی.

عمر رضي الله عنه د دې خبرې په ځواب کې چې د اولاد حقوق کوم دي لومړی خبره همدا وکړه چې: **ان تختار امه – چې مور ورته انتخاب شي**. او په دې هکله نبي کريم٢ فرمايي: **تخيّروا لنُطَفكم، وانكِحوا الأكْفاء** (ابن ماجه له عايشې روايت کړی)- **ترجمه**: **د خپلو نطفو لپاره سم ځای انتخاب کړئ، او خپل سيال په نکاح کړئ**. له دې په ښکاره معلومېږي چې د نطفو لپاره مناسب او اهل ځای انتخاب د مولود يو حق دی.

<u>**ب: د نېک نوم انتخاب:**</u> پر مور او پلار د ماشوم له لومړيو حقوقو يو حق د ښه نوم انتخاب دی، نوم د انسان په شخصيت اثر لري او چې په کوم نيت کېښودل شي الله هغه ته صدق ببښي، نبي کريم٢ په دې برخه کې خاص ارشاد لري او فرمايي: **عن ابن عبّاس قال: قالوا: يا رسولَ الله، قد علِمنا حقّ الوالد، فما حقُّ الولَد؟ قال: ((أن يُحسن اسمَه، ويُحسن أدبَه** (بيهقي له ابن عباس روايت کړی)- **ترجمه**: **دوی ووېل اې د الله رسوله! موږ د پلرونو په حق پوه شوو نو د اولادونو حق کوم دی؟ هغه وفرمايل: دا چې نېک نوم پرې کېښودل شي او ښه ادب ورکړل شي**.

نبي کريم٢ د هغو خلکو نومونه بدلول چې غلط او يا شرکي معناوې لرلې، په ماشومانو به ئې ښه نومونه او حتی د شخصيت ښېلو په خاطر

Bawar.net

کنیه نومونه لکه ابوعبدالله، ابو عبدالرحمن اېښودل، تر څو په هغو کې لوړ شخصیت او نارینتوب و پالل شي، څومره چې د یو ماشوم نوم د وقار نوم وي او په درنښت واخیستل شي په هغه کې وقار، درنښت او لوړ شخصیت پالل کیږي.

همدارنګه د ماشوم له تولد وروسته د آذان، عقیقې، ختنې، سرخرېیلو او د وېښتانو په اندازه د سپینو زرو صدقه، تحنیك دا ټول هغه سنتونه دي چې د ماشومانو له حقوقو شمېرل کیږي او والدین د خپل توان مطابق باید هغه اداء کړي، د دې سنتونو اداء کول د ماشومانو په شخصیت او تربیت کې خاص اثر لري.

<u>**ج: تعلیم او تربیه:**</u> تعلیم او تربیه په ماشوم توب او ځوانۍ کې د والدینو مسؤلیت او د اولادونو حق جوړیږي، د کورنۍ مشران مکلف دي د کشرانو دې حق ته پوره پاملرنه وکړي او دوی ته د سالم تعلیم او تربیي شرائط مساعد کړي، انسان نه یوازې د ماشوم توب په لومړیو کلونو کې بلکې تر څو چې د کورنۍ په غېږ کې اوسیږي او د جلا کورنۍ څښتن شوی نه وي د تعلیم او تربیت ضرورت لري او دا د ده حق دی چې والدین او مشران ورته توجه وکړي، نبي کریم۲ فرمایي: **حقُ الولد على والده أن يعلِّمه كتابَ الله والسِّباحةَ والرِّماية، وألا يرزقه إلا طيباً**(ابن السنی له ابی رافع روایت کړی) - **ترجمه: د اولاد حق په والد دا دی چې د الله کتاب ورزده کړي، لامبو او نښه ویشتل ورزدکړي، او له حلالو خوراک ورکړي.** پخوا هغه حدیث ذکر شوی

Bawar.net

چې نبي کریم۲ نیک نوم او ادب ورښودل د اولاد د حق په نامه یاد کړي ول.

پوهه او تعلیم د مسلمان له لازمي صفاتو دی، په تېر بحث کې مو وویل چې له دې پرته د مسلمان اسلامي شخصیت نشي مکمل کیدی، همدارنګه تربیت(دنېکو اخلاقو او اعمالو وده) هم د مسلمان د اسلامي شخصیت له عمده ارکانو دي، نو باید د کورنۍ مشران د کشرانو د اسلامي شخصیت په تکمیلولو کې خپل مسؤلیت اداء کړي، د نبي کریم۲ د دې وینا: **كُلُكُمْ رَاعٍ وَكُلُكُمْ مَسْؤول عَنْ رَعِيَّتِه**. مطلب همدا دی چې د کورنۍ والدین او مشران د خپلو اولادونو او کشرانو په وړاندې مسؤلیت لري تر څو د هغوی د تعلیم او تربیت اهتمام وکړي، هغوی ته د دین او دنیا د صالح ژوند لاره وښیې او په عملي توګه د هغوی په ورځنیو چارو کې د دیني احکامو التزام رامنځته کړي.

اسلام موږ ته د اولادنو په تربیت کې مهمې لارښوونې لري، په لوړو مفاهیمو د ماشوم تربیه کول، هغه ته لوړ شخصیت ښښل، د تربیت لپاره ئې ښه دوستان او ملګري انتخابول، هغه ته مناسب تعلیمي ماحول برابرول، تر هرڅه وړاندې د الله کتاب ورزده کول د والدینو او مشرانو مسؤلیت دی.

Bawar.net

د اولادونو د تربيي په برخه کې په دې خبرې پوهېدل ضروري دي چې د عمر په مقتضا د ماشومانو او ځوانانو په تربيت کې درې مختلف عوامل مهم اثر لري او بايد والدين دې عواملو ته توجه وکړي تر څو ماشومان او ځوانان ئې ښه تربيت ترلاسه کړي:

۱- لومړی عامل چې د ماشوم له تولد متصل تر شپږو او اوو کلونو پورې د ماشوم په تربيت کې ډېر مؤثر عامل ګڼل کيږي د مور او پلار کړنې او اعمال دي، په دې عمر کې ماشوم د کاپي ماشين په ډول له کوم تحليل او تجزيي پرته د خپل مور او پلار له کړنو او اعمالو کاپي اخلي او تقليد ئې کوي، په دې عمر کې ماشوم ته د ډېرو خبرو او نصيحتونو ارزښت ډېر نه وي يوازې په عملي ډول مور او پلار کولی شي د هر عمل په کولو او يا نه کولو سره د ماشوم لپاره قدوه او د تقليد مرجع وي، د دې خبرې معنی دا نه ده چې په دې عمر کې به ماشوم ته نصيحت نه کيږي بلکې ماشوم ته بايد د هر نصيحت ترڅنګ په عملي ډول وښودل شي چې کوم کارونه د کولو دي او له کومو کارونو بايد ماشوم ځان وساتي، حتی که مور او پلار خپل ماشوم ته نصيحت او خبرې و نه کړي بيا هم ماشوم د هغوی له اعمالو ځان ته دستور اخلي، که مور او پلار د لمانځه، ذکر، تلاوت او نېکو اعمالو ملتزم وي، هر څه د سنتو مطابق ترسره کوي او د کورنی ماحول ئې له مفاسدو پاک ساتلی وي ماشومان هم په نېکو اعمالو او سنتو متلزم تربيه کيږي او که

Bawar.net

والدین غیر متلزم او د کور فضاء ئې د شیطان په مزامیرو او ګندګیو ملوث کړی وي، موسیقی، نڅا او ګډا د کور فضاء نیولي وي ماشوم پرته له دې چې د ښه او بد، خیر او شر تمیز وکړي او یا په دې هکله د چا خبره ومني د مور او پلار د اعمالو متابعت کوي.

ماشوم د تحلیل قوت نه لري خو د تقلید او حفظ فوق العاده استعداد لري، د سایکلوژي بحثونه ثابتوي چې ماشوم په لومړنیو شپږو کلونو کې د ثبت او کاپي د فوق العاده استعداد په لرلو د خپل ژوند لوړه فیصدي معلومات پوره کوي حتی ځینو علماوؤ ویلي چې ماشوم په لومړي هفته کې د خپل شخصیت عمده برخې تکمیلوي او په همدې لومړي هفته کې د مور له چلند ډېر څه اخلي، که یوه مور له خپل ماشوم سره د وقار او درنښت چلند وکړي، د هغه په شاوخوا کې اذکار، تلاوت او د دین بحثونو وکړي حتماً په هغه ماشوم کې د خیر او صلاح قوتونه پاللل کیږي، او که یوه مور د خپل ماشوم شاوخوا په شیطاني خبرو او اعمالو ککړه کړې وي په هغه ماشوم کې د شر مادې پاللل کیږي.

همدارنګه که د یو ماشوم په وړاندې مور او پلار خپل وقار نه ساتي او د هغه ترمخې خپل منځي لوبې او بې باکه حرکات کوي هغه ماشوم نه یوازې له حیاء بې برخې کیږي بلکې مور او پلار د هغه په سترګو کې خپل وقار له لاسه ورکوي او په راتلونکي کې خپلو والدینو ته په

Bawar.net

درنښت نه ګوري، همدارنګه که مور او پلار خپلو ماشومانو ته له وقار او حيا بې برخې او لوڅې جامې اغوندي د هغوی ماشومان له حياء بې برخې تربيه کيږي او که د وقار او تقوی جامې وراغوندي له حياء، وقار او تقوی سره روږدي روزل کيږي.

په لومړيو کلونو کې د مور او پلار ورځني اعمال او له خپلو ماشومانو سره د دوی چلند د ماشومانو د تربيت ستر لامل او سبب دی، په دې کلونو کې والدين په دې مکلف دي چې د ماشوم تربيت په خپلو اعمالو وکړي او له ماشومانو سره داسې چلند وکړي چې په ماشوم کې لوړ اسلامي شخصيت وروزل شي، والدين په دې غلط تصور چې ماشوم نه پوهيږي ډېر کله د ماشوم مخې ته داسې اعمال ترسره کوي چې ټول عمر د ماشوم په تربيه کې د کږې خښتې په شان خپل بد اثر پريږدي او د ماشوم د تربيت ټول تعمير له ځان سره کږوي، دا بايد په تاکيد سره وويل شي چې له څو ورځني ماشوم پيل بيا تر څو مياشتني او څو کلني ماشوم پورې ټول د تقليد او کاپي استعداد لري او کولی شي هر سم او غلط حرکت تقليد کړي، په دې مرحله کې د اولاد حق دا دی چې والدين د خپلو اعمالو په واسطه د دوی سالم تربيت وکړي.

۲- دوهم سبب د ماشومانو په تربيه کې چې تعليمي ادارې ته له تلو وروسته تر دوولس او ديارلس کلونو پورې ډېر مؤثر وي؛ هغه د تعليمي

Bawar.net

اداري ماحول او فضاء ده، په دې عمر کې ماشوم له کور بهر وزي او هلته له نورو ماشومانو سره بلدتيا حاصلوي، ماشوم په دې مرحله کې له هر ماشوم اغېزمن او بيا له ټول ماحول ډير متأثره کيږي، که د مسجد، مدرسې او مکتب تعليمي ماحول په تربيتي معيارونو برابر وي په ماشوم کې د ښېګڼو په لور پاملرنه پيدا کيږي او په وجود کې ئې د خير قوتونه تربيه کيږي او که دا ماحول د شر او بديو په زهرو ککړ وي په ماشوم کې حتماً د شر په خوا ميلان پيدا کيږي، که په مسجد، مدرسه او مکتب کې د اسلام، قرآن، حديث، عمل، جهاد او دعوت خبرې او مذاکرې وي په ماشوم کې له همدې بحثونو سره علاقه او شوق پيدا کيږي او که د فلمونو، ميلو، محفلونو او موسيقيو بازار ګرم وو له همدې خبرو او اعمالو سره د ماشوم اُنس پيدا کيږي.

موږ دلته يوازې تعليمي ماحول ذکر کړ او دا ځکه چې په دې مرحله کې له تعليمي ماحول بهر د کوڅې او بازار له ماشومانو سره د ماشوم ناسته ولاړه د ماشوم د تربيت خرابوالي په معنی ده، يوازې په داسې ماحول کې چې ټوله ټولنه د خير او فلاح په اصولو برابره او د يو اسلامي نظام ترسيورې لاندې جوړه شوې وي کيدی شي د کوڅې او بازار ماشومان هم د تربيت لرونکي وي، په عام ډول په کوڅو او بازارونو کې ماشومان له تربيت ډېر بې برخې وي او د ماشوم رابطه د عمر په دې تنکی ځوانی کې له دغو ماشومانو سره د تربيت له اصولو

Bawar.net

خلاف کار دی، همدارنګه له تعلیمی ماحول بهر هغې ټولنې چې د دعوتي او فرهنګي نشاطاتو لپاره د اسلامي حرکتونو له خوا ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته جوړې شوې وي کیدی شي د ماشومانو د استعدادونو په وده او تربیت کې مهم کردار ترسره کړي، د تربیت په دغه دوهمه مرحله کې د اولاد حق دا دی چې له فاسدو ماحولونو وژغورل شي او د مسجد، مدرسې او مکتب داسې چاپېریال ورته غوره شي چې هلته د ده د شخصیت لومړنې ستنې په صحیح ډول ودریږي.

۳- د اولادونو په تربیت کې درېیم عامل چې عمدتاً له دوولسو او دیارلسو کلونو وروسته ډېر اثر لري: ملګري دي، ماشوم چې کله وړوکی او په کور کې وي د خپلو خپلوانو له ماشومانو سره رابطه او ملګرتیا ساتي، بیا چې کله مدرسې او مکتب ته ولاړ شي له نورو ماشومانو سره ملګرتیا کوي او بیا چې کله زلمی شو له همدغو همزولو ځان ته خاص او د راز ملګري پیدا کوي، ملګري د ماشوم توب په لومړیو مرحلو کې هم خپل اثر لري خو دا چې د ماشوم توب په لومړیو مرحلو کې ملګرتیا ډېره پخه نه وي نو اثر ئې هم ډېر ژور نه وي، که ماشوم له خپل کوم ملګري بېل شي نو د ملګرتیا اثر هم ختمیږي، خو چې کله د ځوانی مرحله پیل شي او ملګرتیاوې پخې شي بیا د دغو ملګرتیاو اغېزه هم ژوره وي، بیا ملګری د یو ځوان په ژوند او تربیت مستقیم او ژور اثر اچوي.

Bawar.net

په دې مرحله کې د نوي ځوان شوي ماشوم پو حق دا دی چې مور او پلار ورته ښه دوستان او ملګري انتخاب کړي، البته دا انتخاب په دې نه کيږي چې د يوې غوښتنې او فرمايش په ډول مور او پلار له خپل ماشوم او نوي ځوان شوي اولاد وغواړي چې له دې سره ملګرتيا وکړه او له هغه بل سره ئې مه کوه، بلکې مور او پلار په دې مکلف دي چې د خپل اولاد لپاره د نېکو او صالحو ملګرو سره د ناستې او ولاړې شرائط برابر کړي او له بدو خلکو او ملګرو ئې وساتي، او په دې برخه کې منظمه برنامه په کار واچوي تر څو د دوی نوی زلمی شوی اولاد له صالحو ملګرو سره رابطه پيدا کړي او له بدو خلکو وژغورل شي.

په خلاصه ډول ويلی شو چې د ماشوم په تربيت کې لومړی د مور او پلار کړنې او اعمال، له ماشوم سره چلند او د کورنی ماحول اثر لري، په دوهم قدم کې تعليمي ماحول او له کور بهر د ماشوم د ناستې او ولاړې ماحول، په دريم قدم کې ئې خاص ملګري او دوستان د هغه په تربيت مستقيم اثر لري چې بايد مور او پلار دې درې واړو اسبابو ته پوره پاملرنه وکړي؛ تر څو د ماشوم د تربيت حق اداء شي.

<u>**د: نفقه او نېک چلند:**</u> نفقه د اولاد حق دی، هغه اولاد چې مال نه لري بايد نفقه ئې پلار ورکړي، قرآن په دې هکله فرمايي: **وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**(البقره۲۳۳)- **ترجمه: او په پلار لازم دي خوراک او کالی د دوي**(مور او ماشوم). همدارنګه نبي کريم۲ هندې رضي الله عنها ته اجازه

کړې وه چې د ابوسفیانﷺ له مال دومره واخلي چې د دې او اولاد کفایت ئې وکړي، علماء وایي لکه څنګه چې د ښځې نفقه پر خاوند لازمه ده همداشان د هغه اولاد نفقه چې مال او عاید نه لري او پلار ئې د نفقې توان لري پر پلار لازمه ده، همدارنګه په نفقه او ورکړه کې د اولاد ترمنځ عدالت د پلار مکلفیت دی، نبي کریم۲ د عدالت په هکله هم ارشاد کړی چې باید د اولاد تر منځ په ورکړه کې عدالت وشي.

د نفقې تر څنګ له اولاد سره نېک او په شفقت ولاړ چلند د والدینو مسؤلیت دی، ماشوم په طبعي ډول شفقت او نرمۍ ته ضرورت لري او باید په نېک چلند او رویې وپالل شي، د ماشوم جسم او احساسات ټول نازک او کم تحمل لري، په دې مرحله کې شدت او غلظت د ماشوم جسم او احساس دواړه ژوبلوي او هغه په تربیتي لحاظ دې ته چمتو کوي چې له زور او شدت پرته هېڅ خبره ونه مني، د نبي کریم۲ په ژوند کې له ماشومانو سره د رفق او نرمۍ د امتیازي چلند ښکاره مثالونه امت ته د تعلیم لپاره وړاندې شوي، هغه حسن او حسینﷺ سره په نبوي مسجد کې حتی د لمانځه او خطبې پر وخت داسې چلند کاوه چې د امت لپاره د ماشومانو په پاللو کې درس شي، نبي کریم۲ یو ځل حسن بن علیﷺ ښکل کړ او هلته اقرع بن حابس ناست وو، هغه وویل زما لس زامن دي او هېڅ یو مې نه دی ښکل کړی، نبي کریم۲ په ځواب کې وفرمایل: **من لا یرحم لا یرحم**(بخاري او مسلم له ابوهریره روایت کړی)-

Bawar.net

ترجمه: څوک چې رحم نه کوي په هغه رحم نه کیږي. په بل حدیث کې نبي کریم۲ په واضحو الفاظو فرمایي: من لم یرحم صغیرنا ویجلّ کبیرنا فلیس منا(بخاري په ادب مفرد کې له ابی امامه روایت کړی)- ترجمه: څوک چې زموږ پر ماشومانو رحم نه کوي او زموږ د مشرانو احترام نه کوي له موږ نه دی. پس له کشرانو سره شفقت او نرمي د هغوی حق دی.

د دې خبرې یادول هم ضرور دی چې پر ماشوم شفقت او هغه ته بې ځایه ناز ورکولو تر منځ ډېر فرق دی، شفقت له ماشوم سره نېک چلند او په ښې طریقې د خیر په لور د ماشوم ترغیب او تربیت ته وایي، او بې ځایه ناز دا دي چې ماشوم خپل سر ته پرېښودل شي چې هر څه غواړي وکوي، هره غلطه غوښتنه ئې ومنل شي، یوازې د یو حیوان په شان د هغه د جسم تربیت ته توجه وشي او د روح تربیت ئې د شفقت په نامه له جسمي تربیت ځار شي، دې ته بې ځایه ناز ورکول وایي نه شفقت.

هغه ماشومان چې له تربیتي معیارونو او اصولو آزاد ژوند کوي او خپله هره روا او ناروا غوښتنه په والدینو او مشرانو مني، مشران هم دا کړنه له خپلو ماشومانو سره شفقت بولي دا غلطه خبره ده او داسې کړنه د ماشوم په تربیې او شخصیت ډېر بد اثر لري، د ماشوم د ناروا غوښتنو او غلطو کړنو په وړاندې باید والدین او مشران تسلیم نه شي او د هغه مخنیوی وکړي، او باید ماشوم د شفقت په نامه داسې خپلې خوښې ته

Bawar.net

پرېښودل شي چې هر څه غواړي وکړي او هېڅوک ئې د تربيې فکر ونکړي.

د کورنۍ په کشرانو کې ځوانان بيا د شفقت په غوښتنې يو بل ډول اهتمام او توجه ته ضرورت لري، د ځوانۍ مرحله له احساساتو او عواطفو ډکه وي، په دې مرحلې کې د انسان هر څه له احساساتو او عواطفو متأثر وي، د انسان ارادې او تصاميم، د انسان کړنې او اعمال، د انسان روابط او تعامل هر څه د هغه له احساساتو او عواطفو سرچينه اخلي، په دې مرحلې کې تر تعقل احساسات ډېر پياوړي وي، په انسان کې د هوښ پر ځای خوښ ډېر مسلط وي، او دا کوم خارجي او تحميلي حالت نه دی؛ بلکې دا د انساني ژوندانه يو فطري او طبعي حالت دی چې د ځوانۍ په مرحلې کې پر هر انسان راځي، د دې مرحلې له احساساتو سره مقابله او له عواطفو سره ټکر د ځوانانو په هلکه بې انصافي دی.

په دې مرحلې کې د ځوانانو له احساساتو او عواطفو سره د ټکر او مخنيوي پر ځای مشرانو ته د خير او صلاح په لوري د هغوی د توجيه کولو مسؤليت پر غاړه دی، انسان د ځوانۍ په مرحلې کې له نشاط او انرژۍ ډک وي او د ځوان دغه نشاط د احساساتو او عواطفو له خوا رهبري کيږي، د دې نشاط او استعداد مړه کول او ختمول ناممکن دي،

Bawar.net

مسؤلیت دا دی چې والدین او مشران د خپلو ځوانانو احساسات او استعدادونه د دین د خدمت په لارو چارو او د الله د عبادت او بندګۍ لپاره استعمال کړي، نه یوازې هغه کسان چې د ځوانانو نشاط او استعداد د شر په لوري توجیه کوي او یا د ځوانانو انرژي نفساني خواهشاتو ته سپاري ظالمان دي بلکې هغه خلك هم په ظلم کې اخته دي چې د خپلو ځوانانو د نشاط، استعدادونو، احساساتو او عواطفو مړه کول غواړي او ګمان کوي په دې کار سره هغوی د خپلو ځوانانو په هکله خیرخواهي لري.

د ځوانانو استعدادونه باید د دین په تعلیم او تعلم، دعوت او تربیت، جهاد او قربانیو کې استعمال شي او د کورنۍ والدین او مشران د دې لپاره شرائط برابر کړي تر څو د کورنۍ ځوانان د خیر په لارو کې خپل وخت او استعداد مصرف کړي، ډیرې داسې کورنۍ شته چې د خپلو ځوانانو ژوند په خپل لاس د مفاسدو په ډېران بدلوي او د خیر له لارو د ځوانانو مانع ګرځي او په دې کار سره ګمان کوي چې دا د هغوی په هکله خیرخواهي ده ترڅو دا ځوانان له مرګ او درد په امن پاتې شي، حال دا چې د الله تقدیر څوك نشي بدلولی، که چاته مرګ او درد لیکل شوي وي د خوب بستر ته ئې راځي، خیرخواهي خو داده چې ځوانان رهبري شي ترڅو د ځوانۍ له انرژي او نشاط د الله په عبادت کې کار واخلي او د ځوانۍ د عبادت قدرمنه پانګه ترلاسه کړي، او تر

Bawar.net

ټولو لویه خیرخواهي دا ده چې د دې توانمنیو په شکران کې الله دوی له جهنم بچ او جنت ته داخل کړي.

د ځوانانو په هکله خیر خواهي دا ده چې د هغوی احساسات او عواطف له شیطاني دامونو وژغورل شي او د دې په ځای چې د دوی ځواني د شیطاني خواهشاتو پر بنسټ د کوم انسان په دام کې د عشق او عاشقۍ په نامه او یا له کومې لوبې او ساعت تېرۍ سره د مینې په نامه عبث ضایع شي باید د الله د دین په خدمت کې د جهاد او دعوت په سنګرونو کې مصرف شي او د دې پر ځای چې ځوانان د مینې په نامه نانځکې شي او د یو بل د شیطاني خواهشاتو لپاره استعمال شي باید د جهاد او دعوت سترې زېرمې او ستنې تربیه شي تر څو دوی د خواهشاتو له غلامۍ راووځي او د ټول انسانیت لپاره د خیر او سعادت ډیوې شي، دوی د ذلیل نفساني عسکریت په ځای د انساني ټولنې په عزیز قیادت کې ځای ونیسي، په دې برخه کې د نبي کریم۲ په لاس د روزل شوي ځوان نسل داسې مثال زموږ مخې ته پروت دی چې د هغوی له توانمنیو تر نن پورې انساني ټولنه د اسلام له سعادت برخمنه ده.

Bawar.net

نو د ځوانانو د ځوانۍ له احساساتو سره د رفق او خیرخواهۍ چلند او د هغوی دا احساسات د خیر او سعادت په لوري رهبري کول د کورنۍ په مشرانو د دوی بل حق دی چې باید مشران ورته توجه وکړي.

**هـ: د کورنۍ په امورو کې برخه ورکول:** ځوانان باید د خپل عمر متناسب د کورنۍ په امورو کې د ګډون او مسؤلیت احساس او تربیه ترلاسه کړي، هر ځوان باید د دې احساس وکړي چې زه د دې مسلمانې کورنۍ غړي یم او د دې کورنۍ په ټولو چارو کې مسؤلیت لرم، د کورنۍ په دننه او بهر کې د کورنۍ د ټولو معیارونو او ارزښتونو په ساتلو او د کورنۍ په ورځنې چارو کې باید خپل مسؤلیت اداء کړم، ځوانان باید د کورنۍ د نورو غړو په وړاندې خپل رسالت او مسؤلیت درک او د تر سره کولو لپاره ئې قدم واخلي، دا تربیه او احساس هغه مهال په یو ځوان کې رامنځته کیدی شي چې هغه ته د خپل عمر او استعداد متناسب مسؤلیتونه او د کورنۍ په چارو کې برخه ورکړل شي.

د کورنۍ په چارو کې د ځوانانو مسؤلیت منل او مسؤلیت ترسره کول هغه وخت کیږي چې ځوانانو ته د کورنۍ په مشورو او تصمیم نیونو کې د خپل حق په کچې ونډه ورکړل شي، په هره مجموعه او ټولنه کې انسان هغه وخت په پوره علاقه مندۍ خپلو مسؤلیتونو ته اوږه ورکوي چې هلته خپل ځان، افکار، نظریات او احساساتو ته ځای او

Bawar.net

ارزښت ووينې، ځوانان هم په کورنۍ کې د همدې اصل مطابق د خپل مسؤليت بار هغه مهال اوچتوې چې هغوی ته د کورنۍ په امورو او مشورو کې برخه ورکړل شي، که يو ځوان په يوې کورنۍ کې خپل موقعيت او ارزښت درک کړي بيا خامخا په هغې کورنۍ کې د مسؤليت اخيستلو او ترسره کولو احساس پيدا کوي.

د کورنۍ په امورو کې د مشورې مجالس جوړول او بيا ځوانانو ته په خپل وار د خپل نظر د څرګندولو وخت ورکول نه يوازې د کورنۍ د امورو په وړاندې د هغوی د مسؤليت احساس پياوړی کوي بلکې د هغوی ټولنيز شخصيت او تربيت هم پياوړی کوي او د مشورې او تصميم نيونې په برخه کې د دوی استعدادونه روزي.

نبی کريم؟ نه يوازې د احد په غزا کې د ځوانانو دا مشوره (چې د دښمن په وړاندې بايد له مدينې بهر ووځو) واورېده بلکې په هغه ئې عمل هم وکړ، او چې کله د احد په غزا کې په مسلمانانو امتحان راغی نو کله هم د نبي کريم؟ له خوا دا امتحان د ځوانانو د احساساتي مشورې پايله و نه بلل شوه او په دې هکله ځوانان ملامت نه شول، د نبي کريم؟ له خوا د دې مشورې د منلو يو ستر حکمت دا وو چې د الله په لاره کې قرباني ته چمتو ځوانان په اسلامي ټولنه کې د پردي توب او د کموالي احساس ونه کړي او د هغوی په نشاط کې کموالی رانشي.

Bawar.net

ډېر کله داسې هم کيدی شي چې له کوم ځوان سره د الله له لوري د ورکړل شوي استعداد پر بنسټ داسې نظر او رأيه وي چې د کورنی په خير او صلاح تمامه شي، دا له امکان لرې نده چې زيرک او هوښيار ځوانان ډېر کله له مشرانو هم د ښه او دقيق نظر خاوندان وي، له همدې امله عمرﷺ د خپلې شورى په مجلس کې عبدالله ابن عباسﷺ چې د عمر له اړخه کشر هلك وو شريک کړی وو، نو د ځوانانو شريکول د کور په مشورو او امورو کې هم د ځوانانو حق دی او هم د کورنی په ګټه.

**و: د ځوند نېك شريك انتخابول:** کله چې د کورنی کشرانو ته د تعليم او تربيت نظام جوړ شو، د هغوی احساسات د نېکو چارو په خوا متوجه کړل شوی، هغو ته د استعدادونو په کچه کورني نظام کې ونډه ورکړل شوه او د مسؤليتونو احساس په کې ورزل شو بيا دا هم د هغوی يو حق ګڼل کيږي چې ورته د نوې مسلمانې کورنی جوړولو شرائط برابر شي او د انساني فطرت دا غوښتنه يې د کورنی د مشرانو په مرسته ترسره شي او ده ته د ګډ ژوند لپاره نېك او صالح شريك انتخاب شي، په يو روايت کې رسول الله۲ فرمايي: **حقُّ الولَد على والده أن يحسن اسمَه، ويزوِّجَه إذا أدرَک، ويعلِّمه الکتاب**(ابو نعيم په الحلية کې له ابوهريره روايت کړی)- **ترجمه: د اولاد حق په والد دا دی چې نېک نوم ورته انتخاب کړي، نکاح ورته وکړي کله چې بلوغ ته ورسېده، او د الله د کتاب تعليم ورکړي.**

Bawar.net

د ژوند مناسب شریک انتخاب او بیا له هغه سره نکاح د هر ځوان لپاره په یوازې ځان ګران کار دی، ځوانان په یوازې توګه د نکاح مسائل نه شي حلولی او نه هم دقیق انتخاب کولی شي، والدین او مشران دي چې کولی شي په دې برخه کې خپلو ځوانانو سره مرسته وکړي او دا د هغوی حق جوړیږي، ځوانان د نور ژوند په څېر په نکاح او انتخاب کې هم د عواطفو تر بار لاندې وي او نشي کولی مناسب دقت وکړي دا دقت باید والدین او د کورنۍ مشران وکړي، د انتخاب برسېره په خپل وخت واده کول او د نکاح نه ځنډول چې د ډېرو مفاسدو او مشکلاتو لامل ګرځي د ځوانانو حق دی چې باید د کورنۍ والدین او مشران ئې په هکله خپل مسؤلیت ترسره کړي، په دې هکله یو حدیث کې نقل شوی چې نبي کریم۲ فرمایي: **مَن وُلِد له ولدٌ، فليحسن اسمَه وأدبَه، فإذا بلغ فليزوِّجه، فإنْ بلَغ ولم يزوِّجه فأصاب إثماً، فإنّما إثمُه على أبيه** (بیهقي په شعب ایمان کې له ابي سعید او ابن عباس روایت کړی)- **ترجمه: چا ته چې اولاد پیدا شو نو ښه نوم پرې کیږدي او ښه ادب دې ورکړي، او چې کله بالغ شو واده دې ورته وکړي، او که بالغ شو او ورته ئې واده ونه کړ او هغه په کومې ګناه اخته شو پلار ئې ګنهکار دی.**

**ز: دعاء کول:** د اولاد لپاره د خیر دعاء کول هم د اولاد حق دی، لکه څنګه چې اولاد باید د مور او پلار لپاره دعاء وکړي او په دې برخه کې د انبیاؤ او صالحینو متابعت وکړي همداشان مشران او والدین هم باید د خپل اولاد لپاره د خیر دعاء وکړي، قران کریم د دې دعاء ګانو

Bawar.net

بېلګې د تعليم لپاره موږ ته نقل کړې: رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا(الفرقان۷۴)- ترجمه: اې زموږ ربه! و ښښې موږ ته له خپلو مېرمنو او اولادونو د سترګو يخوالی او وګرځوې موږ د متقيانو لپاره امامان. په بل آيت کې فرمايي: رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ(البقره۱۲۸)- ترجمه: اې ربه! موږ دواړه وګرځوې تاته اخلاص کوونکي او وګرځوې زموږ له نسل يوه ډله اخلاص کوونکي تاته، او راوښايې موږ ته زموږ د عبادت طريقې او پر موږ رحم وکړې، بې شکه چې ته توبه قبلوونکی او مهربانه يې. په بل ايت کې فرمايي: رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ(ابراهيم۴۰)- ترجمه:ربه! وګرځوې ما دلمانځه قايموونکی او زما اولاده هم ، اې زموږ ربه! دعاء مو قبوله کړې.

دعاء د مسلمان وسله ده، په دې وسلې له شيطان سره مقابله کوي، څوك چې غواړي صالح اولاد ولري بايد په دې کار کې له الله مرسته وغواړي، هدايت او ګمراهي د الله په لاس کې ده او چې الله چاته د هدايت فيصله و نه کړي هېڅوك ورته هدايت نشي کولی، والدين بايد له خپلو ټولو هڅو سره سره د الله مرستې ته دعاء وکړي، دا د اولادونو حق دی چې والدين د هغوی لپاره دعاء وکړي.

د شر دعاء او يا ښېرا نا مشروع عمل دی، والدين بايد کوښښ وکړي د خپل اولاد په هکله هېڅکله ښېرا و نه کړي، نبي کريم۲ فرمايي: لا تَدعوا على أنفُسكم، ولا تَدعوا على أولادِكم، ولا تَدعوا على أموالكم؛ لا توافقوا من الله ساعةً يُسأل فيها عطاء، فيستجيب لكم(مسلم روايت کړی)- ترجمه: خپلو ځانونو، اولادونو

Bawar.net

**او مالونو ته ښېرا مه کوئ، داسې نه چې له هغه ساعت سره برابر شي کوم چې الله هره دعاء قبلوي او بيا قبوله شي.**

دا درېيم بحث د کورنی د غړيو تر منځ د سالمې رابطې بحث وو کوم چې د مسلمانې کورنی له اصولو يو دی، د مسلمانې کورنی غړي په دې مکلف دي چې په خپلو کې په شفقت او احترام ولاړه رابطه ولري، اسلام د کورنی هر غړي ته د کورنی د اسلامي اصولو او نور غړيو په وړاندې د هغه مسؤليتونه او د دې ترڅنګ د هغه حقوق په ګوته کړي، د مسلمانې کورنی هر غړی بايد خپل حقوق ترلاسه او د کورنی د نورو غړيو د حقوقو په اداء کولو او د کورنی د اسلامي اصولو په پلي کولو کې خپل مسؤليت ترسره کړي، دا د مسلمانې کورنی دوهم رکن دی، د دې رکن د تعمير لپاره د هر غړي حقوق او وجايب مو په پورتني بحث کې په خلاصه ډول بيان کړل تر څو د کورنی د مشرانو او کشرانو تر منځ د مسؤليت په احساس ولاړه رابطه وي او په مسلمانه کورنی کې ټول غړي د اسلامي اصولو د پلي کولو لپاره يو بل ته لاس ورکړي او په دې لاره کې د يو بل حقوق اداء او په خپلو منځونو کې سالمه رابطه وپالي.

Bawar.net

## څلورم بحث

## د مسلماني کورنۍ ماحول

په انساني ټولنو کې ماحول په افرادو او افراد په خپل ماحول مستقيم اثر لري، که يو ډېر نېک انسان په يو بد ماحول او محيط کې ژوند وکړي د هغه ماحول له ګندګيو د ځان ساتل ورته ګران کار دی، هغه که په خپل فردي ژوند کې څومره ملتزم او له مفاسدو پاک ژوند وکړي بيا هم په ټولنيز ژوند کې د ټولنې له مفاسدو حتماً متأثره کيږي، ځکه هلته ټولنيز اخلاق، معاملات، نظام او هر څه فاسد وي او دی له فاسدو خلکو سره د ژوند تعامل لري نو خامخا د ژوند يوه څنډه ئې له دې فاسد نظام او فاسدې ټولنې رنګ اخلي، برعکس که يو ډېر بد انسان هم په يوې صالحې ټولنې کې ژوند کوي نو خامخا د ژوند يوه برخه ئې چې له خلکو سره په رابطې او تعامل کې مخته ځي بايد د صلاح په اصولو برابر وي ځکه خلک او ټولنه صالحه ده او د فساد او مفسد لپاره وخت نه ورکوي.

د کورنۍ ماحول هم د يوې وړوکې انساني ټولنې په شان له دې فطري اصل مستثنی نه ده، که د کور ماحول فاسد وي د کورنۍ صالح خلک هم ترې متأثره کيږي، او که د کورنۍ ماحول صالح ماحول وي د کورنۍ فاسد غړي هم د فساد مجال نشي ترلاسه کولی او په دې مجبوريږي چې په دې صالح چاپېريال کې صالح ژوند اختيار کړي.

Bawar.net

د مسلمانې کورنۍ ماحول باید له فساد او د فساد له محرکاتو پاک او صفا وي، په مسلمانه کورنۍ کې باید د ګناه په وړاندې د شرم او حیاء احساس په هر غړي کې پیاوړی وي، د کورنۍ په ماحول کې هېڅ یو غړی د ګناه جرأت و نشي کولی او هېچاته د دې مجال نه وي چې د ګناه په وړاندې بې باکي وکړي، په مسلمانه کورنۍ کې باید له ګناه د مخنیوي او یو بل ته د امربالمعروف، نهی عن المنکر، نصیحت او تذکیر ویښ ضمیر موجود وي، د کورنۍ غړي هر کله یو بل له بدیو منع او نېکیو ته دعوت کړي، د کورنۍ غړي څه چې حتی له بهر راتلونکي مېلمانه هم مسلمانې کورنۍ ته له راتلو سره په دې کورنۍ کې د ګناه کولو جرأت له لاسه ورکړي، په مسلمانه کورنۍ کې د دې پر ځای چې یو مفسد راشي او د کورنۍ ټول غړي په ګناه اخته کړي برعکس د مفسد په راتلو سره د هغه اصلاح کیږي او له هغه سره د اصلاح فکر پیدا کیږي.

مسلمانه کورنۍ کې د عبادت او تقوی لپاره دعوت او تحریض جاري وي، یو بل ته د نېکیو په لور د تلو لارښوونه کیږي، د کورنۍ په هر کونج کې د الله ذکر او تلاوت روان وي، د کورنۍ په هر مجلس کې معنویت او دیني فکر حاکم وي، د آخرت او مرګ یاد ژوندی وي، د دین تعلیم او تعلم روان وي، په مسلمانه کورنۍ کې که د کورنۍ یو غړی په لمانځه وي بل په تلاوت او بل په ذکر مشغول وي.

Bawar.net

د کورنی چاپېریال باید د فساد له دعوت کوونکو خلکو او وسائلو پاک شي، متأسفانه نن د دښمن په لاس جوړ شوی او طرح شوی بې مهاره ټکنالوژي د مسلمانو کورنیو چاپېریال له اسلامي رنګه په بشپړ ډول بدل کړی، په مطلق اکثریت کورنیو کې چې تش په نامه مسلماني کورنی بلل کیږي د دې ټکنالوژۍ پر مټ راغلی فساد هیڅ ګناه نه شمېرل کیږي؛ موسیقي، نڅا، مزخرف او شیطاني فلمونه، عشقي داستانونه، د انترنت په ټولنیزو پاڼو کې فاسد او نامشروع روابط، په موبایل ټېلفونونو کې له هررنګ اسلامي اخلاقو وتلې نامشروع روابط، پېغلو نجونو او ځوانو هلکانو ته له فاسدې ټکنالوژۍ د استفادې بې حده آزادي، داسې شیطاني ماحول جوړ کړی چې له ګناه شرم او حیاء ختمه شوې او حالت تر دې خراب دی چې په کورنیو کې بې باکه د ګناه لپاره دعوت روان وي، خور ورور ته او ورور خور ته، والدین اولادونو ته او اولادونه خپلو والدینو ته د ګناه په لوري داسې دعوت ورکوي چې د حیاء له هیڅ اصل سره سمون نه خوري.

په دې کورنیو کې د کورنی ټول غړي یو ځای له خپلو ټولو شیطاني غرایزو سره د یوې پردې او سکرین مخ ته د تلویزیون داسې کانالونو ته ناست وي چې د ضعیف ایمان لرونکي مسلمان غیرت ئې هم نشي زغملی، له همدې ځایه د کورنیو ماحول له معنویت خالي او پر ځای ئې شیطاني فضاء رامنځته شوې.

Bawar.net

د مسلماني كورنى ماحول او چاپېريال له مفاسدو او د فساد له وسائلو او محركاتو پاكول د يوې مسلماني كورنى عمده ركن دى او له دې پرته كورنى ته مسلمانه كورنى نشي ويل كيدى، ځنګه كيدى شي په يوې كورنۍ كې الله هېر شوى وي او د شيطان دعوت په ښكاره روان وي او هره ورځ د كورنى اسلامي فضاء تخريب او پر ځاى ئې شيطاني ماحول رامنځته كيږي او بيا هم هغه مسلمانه كورنى پاتې شي، دا په هيڅ صورت كې ممكن نه دى.

د دې تر څنګ چې د مسلماني كورنى ماحول په معنوي لحاظ بايد له فساد او د فساد له وسائلو پاك وي او په هغه كې د الله د عبادت خوږ ماحول حاكم وي همداشان په مادي لحاظ هم بايد د مسلماني كورنى فضاء او ماحول پاك او منظم وي، اسلام خپلو لارويانو ته د پاكوالي او نظم واضح او جدي دستور وركوي او له هغوى غواړي چې بايد پاك او منظم ژوند وكړي، نبي كريم۲ فرمايي: **الطهور شطر الإيمان**(مسلم له ابى مالک روايت كړى)- **ترجمه: پاكوالى د ايمان يوه برخه ده.** لكه څنګه چې ايمان د ظاهر او باطن پاكوالي ته وايې نو ظاهري پاكوالى د ايمان يو له دوو برخو شمېرل كيږي، په مدينه منوره كې د صحابه وو كورونه د يهوديانو له كورونو په دې توپير كېدل چې د يهودو د كورونو ماحول غير منظم او ګنده وو او د مسلمانانو كورونه پاك او منظم ول.

Bawar.net

مسلمان په خپلې عقيدې، فکر، اخلاق، روابط، معاملات، عمل، جامه، بدن، ماحول او د اوسيدو محيط کې پاک او نظيف وي، په معنوي او مادي برخه کې د مسلمان پاکوالی بايد له هغه يو محبوب شخصيت جوړ کړی وي، مسلمان لکه څنګه چې په باطني او معنوي برخه کې له خيرو او دوړو پاک وي په ظاهري او مادي جسم او ماحول کې هم منظم او پاک وي، نبي کريم ﷺ د يو پاک او منظم مسلمان د تربيت لپاره ډېرې عمده لارښوونې لري.

نو د مسلمانې کورنۍ بل عمده رکن دا دی چې په ظاهري او مادي لحاظ پاکه او منظمه وي او په معنوي او باطني لحاظ له فساد او د فساد له محرکاتو خالي او په هغې کې د ذکر او عبادت فضاء حاکمه وي، دکورنۍ غړي هم خپل کورنۍ ماحول په مادي لحاظ پاک او منظم وساتي او هم په معنوي لحاظ له فساد او د فساد له وسائلو خپله کورنۍ پاکه کړي، او پر ځای يې د ذکر او عبادت، تعليم او دعوت ماحول رامنځته کړي.

Bawar.net

## پنځم بحث

## د مسلماني کورنۍ روابط له نورو سره

د انسانانو تر منځ روابط او دوستي د څه ارزښتونو او مناسبتونو پر بنسټ کیږي، هغه خلک یو له بل سره رابطه ساتي او پالي ئې چې په خپلو کې مشترک عقاید، افکار، اهداف، ګټې او یا حد اقل مجبوریتونه ولري، دا مناسبتونه یا معنوي وي او یا هم مادي چې د هغې پر بنسټ د انسانانو تر منځ اړیکې جوړیږي.

مسلمانان مکلف دي دا اړیکې د فکر او عقیدې په حدودو کې وپالي، اسلام خپلو لارویانو ته د اړیکو حدود ټاکلي، اسلام مسلمانانو ته د هغوی دوستان او دښمنان په ګوته کړي، مسلمان، مسلمانه کورنۍ او اسلامي ټولنه په دې مکلف ګرځول شوې چې د خپلې دوستۍ او دښمنۍ حدود له اسلام څخه واخلي، له هغه چا سره رابطه ولري چې اسلام ورته حکم کوي او له هغه چا بېزاره وي چې اسلام ورته د مقاطعې امر کړی، هېڅ مسلمان او مسلمانه ټولنه حق نه لري د خپلو ذاتي او شخصي غوښتنو او ګټو پر بنسټ له چا سره دوستي او یا دښمني وکړي.

د مسلمان دوستان او دښمنان الله معرفي کړي او مسلمانان مجبور نه دي په تکراري او ډېر کله ناقصو تجربو خپل دوستان او دښمنان وپېژني، بلکې دا هر څه الله د خپل فضل له مخې مسلمان ته ښکاره او واضح

Bawar.net

بیان کړي، مسلمان ته حلال څیزونه او اعمال چې د دنیا او آخرت په ګټه ئې دي او حرام څیزونه او اعمال چې د دنیا او آخرت په زیان ئې دي په واضح ډول بیان شوي او همدارنګه دوستان چې د هغه د دنیا او آخرت ملګري دي او دښمنان چې د هغه په دنیا او آخرت کې نشي ملګري کیدی ښودل شوي او مسلمان باید په همدې حدودو کې د ژوند معاملات او روابط تنظیم کړي.

مسلمان، مسلمانه کورنۍ او مسلمانه ټولنه په دې مکلف دي چې د اسلام له لوري په ښکاره ډول ټاکل شوي او ښودل شوي دوستانو سره دوستي او له دښمنانو سره دښمني وکړي که دا هر څوک وي، هغه کسان چې اسلام ئې دښمن بولي که په انساني رابطه کې د یو مسلمان پلار، مور، ورور او خور هم وي هغه د مسلمان دښمن دی او باید مسلمان ورسره دښمني وکړي او هغه چې مسلمان ته دوست معرفي شوی که د دنیا په بل ګوټ کې ژوند کوي او د بل نژاد او ژبې څښتن وي بیاهم د مسلمان دوست دی، مسلمان مکلف دی چې د انساني رابطې په لحاظ دغه نږدې خو دښمن سره مقاطعه او له هغه لرې خو دوست سره دوستي وکړي.

د مسلمانې کورنۍ په اصولو او مواصفاتو کې یو رکن دا دی چې د دې کورنۍ اړیکې د دین په عنوان او د دین په حدودو کې پالل کیږي،

Bawar.net

مسلمانه کورنۍ له هغو خلکو او کورنیو سره رابطه جوړوي او پالي ئې چې د دین په حدودو کې ورته جواز لري او د دې رابطې په پاللو سره دې کورنۍ ته د صله رحمۍ او یا اسلامي اخوت پر بنسټ اجر حاصلیږي او له هغه خلکو او کورنیو خپل برأت اعلانوي کوم چې دین له هغو سره د رابطې او دوستۍ اجازه نه ورکوي.

د مسلمانې کورنۍ اړیکې که تش ناسته او ولاړه وي، یا د غم او خوشحالۍ په محافلو کې برخه اخیستل وي او یا بلاخره دوستي او خپښي وي ټول باید یوازې له هغو کورنیو سره وشي چې پر هغوی د مسلمانې کورنۍ اطلاق کیدی شي او په کې اسلامي ارزښتونه ژوندي وي، یعنې مسلمانې کورنۍ باید خپلې اړیکې یوازې له مسلمانو کورنیو سره وپالي، نبي کریم۲ په دې برخه کې فرمایي: **لا تصاحب إلا مؤمنا، ولا یأکل طعامک إلا تقي**(ابوداود او ترمذي له ابی سعید روایت کړی)- **ترجمه: له مؤمن پرته بل چا سره ملګرتیا مه کوه او له متقي پرته بل چاته ډوډۍ مه ورکوه.** او موږ هم هره ورځ په وتر لمانځه کې له خپل رب سره تعهد کوو: **و نخلع و نترک من یفجرک**- ترجمه: **او پرېږدو هغه خلک چې ستا نافرماني کوي.**

د پورتنیو خبرو معنی دا نه ده چې په اسلامي ټولنه کې د مفسدینو د اصلاح فکر او له هغوی سره د اصلاح په نیت ناستې ولاړې قطع شي، په اسلامي ټولنه کې له مفسدینو سره د اصلاح په نیت محدوده رابطه او د هغوی د اصلاح .کوښښ د مسلمان او مسلمانو کورنیو له مسؤلیتونو

Bawar.net

دي، خو شرط دا دی چې په دې رابطه کې د اصلاح نیت او د اصلاح برنامه وي، د اصلاح دعوت او د اصلاح کار وشي، له مفسدینو سره نېک اخلاق، د هغوی د دعوت په لاره کې له مختلفو حکمتونو کار اخیستل او د همدې هدف لپاره په انساني ژوند کې له هغوی سره تعاون او مرسته دا ټول نه یوازې ممنوع نه دي بلکې د مسلمان د مکلفیتونو برخه جوړېږي.

له مفسدینو سره داسې رابطه منع او د دې رکن خلاف ده چې د مفسد او یا مفسدې کورنی د اصلاح په ځای صالح انسان او یا صالحه کورنۍ د فساد په لوري بیایي، مسلمان او مسلمانه کورنۍ د مفاسدو په وړاندې بې باکه کوي، د مسلمان او مسلمانې کورنۍ اوقات ضایع کوي او د هغوی اسلامي وجاهت ته تاوان رسوي، برعکس هغه محدوده رابطه چې د مفسدینو د اصلاح لپاره پالل کیږي د دې اصل خلاف نه ده، له دې خبرې نتیجه داسې کیږي چې دلته د رابطې درې حالته دي:

**١- کامله رابطه:** کامله رابطه له هغو مسلمانانو او مسلمانو کورنیو سره چې پر هغو د حقیقي مسلمانو کورنیو اطلاق کیږي، او دا رابطه د اسلامي اخوت او صله رحمی پر بناء د اجر ګټلو په نیت پالل کیږي، په دې هکله قرآن کریم فرمایي: **وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ**(التوبه۷۱)- **ترجمه: مؤمن سړي او مؤمنې ښځې د یو بل دوستان دي.** دا دوستي

Bawar.net

باید د مسلمانو کورنیو تر منځ وپالل شي او دا دوستي یو بل ته د خیر په لوري د تلو وسیله وګرځي.

**۲- محدوده رابطه:** محدوده رابطه له مفسدینو او غیر محاربو کفارو سره چې په اسلامي ټولنه کې ژوند کوي او مسلمانان د هغوی په دعوت مکلف دي، البته دا رابطه په ټوله معنی د دعوت او اصلاح لپاره وي او یوازې په همدې حد کې پالل کیږي، په دې هکله قرآن فرمایي: **ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ۖ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ**(النحل۱۲۵)-

**ترجمه:راوبوله د الله لارې ته په حکمت او غوره نصیحت سره او بحث وکړه له دوی سره په هغې طریقې چې تر ټولو ښه طریقه وي.** یعنی له هغو سره چې د دعوت لاره خلاصه وي باید دومره رابطه وي چې هغوی په غوره طریقې د الله لارې ته راوبلل شي.

**۳- کامله مقاطعه:** کامله مقاطعه له هغو خلکو او کورنیو سره چې د اسلام له حدودو وتلي او خارج ملت دي او له اسلام سره ئې د دښمنی لاره غوره کړې که دا په نسبي او انساني رابطې د یو مسلمان او مسلمانی کورنی غړي او یا نږدې خپلوان بلل کیږي بیا هم مسلمان او مسلمانه کورنی له هغوی سره هېڅ رابطه نه لري، په دې هکله قرآن فرمایي: **لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ**

Bawar.net

ورضوا عنه أولئک حزب الله ألا إن حزب الله هم المفلحون(مجادله۲۲) - ترجمه ته نشي موندلی داسې قوم چې په الله او ورځ د آخرت ایمان لري او بیا دوستي وکړي له هغه چا سره چې د الله او د هغه له رسول سره دښمني کوي که هغه د دوي پلرونه وي یا زامن یا ورونه او یا کورنی، دا هغه خلک دي چې د هغوی په زړونو کې الله ایمان لیکلی او له غیبو ئې د هغوی مرسته کړې او داخلوي دوی هغه جنتونو ته چې لاندې ئې نهرونه روان دي، دوی به تل وي هلته، الله به له دوی او دوی به له الله راضي وي، دا خلک د الله ډله دي او خبردار چې د الله ډله کامیابه ده.

خلاصه دا چې د اسلامي اخوت او صله رحمی پر بنسټ د روابطو په پاللو کې د ډېرو زیاتو اجرونو ذکر شوی او مسلمانه کورنی باید خپل مکلفیت وګڼي چې له نورو مسلمانو کورنیو سره رابطه جوړه او وپالي، خپلې دوستی او خپښنی هم یوازې له مسلمانو کورنیو سره وکړي، له هغو خلکو سره چې په مفاسدو اخته دي محدوده دعوتي رابطه ولري نه داسې رابطه چې مسلمانه کورنی په فساد اخته کړي او له هغو خلکو سره چې د الله او اسلام د دښمنی لاره ئې خپله کړې پوره مقاطعه وکړي.

Bawar.net

## شپږم بحث

## د مسلماني کورنۍ عواید

په مسلمانه کورنۍ کې له اساسي اصولو بل اصل حلال عاید او له حلالې لارې د ژوندانه مادي ضرورتونه ترلاسه کول دي، د حلال رزق ترلاسه کول په مستقل ډول د الله حکم او امر دی او د مسلمانې کورنۍ د جوړولو او پاللو لپاره هم واجبي امر دی، یعنې د مسلمانې کورنۍ روزل او پالل په مادي لحاظ یوازې په حلال رزق او عاید ممکن دي او هغه مهال یوه کورنۍ په حقیقي ډول مسلمانه کورنۍ بلل کیدی شي چې د کورنۍ غړي له حلال رزق تغذیه کیږي او د ژوند له حلالو وسائلو استفاده کوي.

په انسان د حرام خوراک، څښاک او لباس ډیر اثر وي، په حرامو د روزل شویو خلکو معنویت رباني تربیت نشي ترلاسه کولی، کوم جسم چې په حرامو وروزل شي د الهي عبادت ثقل او دروندوالی نشي اوچتولی، اسلامي اخلاق هم له حرامو په تغذیه شویو خلکو کې ځای نه شي نیولی، دا حقیقت دی چې له حرامو لارو او وسائلو تغذیه شوي خلك له اسلامي اخلاقو محروم او د الهي عبادت له توفیق بې برخې وي.

مسلمانه کورنۍ باید له حلالو لارو او وسائلو د رزق او ضرورتونو ترلاسه کولو لپاره اقتصادي برنامه ولري، داسې اقتصادي برنامه چې نه

Bawar.net

یوازې د دې مسلمانې کورنۍ کفالت پرې وشي بلکې له نورو بې وزلو مسلمانانو سره د مرستې یوه وسیله هم وي، د مسلمانې کورنۍ اقتصادي نظام د دې محدود هدف لپاره نه وي چې یوازې خپل ضرورتونه رفع کړي بلکې تر دې ستر هدف دا وي چې له نورو مسلمانانو سره د مرستې یوه ذریعه وګرځي.

په اسلام کې څه عباداتو ته ځاني عبادات وایي چې د انسان د بدن په واسطه سرته رسیږي لکه: لمونځ، روژه، ذکر، تلاوت او داسې نور، څه عبادات داسې دي چې د مال په ذریعې تر سره کیږي لکه: زکات او صدقات چې د مالي عباداتو په نامه یادیږي، څه نور عبادات بیا داسې دي چې په ځان او مال دواړو ترسره کیږي او مالي ځاني عبادات بلل کیږي لکه: حج، جهاد او داسې نور، که یو مسلمان او یا مسلمانه کورنۍ د ښه او پیاوړي اقتصاد لرونکې وي کولای شي د اسلام د عباداتو درې واړه ډولونه ترسره کړي او د ټولو له اجر برخمن شي.

د همدې هدف لپاره چې یوه مسلمانه کورنۍ او د هغې کورنۍ غړي د الهي عبادت ټول ډولونه ترسره او اجر ئې ترلاسه کړي او د خپل ژوند ضرورتونه هم له حلالې لارې ترلاسه کړي باید له حلال کسبه د ښه اقتصاد درلودلو لپاره کوښښ وکړي او له حرامو ځان وژغوري.

Bawar.net

خلاصه دا چې د مسلمانې کورنی لپاره حلال عواید په حلالې وسیلې د کورنی پاللو لپاره او هم له نورو مسلمانانو سره د مرستې او مالي عباداتو لپاره واجبي امر او د مسلمانې کورنی د جوړښت یو بل مهم او اساسي اصل دی، مسلمانه کورنی له دې اصل پرته نشي رامنځته کیدی، په حرامو پالل کېدونکي خلک نه یوازې د مالي عباداتو اجر نشي ترلاسه کولی بلکې د ځاني عباداتو له توفیق هم بې برخې وي او د داسې خلکو مجموعې ته چې له الهي عباداتو بې برخې وي د مسلمانې کورنی نوم نشو ورکولی.

### د فصل خلاصه

لکه څنګه چې مسلمانه کورنی له اسلامي شخصیتونو جوړه شوې همدارنګه اسلامي ټولنه له مسلمانو کورنیو جوړیږي، مسلمانه کورنی د اسلامي ټولنې د تشکیل او تعمیر واحد دی او له مسلمانو کورنیو پرته نشي جوړیدی، د اسلامي ټولنې او نظام رامنځته کول د مسلمانانو ستره فریضه ده او دا فریضه هغه وخت ترسره کیږي چې د اسلامي ټولنې جوړولو لپاره مسلمانې کورنی رامنځته شي، اساساً هره انساني ټولنه له کورنی پرته نشي جوړیدی، او که د انسانانو ټولنه له کورنی پرته جوړه شي د انساني ټولنې مفهوم نشي اخیستی، د انساني او حیواني ټولنو تر منځ یو اصلي توپیر همدا دی چې انسانان د کورنیو په شان ژوند کوي او انساني ټولنې له کورنیو جوړې شوې دي.

Bawar.net

اسلام د خپلو اصولو پر بنسټ د یوې انساني او اسلامي ټولنې د جوړېدو لپاره د کورنۍ کردار بنسټیز کردار ګڼي، او د کورنۍ تعمیر او پالل د انساني مدنیت اساس بولي، له همدې خایه ده چې د یوې مسلمانې کورنۍ د جوړېدو له لومړي ګامه تر جوړېدو او پالل کېدو پورې هرې مرحلې ته اصول او ضوابط وړاندې کوي.

یوه کورنۍ چې په پیل کې له یو انساني جفت(سړي او ښځې) څخه جوړېږي او بیا وده کوي د اسلام له نظره باید د څه معیاري اصولو پر بنسټ جوړه او وپالل شي، کله چې یو مسلمان د کورنۍ جوړولو په تکل ځانته د ژوند شریک غوره کوي له همدې مرحلې اسلام وايي دا انتخاب باید د داسې معیارونو په اساس وشي چې د مسلمانې کورنۍ د جوړېدو هدف ترلاسه شي، هم نارینه د مسلمانې کورنۍ د جوړېدو د ستر هدف لپاره په اسلامي معیار برابر ښځه انتخاب کړي او هم ښځه د همدې هدف لپاره نارینه انتخاب کړي، دا د مسلمانې کورنۍ د جوړېدو لپاره لومړی ګام دی چې اخیستل کیږي او له همدې ځایه باید دا تخم اصلاح شوی تخم وي چې ښه ونه او ښه مېوه راوړي.

له انتخاب وروسته د نکاح عقد او په هغه کې د اسلامي احکامو التزام، د ښځې او خاوند تر منځ د اسلامي ژوند پیل او په هغه کې د الهي احکامو پوره پابندي، د نوې تأسیس شوې مسلمانې کورنۍ په داخل

Bawar.net

کې د ښځې او خاوند تر منځ د مينې او محبت داسې علاقه جوړول چې د يو بل حقوق رعايت او يو بل ته له خپل حق د ايثار تر کچې تېرېدل وي د مسلمانې کورنۍ د پيل نور اساسي اصول دي.

وروسته له هغه چې يوه مسلمانه کورنۍ جوړه شوه دا کورنۍ هغه وخت مسلمانه کورنۍ پاتې کېدی شي او يوه رښتينې مسلمانه کورنۍ بلل کېدی شي چې د پورتنيو صفاتو او معيارونو څښتنه وي، يعنې د کورنۍ غړي اسلامي شخصيتونه وي، د دې غړيو تر منځ رابطه په اسلامي احکامو برابره د احترام او شفقت په معيار او د نصيحت او خير خواهۍ پر اساس وي، د کور ماحول له مفاسدو او د فساد له وسائلو او اسبابو پاک او د ذکر او عبادت ماحول وي، يوازې له مسلمانو کورنيو سره رابط ولري او له حلال مدرک خپل ضرورتونه پوره کړي، دا پنځه اصول د مسلمانې کورنۍ اساس او بنسټ جوړوي.

که موږ غواړو مسلمانې کورنۍ وپېژنو نو په پورتنيو مواصفاتو ئې پېژندلی شو، که پورتني صفات په يوې کورنۍ کې موجود ول مسلمانه کورنۍ ده او که د دې صفاتو لږه برخه پکې وه نو تر يوې کچې مسلمانه کورنۍ ده او که هيڅ نه ول نو دا کورنۍ مسلمانه کورنۍ نشي بلل کېدی، همدارنګه که موږ د يوې مسلمانې کورنۍ د جوړولو په تکل کې يو نو دا مسلمانه کورنۍ يوازې د همدې اصولو په نظر کې

Bawar.net
نیولو سره جوړولی شو او هغه وخت دا کورنی تر پایه د یوې مسلمانې کورنی په توګه ساتلی شو چې په کې د همدې پورتنیو اصولو ساتنه وکړو.

د پورتنیو اصولو خلاصه دا ده چې یوه مسلمانه کورنی له جوړېدو وروسته هغه وخت مسلمانه کورنی بلل کیدی او پاتې کیدی شي چې په غړیو کې ئې د اسلامي شخصیتونو معیارونه او صفات موجود وي، د غړیو تر منځ ئې روابط د احترام، شفقت او یو بل ته د حقوقو اداء کولو پر بنسټ وي، ماحول ئې منظم، نظیف، د ذکر او عبادت ماحول وي او له فساد او د فساد له محرکاتو پاک وي، روابط ئې له مسلمانو کورنیو سره وي او له حلالې لارې او وسیلې د خپل ژوند ضرورتونه او رزق ترلاسه کړي.

Bawar.net

# درېیم فصل

## مسلمانه ټولنه یا اسلامي جماعت(په یوې ټولنې کې د اسلام حقیقت)

- د اسلامي ټولنې یا اسلامي جماعت پېژندنه
- د اسلامي جماعت التزام
- د اسلامي جماعت افراد
- د اسلامي جماعت قیادت
- داسلامي جماعت نظام
- داسلامي جماعت برنامه
- د فصل خلاصه

Bawar.net

دریم فصل

## لومړی بحث

## د اسلامي ټولنې پېژندنه

په انساني دستور کې د ډېرو انساني کورنیو مجموعې ته انساني ټولنه وايي، دا دستور یوازې نن په غربي نړۍ کې مات شوی او هغوی له کورنیو پرته خپلې مجموعې ته ټولنه وايي چې نه یوازې انساني تاریخ د داسې غلط تعبیر خلاف دی، بلکې انساني فطرت او د دې فطرت پر بنسټ د انسانانو تر منځ ټول منل شوي اصول او حتی د نن ورځې ساینسي تحقیقات د دې خبرې مخالف دي او د غربي نړۍ ټولنیز ژوند له دې ناحیې انساني ژوند نه بولي چې هغوی په خپلې ټولنې کې کورنۍ له منځه وړې او ګمان کوي چې مستقیماً له انسانانو لویه ټولنه او اجتماع جوړېدی شي، د نن ورځې د غربي تصور خلاف انساني ټولنه هغه ده چې د انسانانو د کورنیو له مجموعې جوړه شوې وي کوم چې په خپلو کې د خاص فکر او منفعت پر بنسټ راټول شوي وي.

د انسانانو په ټولنه کې د یو خاص فکر او یا منفعت شتون څکه شرط دی چې له دې پرته انساني ټولنه په خپل حال نشي پاتې کېدی، که د یوې ټولنې د جوړ شویو ارکانو تر منځ فکري او یا د منافعو وحدت نه وي هغوی به هر یو د خپلې عقیدې او یا منفعت په پاللو کې بیلې لارې

Bawar.net

غوره کوي او ټولنه به په مختلفو لارو درومي چې په طبعي ډول داسې ټولنه دوام نشي موندلی.

د ټولنې د تشکیل او جوړېدو فکر او یا منفعت مختلف عنوانونه لري، کله ټولنې د قام په نامه، کله د ژبې په نامه، کله د هېواد په نامه او کله هم د دین او مذهب په نامه جوړیږي، چې دا ټول(قام، ژبه، هېواد، دین او مذهب) په حقیقت کې د راټول شویو خلکو عقیده او یا هم منفعت او مجبوریت وي، دوی په دې نومونو یا خپله عقیده پالي او یا هم خپلې ګټې خوندي کوي، او همدا عقیده او یا منافع د دې ټولنو محور جوړوي.

د پورتني اصل مطابق اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده چې د اسلام په فکر او عقیدې رامنځته شوی وي او د دې ټولنې غړي د اسلامي فکر او عقیدې په محور راټول وي، د دوی ترمنځ د تړاو رسۍ اسلامي عقیده او اسلامي فکر وي، دوی خپله ګټه او سعادت په اسلام کې ګوري او دوی د ځان پر ځای د اسلام ګټې پالي تر څو دوی ته سعادت او نېکبختي نصیب شي، یا په بلې معنی د اسلامي ټولنې په نامه راټول شویو خلکو کې فکر او عقیده اسلام او هدف په اسلام عمل او د اسلام حاکمیت وي، هغوی د اسلام د عقیدې او عمل په ټولو اصولو ځان

Bawar.net

مکلف بولي او خپله تر ټولو لویه ګټه او منفعت همدا ګڼي چې اسلام د دوی او ټول انسانیت په عملي ژوند کې حاکم شي.

له پورتني بحث دا څرګندیږي چې که په یوې سیمې کې ډیر مسلمانان راټول شي او د هغوی په دغه ټولي کې لوی هدف په کامل اسلام عمل او د اسلام حاکمیت نه وي؛ دا ټولنه اسلامي ټولنه نشي بلل کیدی، برعکس د شمیر په لحاظ ډیر کم خلك چې د اسلامي عقیدې په تړاو راټول شوي او د همدې عقیدې د حاکمیت هوډ لري اسلامي ټولنه، مسلمانه ډله او اسلامي امت بلل کیږي. قرآن د اصحاب کهف او یا یوازې ابراهیم عليه السلام ټولي ته مسلمانه ډله او اسلامي امت ویلي دا ځکه چې هغوی له کفر د برائت او د اسلامي فکر د حاکمیت هوډ اعلان او د هغې لپاره ئې مبارزه پیل کړې وه.

له پورتني مقدمې دا نتیجه اخیستل کیږي چې اسلامي ټولنه هم یوه تشه دعوی نه ده چې د څو مسلمانو کورنیو په راټولیدو رامنځته شي، بلکې د دې ټولنې لپاره عمده شرطونه دا دی چې راټول شوي مسلمانان د اسلام په عقیدوي او فکري پولو کې ژوند اختیار کړي، دوی په خپل ژوند کې په اسلام د عمل حقیقت ربنتینی کړي او په دې هم بسیا نه شي بلکې په ټولې انساني ټولنې کې د اسلام د حاکمیت لپاره د دعوت او جهاد لار غوره کړي.

Bawar.net

د اسلامي ټولنې یو عمده اصل چې د اسلام د حاکمیت فکر او د هغه لپاره عمل(دعوت او جهاد) کول دي له اسلامي نظام او یا حد اقل اسلامي تحریک پرته نشي رامنځته کیدی، د دې خبرې معنی دا ده چې د مسلمانانو تجمع هغه وخت اسلامي ټولنه بلل کیدی شي چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې ژوند کوي او یا حد اقل له هغه اسلامي تحریک سره ژوند کوي چې هغه د اسلام د حاکمیت لپاره کار کوي، نو له اسلامي نظام او یا اسلامي تحریک پرته اسلامي ټولنه نشي رامنځته کیدی، اسلامي نظام او یا اسلامي تحریک دی چې د مسلمانانو ټولنې ته د اسلامي ټولنې حقیقت وربښي.

اوس موږ د اسلامي ټولنې پېژندنه په دې اصولو کولی شو چې د مسلمانانو هغه تجمع ته اسلامي ټولنه ویل کیږي چې هغوی د اسلامي نظام تر سیورې لاندې او یا د اسلامي تحریک په ملتیا کې ژوند کوي کوم چې په ټولنه کې د اسلامي نظام د راوستلو لپاره د دعوت او جهاد په عنوان منظم حرکت لري، اسلامي ټولنه یوازې د اسلام په فکري او عقیدوي اصولو قانع شویو مسلمانانو ته نه؛ بلکې هغو مسلمانانو ته ویل کیږي چې د دې عقیدوي او عملي منهج پر بنسټ ژوند اختیاروي او د همدې دستور او منهج د حاکمیت لپاره اسلامي نظام حاکم او یا د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره د اسلامي تحریک ملتیا کوي، وروسته موږ په تفصیل سره دا خبره کوو چې د اسلامي نظام په موجودیت کې

Bawar.net

د اسلامي نظام تر چتر لاندې ژوند او که اسلامي نظام نه وي د اسلامي تحريك او جماعت سره ملتيا د مسلمانانو فريضه او وجيبه ده او هر مسلمان مكلف دى چې د اسلامي نظام او يا كه اسلامي نظام حاكم نه وي د اسلامي جماعت او تحريك ملتيا وكړي او په دې سره ځان د مسلمانانو د ټولنې غړى وګرځوي.

په خلاصه ډول د اسلامي ټولنې عام معرفت همدا دى چې اسلامي ټولنه د مسلمانانو هغه ټولنه ده چې د اسلام په پاكې عقيدې راټول او د خپل ژوندانه په ټولو چارو كې ئې اسلام پلى كړى يعنې د اسلامي نظام د حاكميت مرحلې ته رسېدلي او يا له اسلامي تحريك سره په ملګرتيا كې د اسلامي نظام د حاكميت لپاره دعوت او جهاد كوي او غواړي په ټولنه كې اسلام حاكم شي.

موږ په هغې مرحلې چې اسلامي ټولنه كې اسلامي نظام حاكم شوى وي وروسته بحث كوو، دلته په دې فصل كې د اسلامي تحريك سره د ملتيا په مرحله كې د اسلامي ټولنې اصول او مواصفات بيانوو، دا هغه مرحله ده چې اسلامى نظام نه دى حاكم او د اسلامي نظام د حاكميت لپاره اسلامي تحريك د مسلمانانو ټولنه رهبري كوي او دوى د تمكين مرحلې ته نه دي رسيدلي په دغې مرحلې كې موږ د اسلامي ټولنې په ځاى د اسلامي جماعت نوم غوره كړى، د اسلامي تحريك په ملتيا كې

Bawar.net

د اسلامي ټولنې لپاره ډېر نومونه اېښودل شوي چې ټول په يوه معنی دلالت کوي لکه: اسلامي تحريک، اسلامي نهضت، اسلامي حزب، اسلامي جماعت، حزب الله، جندالله او ډېر داسې نور نومونه چې معنی ئې هماغه اسلامي ټولنه ده چې د اسلامي نظام لپاره دعوت او جهاد کوي.

په لاندې بحثونو کې د مسلمانې ټولنې(اسلامي جماعت) په هغه عمده او اساسي معيارونو بحث کوو چې له هغې پرته مسلمانه ټولنه خپل حقيقت ته نشي رسېدی، او د يوې مسلمانې ټولنې په پېژندلو او يا جوړولو کې د دې معيارونو په نظر کې نيول حتمي دي، البته لاندني مواصفات د يوې مسلمانې ټولنې ټول اسلامي اصول او صفات نه دي بلکې هغه عمده او حتمي اصول او ارکان دي چې له دې پرته ټولنې ته د مسلمانې ټولنې نوم ورکول ربښتينی خطاب نه دی.

د يادونې وړ ده چې له دې وروسته په دې ليکنه کې د اسلامي ټولنې د دقيق او صحيح درک لپاره د اسلامي ټولنې پر ځای د اسلامي جماعت اصطلاح کاروو يعنې د مسلمانانو هغه ټولنه چې د اسلامي نظام راوستلو لپاره د اسلامي تحريک په ملتيا کې عملاً دعوت او جهاد کوي.

Bawar.net

## دوهم بحث

# په اسلامي جماعت کې د غړيتوب حکم

اسلام د انسان او انساني ټولنې د سعادت لپاره د يو جامع دستور په توګه نه يوازې د انسانانو د اخروي سعادت برنامه لري بلکې د دنيوي ژوند لپاره هم د سعادت او نېک بختۍ يوازېنۍ لاره ده، اسلام خپلو لارويانو ته په دنيا کې هم د يو بختور ژوند لپاره د خپلو نورو مسلمانو وروڼو سره په يوې ټولنې کې - چې په حقيقت کې يوه ستره مسلمانه کورنۍ بلل کېدی شي – د ګډ ژوند امر کوي، اسلام د ګوښه ناستې او رهبانيت خلاف دی او نه غواړي چې د يو مسلمان عقلاني او فزيکي قوتونه د ده په خپل شخصي محور کې محدود پاتې شي او نور انسانان ترې ګټه پورته نکړي، او يا د زمکې پر مخ د الهي نظام له حاکميت غافل پاتې شي او پرېږدي چې د زمکې پر مخ د شيطان ملګري هر څه غواړي هغه وکړي، نو ځکه هم په اسلامي جماعت کې اوسېدل يو ضروري امر ګڼل شوی.

په اسلامي جماعت کې ژوند کول د اسلام د حاکميت او د الهي خلافت د موخې ترلاسه کولو لپاره مهم شرط دی، هغه الهي خلافت چې انسان د هغه لپاره پيدا شوی او مکلف ګرځول شوی چې د زمکې پر مخ د الله ﷻ د خليفه په توګه د هغه احکام نافذ او عملي کړي، له اسلامي جماعت پرته په فردي توګه هېڅوک نشي کولی د الله ﷻ په

Bawar.net
زمکه د اسلامي حاکمیت د د قائمېدو لپاره کوم مؤثر کار وکړي او د اسلام ستر ټولنیز رسالتونه ترسره کړي، له اسلامي جماعت پرته د مسلمانانو ژوند ناقص دی نو ځکه هم عمرؓ فرمايي: **إِنَّهُ لَا إِسْلَامَ إِلَّا بِجَمَاعَةٍ ، وَلَا جَمَاعَةَ إِلَّا بِإِمَارَةٍ ، وَلَا إِمَارَةَ إِلَّا بِطَاعَةٍ**(سنن دارمي له تميم الداری روايت کړی)-

**ترجمه: حقیقت دا دی چې له جماعت پرته اسلام نشته او له امیر پرته جماعت نشته او له اطاعت پرته امیر نشته.** یعنې د اسلام ټولنیز حاکمیت هغه وخت تمثیل کېدی شي چې یو جماعت رامنځته شي، د اسلام د عباداتو نظام، د اخلاقیاتو نظام، د معاملاتو نظام، سیاسي نظام ټول د اسلامي نظام او که اسلامي نظام نه وي د اسلامي جماعت په وجود کې تمثیل کېدی شي نو ځکه هم مسلمان ته په اسلامي جماعت کې ژوند حتمي دی.

اجتماعیت او نظم په اسلام کې د مسلمانانو د ټولنیز ژوند داسې دستور دی چې یوازې د یوې لارښوونې او یا توصیې په حد کې نه ده مطرح شوې بلکې د اسلام عبادتي مراسم او احکام ټولو مسلمانانو ته د اجتماعیت او نظم او په اسلامي جماعت کې د ژوندانه عملي تربیت ورکوي، مسلمانانو ته د یوه امام تر شا د اقتداء، نظم او په یوې قومندې د عمل کولو طریقه ورښايي، هغوی تربیه کوي چې د قام، ژبې او هېواد له توپیرونو پرته څنګه په اسلامي صف کې د یوه امام ترشا د حکم منلو ته تیار شي او په پوره اطاعت د هغه امام هر حرکت تعقیب کړي.

Bawar.net

د لمانځه په صف کې مسلمانان د داسې چا تر شا چې تر دوی ټولو په قرآن پوه او متقي انسان وي، د امامت اهليت ولري، عدالت ولري او د ضعيفانو خيال وساتي، يوازې ځان ته دعا نه کوي د ټول امت د نجات غم ورسره وي اقتداء کوي، او دا عمل په ورځ کې پنځه ځله تکراريږي چې په حقيقت کې دا يو عملي تربيت دی چې مسلمانان ئې د اسلامي جماعت د جوړولو لپاره هره ورځ اخلي، په هغه کې د امام اهليت او ټاکل، د مقتدي حقوق او اطاعت هر څه مسلمانانو ته وربښودل کيږي.

الهي احکام او نبوي ارشادات په صراحت سره دا خبره کوي چې مسلمانان مکلف دی په اسلامي جماعت کې ژوند وکړي، دا د مسلمانانو فريضه او وجيبه ده او بايد له يوازې ژوند کولو ځان وژغوري، همدا مسلمانانو ته د خلاصون او کاميابئ د لارې په توګه معرفي شوی، په دې هکله د مثال په ډول مورږ دلته څو نصوص ذکر کوو:

الله فرمايي:**وَاصْبِرْ نَفْسَکَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاکَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا**(الكهف۲۸)- **ترجمه: و ساته ځان له هغو کسانو سره چې رابولي خپل رب سهار او بېګاه او د هغه رضا غواړي، او سترګې ترې مه اړوه،** (که داسې وکړې) **نو ته د دنيا د ژوند زينت غواړې.** په دې آيت کې الله له مسلمان جماعت او ټولي سره په داسې

Bawar.net

ملګرتیا امر کوي چې مسلمان تري یوه شیبه هم غافل نه شي او سترګي وانړوي، همدارنګه په بل ځای کې فرمايي: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ**(التوبه۱۱۹)- **ترجمه:اې د ایمان خاوندانو! له الله وېره وکړئ او له صادقینو سره ملګرتیا وکړئ**، د صادقینو ملګرتیا په اسلامي جماعت کې اوسېدل دي، په بل ځای کې الله ﷻ د خپل دوستۍ شرط په اسلامي صف او جماعت کې اوسېدل او د الله په لاره کې جنګېدل بولي: **إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ**(الصف۴)- **ترجمه: الله خوښ ګڼي هغه خلک چې په یوه منظم او مظبوط صف کې د الله په لاره کې جنګیږي.**

نبي کریم۲ هم فرمايي: **وأنا آمركم بخمس كلمات أمرني الله بهن: الجماعة، والسمع والطاعة، والهجرة والجهاد في سبيل الله، فمن خرج من الجماعة قيد شبر فقد خلع ربقة الإسلام من عنقه إلا أن يرجع**(ترمذی له حارث بن اشعری روایت کړی)- **ترجمه:زه تاسو ته په پنځو خبرو امر کوم هغه چې ماته پرې الله امر کړی: په جماعت کې اوسېدل، د اوامرو اورېدل، اطاعت کول، هجرت او د الله په لاره کې جهاد کول، که څوک د یوې لوېشتې په اندازه له جماعت لرې شو هغه د اسلام غاړکی له خپلې غاړې لرې کړه تر هغه چې بېرته جماعت ته راوګرځي.**

همدارنګه په بل حدیث کې فرمايي: **من فَارق الْجَمَاعَة شبْرًا فقد خلع ربقة الْإِسْلَام من عُنُقه**(ابوداود له أبی ذر روایت کړی)- **ترجمه: څوک چې له جماعت د یوې لوېشتې په اندازې لرې شو هغه د اسلام غاړکی له غاړې لرې کړه.** په بل

Bawar.net

حدیث کې فرمايي: عليكم بالجماعة، وإياكم والفرقة، فإن الشيطان مع الواحد وهو من الاثنين أبعد، فإنما يأكل الذئب من الغنم القاصية(احمد او ترمذي له عمر روایت کړی)- ترجمه:پر تاسو جماعت کې اوسېدل او له تفرقې ځان ساتل لازم دي، شیطان له یوه سره وي او له دوو کسانو لرې وي، لیوه هم له رمې بېل شوی گډ خوري. همدارنگه بل روایت دی چې رسول الله۲ فرمایي: وَالْجَمَاعَةُ رَحْمَةٌ وَالْفُرْقَةُ عَذَابٌ(احمد او ترمذي له عمر روایت کړی)- ترجمه: جماعت رحمت دی او تفرقه عذاب. له جماعت سره د الله مرسته وي، نبي کریم۲ فرمایي: يد الله مع الجماعة (ابن جریر له عمر روایت کړی)- ترجمه: د الله مرسته له جماعت سره وي. او په لسگونو نور داسې نصوص شته چې په جماعت کې ژوند د مسلمان مکلفیت بولي او همدا ژوند هغه ته د نجات لار گڼي.

له پورتنیو ټولو نصوصو په څرگند ډول ښکاري چې ټول مسلمانانو مکلف دي د خپلو ټولنیزو مسؤلیتونو د ترسره کولو لپاره په جماعت کې ژوند وکړي او د اسلامي جماعت غړیتوب ولري، د نورو مسلمانانو سره یوځای په یو منظم صف کې دعوت او جهاد وکړي او له یوازېتوب او تفرقې ځان وژغوري.

Bawar.net


## د اسلامي جماعت افراد یا غړي

اسلامي جماعت له څلورو عمده ارکانو جوړ شوی، چې عبارت دي له: افراد، قیادت، نظام او د عمل برنامه، اسلامي جماعت افراد لري، قیادت لري، د منظم سیستم او نظام څښتن وي او بیا د عمل لپاره منظمه برنامه لري، د اسلامي جماعت د دغو ارکانو اجمالي صفت داسې کولی شو چې اسلامي جماعت له رښتینو اسلامي شخصیتونو جوړ شوی وي، چې صالح قیادت ئې رهبري کوي، په شوری ولاړ نظام لري او د الله پر ځمکه د الهي قانون د حاکمولو لپاره د دعوت او جهاد برنامه پر مخ وړي، او دا څلورګوني ارکان د اسلامي جماعت د جوړښت ستنې بلل کیږي.

د اسلامي جماعت لومړنی رکن او جوړوونکی عنصر د اسلامي جماعت غړي او افراد دي، دا چې زموږ بحث اسلامي جماعت دی نو حتماً د اسلامي جماعت غړي رښتیني مسلمانان وي، دا چې اسلامي جماعت په حقیقت کې د مسلمانانو ستره کورنی ده او په تېر بحث کې مو په تفصیل سره وویل چې د مسلمانې کورنی غړي باید اسلامي شخصیتونه وي، دلته هم د مسلمانانو په دې سترې کورنی(اسلامي جماعت) کې غړي مسلمان شخصیتونه وي هغه مسلمان شخصیتونه چې د دوی په فکر، اخلاق، پوهې، عمل او ټولنیزو رسالتونو کې د اسلام

Bawar.net

حقیقت راغلی وي، هغه اسلامي شخصیتونه چې مونږ ئې صفات او معیارونه پخوا بیان کړل.

د اسلامي جماعت غړي د جماعت د قیادت او اصولو په وړاندې مطیع او د خپلو شخصیتونو د تربیوي رشد په لاره کې تل فکرمن خلك وي، د اسلامي جماعت د غړیو امتیازي صفت د اطاعت صفت دی چې له دې صفت پرته هېڅوك د اسلامي جماعت رښتیني غړي نشي جوړیدی، د اسلامي جماعت غړي په دې جماعت کې ګډون او د دې جماعت ملتیا خپله دیني وجیبه ګڼي او د خپلو ټولنیزو اسلامي مسؤلیتونو د ترسره کولو یوازینۍ لاره بولي، دوی اسلامي جماعت ته د کوم امتیاز او منفعت لپاره نه بلکې د قربانۍ او عبادت په موخه راغلي وي، د اسلامي جماعت غړي د خیر په کارونو کې یو تر بله د مسابقې او تنافس احساس لري خو دا احساس دوی د حسد او کینې په لور نه بلکې یو بل سره د تعاون او همکارۍ په لور بیایي، د دوی تر منځ د اخوت او ورورولۍ داسې احساس وي چې له دوی ئې یو جسد جوړ کړی وي، د دوی درد، غم او خوشحالي هر څه شریك شوي وي او د یوې داسې کورنۍ بڼه ئې خپله کړې وي چې د دوستۍ او دښمنۍ ګډې پولې پالي او یو بل ته د ورونو حیثیت لري.

Bawar.net

په مختصر ډول ویلی شو لکه څنګه چې په مسلمانه کورنی کې مو پرې بحث وکړ د یوې سترې مسلمانې کورنی په توګه د اسلامي جماعت غړي هم مسلمان شخصیتونه او د دوی تر منځ فضأ د وروروولی او محبت داسې فضأ وي چې په کې د مشرانو احترام کیږي او په کشرانو شفقت، د یو بل په خوشحالیو خوشحاله کیږي او په غمونو دردمن، خپل قیادت او جماعت سره داسې مینه او اخلاص لري چې په ښکاره او پټه د هغه مشروع اطاعت کوي، د جماعت لوړو اهدافو ته د رسېدو په لاره کې هرې قرباني ته چمتو وي او خیر د په کارونو کې یو د بل مرسته کوي او هر څوک په دې تکل پر مخ درومي چې تر نورو ډېره قرباني ورکړي او کم دنیوي امتیاز ترلاسه کړي.

موږ دلته د اسلامي جماعت د غړیو فردي مواصفات چې د اسلامي شخصیت په بحث کې مو وویل نه تکراروو او د دوی تر منځ د اسلامي اخلاقو او اسلامي وروروولی پر بنسټ رامنځته شوی ماحول هم په دې ټکو کې خلاصه کوو چې د اسلامي جماعت غړي مسلمان شخصیتونه او د دوی تر منځ رابطه د وروړلی او اسلامي اخوت رابطه وي چې د دوی دوستي او دښمني، د دوی غم او خوشحالي هر څه ئې شریک ګرځولي وي، نو د اسلامي ټولنې لو مړی شاخص د هغه اسلامي شخصیت لرونکي غړي دي چې د اسلامي اخوت په مزي تړل شوي وي او اسلامي جماعت غواړي په خپلو تربیتي برنامو سره دجماعت د

Bawar.net
هر غړي اسلامي شخصيت ته وده ورکړي او د دوی تر منځ د اخوت رابط ټينګه کړي.

له دې ځايه ويلی شو د اسلامي جماعت لومړی صفت او معيار کوم چې کولی شو اسلامي جماعت پرې و پېژنو او يا په رڼا کې ئې اسلامي جماعت رامنځته کړو د مسلمانو غړيو لرل دي، هغه غړي چې د اسلامي شخصيتونو لرونکي او د اسلامي اخوت په پړي يو له بل سره تړل شوي وي.

قرآن کريم د اسلامي جماعت د غړيو يوه بېلګه په ډېرو لوړو کلماتو کې تمثيلوي او فرمايي: **مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ۖ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا ۖ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۗ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا**(الفتح۲۹)- **ترجمه: محمد۲ د الله رسول دی، او ملګري ئې سخت دي پر کفارو او نرم زړي دي په خپلو کې، ته به هر وخت دوی په رکوع او سجدې کې ګورې چې د الله رحم او رضا غواړي، د سجدو اثر او نښې ئې په مخونو کې ښکاري، دا دی د دوی مثال په تورات او انجيل کې په شان د هغه بوټي چې شين شي، بيا قوي شي بيا کلک شي بيا په خپلې ساقې ودرېږي او کروندګر ورته تعجب وکړي تر څو په غصه شي کافران، دا د الله وعده ده له**

Bawar.net

هغو سره چې مؤمنان دي او نېک عملونه کوي هغوی ته ښښنه ده او لوی اجر.
په دې آیت کې د اسلامي جماعت د غړیو څو عمده صفات بیان شوي، ایمان، نېک عمل، ډېر عبادت، د کفارو په وړاندې سختي د مسلمانانو سره ښه اخلاق او د رحمت چلند، چې دا په حقیقت کې هماغه صفات دې کوم چې پخوا د اسلامي شخصیت لپاره بیان شوي دي.

## څلورم بحث

## د اسلامي جماعت قیادت

هره انساني ټولنه خپلو اهداف ته د رسېدو لپاره نظم او نظام ته ضرورت لري، او د هر نظم په رأس کې د قائد او امیر ضرورت وي، په اسلامي جماعت او ټولنه کې د امیر او قائد موجودیت د یو عمده رکن په توګه منل شوی او مسلمانانو ته امر شوی چې کله هم راټول شول د خپلو چارو سمبالولو په موخه نظم جوړ کړي او امیر وټاکي او بیا ټول د دې امیر او نظم پوره اطاعت وکړي، اسلام د دې کار اهمیت دومره ستر بولي چې حتی په یو درې کسیز سفر کې هم امر کوي ځان ته د سفر امیر و ټاکئ تر څو ستاسو د سفر چارې تنظیم شي.

اسلام خپلو لارویانو ته د امیر ټاکل او د نظم جوړول په عملي توګه ورښیي او هره ورځ هغوی ته دا تربیت ورکوي چې څنګه د سترو ټولنیزو مسؤلیتونو د ترسره کولو لپاره د یو امیر تر شا منظم ودرېږي او

Bawar.net
خپلې چارې تنظیم کړي، هره ورځ پنځه وخت لمونځونو کې د یو امام تر شا په منظم صف کې اقتداء کول او د امام په امر د لمانځه حرکات ترسره کول ټول د دغه نظم او ترتیب عملي تربیت دی چې مسلمانانو ته د ژوند تر پایه ورکول کیږي، د جماعت لمانځه یو مهم هدف دا دی چې مسلمانان د ټولنیز رسالت(دعوت او جهاد) په سنګرونو کې د نظم او تنظیم لپاره عملي تربیت واخلي.

د همدې اهمیت پر بنا عمر رضي الله عنه چې د اسلام له لومړنیو شاګردانو دی او د نبي کریم ﷺ په مبارکو لاسونو ئې تربیت شوی د جماعت او امیر په هکله ډېره ارزښتناکه وینا لري، فرمایي: **انهُ لَا اِسلامَ بلَاجماعةٍ و لا جماعةَ بلَا امیر و لا امیر بلا طاعة ـ ترجمه: د اسلام تنفیذ او تمثیل ممکن ندی مګر په یو انساني جماعت او ډله کې او یو جماعت او ډله نشي رامنځته کېدی پرته له دې چې امیر او نظم ولري، او امیر هغه وخت امیر بلل کیږي چې افراد ئې اطاعت وکړي.**

په اسلامي جماعت کې قیادت نه موروثي ده او نه هم په زور او تذویر ترلاسه کېدی شي، اسلام د قیادت لپاره شرطونه ټاکلي چې په کومو مسلمانانو که دغه شرطونه موجود وي د نورو مسلمانانو له خوا له هغوی یو د امیر په توګه انتخاب کیږي، دا طریقه د اسلامي نظام لپاره هم ده او د یو اسلامي تحریک او جماعت لپاره هم چې له اهل کسانو یو

Bawar.net

کس مسلمانان د امیر په توګه انتخابوي پرته له دې چې امیر په خپله د دې مسؤلیت غوښتونکی وي او یا ئې په زور ترلاسه کړي.

په اسلامي جماعت کې د قائد او امیر ټاکل د هغه د وړتیاوو له مخې کیږي، قرآن د طالوت ﷺ ټاکل کېدل د هر جهادي او دعوتي تحریک په رأس کې د امیر د انتخاب ښه بېلګه معرفي کوي، طالوت ﷺ په خپل قوم کې تر نورو خلکو د لږ مال او ټولنیز قدرت خاوند وو خو د قیادت اهل څکه وګڼل شو چې علمي او جسمي وړتیا ئې درلوده، قرآن فرمايي: **قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ**(البقره۲۴۷)-
**ترجمه: ووایه الله هغه(طالوت) پر تاسو د امیر په توګه انتخاب کړی او هغه ته ئې بهتري ورکړې پر نورو د پوهې او جسمي قوت له مخې.** نو د قیادت او امارت لپاره دا دوه مهم صفات ډېر ضروري دي چې په اسلامي جماعت او یا نظام کې د قیادت د انتخاب لپاره باید په نظر کې ونیول شي.

طبعي ده چې اسلام، عقل، بلوغ، حریت د داسې تکلیفي امورو لومړني شرطونه بلل کیږي، له دې وروسته دا هم د یادونې وړ ده چې د اسلامي شخصیت کوم صفات چې په تېرو بحثونو کې وویل شول هغه ټول باید په امیر کې تر عامو افرادو ډېر او په لوړه کچه موجود وي، امیر په خپلې عقیدې، اخلاق، پوهې، عمل، دعوت او جهاد کې تر نورو مخکښ وي، خو د اسلامي شخصیت د عامو مواصفاتو برسیره قیادت

Bawar.net

لپاره خاص علمي او جسمي وړتیا چې علماؤ په حکمت او صلاحیت هم تعبیر کړې اساسي شرطونه دي.

د دې خبرې یادول هم ضروري دي چې قیادی پوهه د یو عام اسلامي شخصیت تر پوهې لوړه پوهه ده، قیادت ته باید د ژوند د چارو په تنظیم کې فوق العاده مهارت حاصل وي او له دې پوهې او مهارت د ګټې اخیستلو استعداد پکې وي چې دې ته حکمت وایې، د حکمت تر څنګ جسمي وړتیا هم حتمي شرط دی، په خلاصه ډول داسې ویلی شو چې قیادت باید د اسلامي شخصیت ټول مواصفات تر نورو په لوړه کچه ولري او د مواصفاتو ترڅنګ حکمت او جسمي صلاحیت هم ولري.

نو په اسلامي جماعت کې قیادت هغه مهم مسؤلیت دی چې یوازې د حکمت او صلاحیت په درلودلو ئې حق ترسره کېدی شي، د نورو ډلنو په خلاف؛ اسلامي جماعت کې قیادت نه په زور او نه هم په زر ترلاسه کیږي بلکې د پوهې او وړتیا په بدل کې د مسلمانانو له لوري خپل اهل ته ئې د یو امانت په توګه سپارل کیږي، په اسلامي جماعت کې د قیادت ترلاسه کولو لپاره مسابقه نه وي او نه هم څوک د قیادت ترلاسه کولو لپاره د ځان په ګټه تبلیغات او کمپاینونه کوي، دلته هر

Bawar.net

مسؤلیت د مسلمانانو د دقیق قضاوت په بدل کې وړ او اهل کسانو ته سپارل کیږي.

د اسلامي جماعت قیادت چې د اسلامي جماعت مهم رکن دی د مسلمانانو له خوا د پوهې او وړتیا(حکمت او صلاحیت) پر بنسټ د دوی تر منځ تر ټولو پوه او وړ مسلمان ته سپارل کیږي او دې ته په اسلام کې ستر امانت ویل شوي چې ټول مسلمانان مکلف دي چې دا امانت خپل اهل ته وسپاري.

لکه څنګه چې د ټولو مواصفاتو تر څنګ د اسلامي جماعت غړي په امتیازي توګه په خاص او پوره اطاعت مکلف دي او دوی باید په اسلامي جماعت کې د یو امام تر شا د ولاړو مقتدیانو په شان عمل وکړي چې نه له امام مخکې شي او نه هم له قومندې تخلف وکړي همدا شان د اسلامي جماعت قیادت په امتیازي او خاص ډول په مکمل عدالت مکلف دی، داسې عدالت چې د ده په ټولو اوامرو او تصرفاتو کې ښکاره وي، د اسلامي جماعت قائد په خپل هیڅ تصمیم او عمل کې ظلم ونه کړي، د الله او مسلمانانو حقوق ضایع نه کړي، هره فیصله او هر عمل ئې پر عدالت ولاړ وي او هر حق خپل اهل ته وسپاري.

د اسلامي جماعت بقا هغه وخت ممکن ده چې افراد ئې اطاعت او امیر ئې عدالت ولري، او په هر معروف کار کې امیر عدالت او د جماعت

Bawar.net

غږي اطاعت وکړي، که افراد اطاعت و نه کړي او یا امیر عدالت و نه کړي د دوی تر منځ د امیر او مأمور رابطه دوام نشي کولی او جماعت خپل نظم له لاسه ورکوي.

نتیجه دا شوه چې د اسلامي جماعت بل عمده رکن قیادت دی، هغه قیادت چې د خاصو مواصفاتو څښتن وي، په اسلام کې د قیادت صفات په پوره تفصیل بیان شوي چې موږ دلته په اختصار سره وویل له اسلام، عقل، بلوغ، حریت او نارینتوب وروسته د اسلامي جماعت امیر باید د اسلامي شخصیت ټول ذکر شوي مواصفات(ایماني، اخلاقي، علمي، عملي، دعوتي او جهادي) ولري او تر نورو په دې صفاتو کې لوړې مرتبې ته رسېدلی وي، او د دې ټولو صفاتو تر څنګ د قیادي حکمت او جسمي صلاحیتونو لرونکی هم وي چې د داسې قیادت تعبیر په صالح قیادت کیږي، صالح قیادت یعنې د پورتنیو صفاتو لرونکی قیادت.

له دې ځایه ویلی شو د اسلامي جماعت بل شاخص او د پېژندنې اصل صالح قیادت دی چې اسلامي جماعت پرې له نورو تمیز کېدی شي او که د اسلامي جماعت رامنځته کول موخه او هدف وي نو د صالح قیادت انتخاب ئې یو رکن دی، یا په بل عبارت صالح قیادت(د حکمت

Bawar.net

او صلاحیت لرونکی قیادت) د اسلامي جماعت د پېژندلو او جوړولو یو بل عمده رکن بلل کیږي.

## پنځم بحث

## د اسلامي جماعت نظام

د اسلامي جماعت دریم عمده رکن نظام دی، د تاریخ په اوږدو کې د انساني ټولنو نظامونو متفاوت ډولونه درلودلي او نن هم د هرې انساني ټولنې ځانته نظام او اصول دي خو د اسلامي جماعت لپاره چې کوم نظام د کائناتو رب انتخاب کړی د هغه مثال له دې نظام پرته نشي موندل کېدی، داسې کامل او شامل نظام چې د اسلامي ټولنې د ټولو غړیو حقوق او وجایب پکې په پوره ډول تمثیل شوي او د اسلامي جماعت هر غړی خپل مکلفیت او خپل امتیاز ترلاسه کولی شي، په دې نظام کې هېڅوك د خپل شخصي منفعت او غوښتنو پر بنسټ د نورو خلکو حقوق نشي ضایع کولی او نه هم خپل وجایب ترك کولی شي، دلته هر دم او هر قدم په حساب دي، دا نظام د نظم او ترتیب له مخې هم بې مثاله دی، د دې نظام په هرې برخې کې د نظم او نظافت مظاهره روانه وي، په دې نظام کې هرڅه له شك او اغماض پرته په روښانه ډول تر سره کیږي او د ټولنې هر وګړی د دې نظام له هرې برخې سره محاسبه کولی شي.

Bawar.net

د اسلامي جماعت د نظام په ابعادو بحث د يو كتاب او يوې رسالې له حوصلې پورته دی دلته موږ هغه عمده ټكې ذكر كوو چې كېدی شي د هغو په نظر كې نيولو سره د يو اسلامي جماعت د نظام پېژندنه وشي چې آيا دا جماعت په رښتيني ډول د اسلامي جماعت نظام لرونكی دی او كه نه؟ او همدارنگه د هغو خلكو لپاره د اسلامي جماعت د جوړولو يو بل عمده ركن په گوته شي چې له خپلو ټولنو او جماعتونو د اسلامي جماعت د جوړولو اراده لري.

**۱- شوری**: د اسلامي جماعت د نظام لومړی اصل شورايت او په شوری ولاړ نظام دی، كه د اسلامي جماعت د افرادو تر ټولو امتيازی صفت اطاعت او د اسلامي جماعت د قيادت تر ټولو امتيازی صفت عدالت وگڼل شي چې پخوا ذكر شول نو د اسلامي جماعت تر ټولو امتيازي صفت شورايت او په شوری ولاړ نظام دی، يعنې په اسلامي جماعت كې د امير عدالت، د افرادو اطاعت او د دوی تر منځ شوری د جماعت ترټولو لوړ امتيازي صفات دي، په اسلامي جماعت كې شوری استحبابي امر نه بلكې لازمي او واجبي امر دئ، دلته د چارو تنظيم كوونكي ټول له نورو اهل رأی مسلمانانو سره په شوری مكلف دي، حتی امير او قيادت هم په خپل سر او د خپلې خوښې كارونه نشي ترسره كولی تر څو د مسلمانانو اجماع پرې نه وي شوې، دلته ټول اهل رأی مسلمانان مكلف دي د اسلامي جماعت مصالح تشخيص او د

Bawar.net

اسلامي جماعت کارکوونکو ته ئې په ګوته کړي، هر مسلمان د خيرغوښتنې داسې پياوړی احساس ولري چې خان د اسلامي جماعت ساتندوی او خادم وګڼي او حد اقل د خپل نظر او رأيې په ورکولو د اسلامي جماعت د مصالحو په ترلاسه کولو کې برخه واخلي.

په اسلامي جماعت کې داسې تربيت رامنځته شي چې د امورو سمبالوونکي له شورى پرته اقدام و نه کړي او د شورى اهل مسلمانان په پوره صداقت او اخلاص هغوی ته نېکې مشورې ورکړي، د اسلامي جماعت د دې اصل پاللو لپاره الله ﷻ خپل هغه استازي ته چې د الهي وحيې تر مستقيم ارشاد او لارښوونې لاندې وو هم حکم کوي چې له خپلو ملګرو سره مشوره وکړه او د اسلامي جماعت چارې د مشورې پر بنسټ پر مخ بوځه، قرآن فرمايي: **وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ**(ال عمران۱۵۹)- **ترجمه: او له دوی(خپلو ملګرو مسلمانانو) سره په کارونو کې مشورې وکړه، او چې کله دې عزم وکړ نو په الله توکل وکړه په تحقيق سره الله خوښ ګڼي توکل کوونکي.** له دې حکم او نبوي سيرت په ښکاره ډول دا ثابتيږي چې په اسلامي نظام کې د خپل سر اقدام او تصميم اجازه هم نشته او د خپل نظر استبداد هم نه منل کيږي، رسول الله۲ هم مشوره کړې او هم ئې داسې مشوره منلې چې د ده د نظر خلاف وه، که د الله رسول۲ د احد په غزوه کې د احساساتي ځوانانو مشوره و منله او له مدينې بهر د دښمن جګړې ته

Bawar.net

ولاړ نو هر قائد په دې مکلف دی تر څو د اسلامي جماعت د مجموعې نظر موافق عمل وکړي که دا د ده د شخصي نظر خلاف هم وي.

همدارنګه قرآن په بل ځای کې شوری د اسلامي جماعت د یو اصل په توګه معرفي کوي او فرمایي: **وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ(الشوری۳۸)- ترجمه: او هغه کسان چې د الله امر مني، د لمانځه اقامه کوي او د دوی چارې په خپلو کې په مشورې ترسره کیږي، او له هغه څه چې دوی ته ورکړل شوي انفاق کوي.** د شوری د اهمیت پر بنسټ دا سورت د شوری سورت په نامه یاد شوی او په دې آیت کې بیان شوي چې د اسلامي جماعت یوه ځانګړتیا دا ده چې چارې یې په مشورې ترسره کیږي.

**۲- نظم:** د اسلامي جماعت په نظام کې فوق العاده نظم بل عمده صفت ګڼل کیږي، الله د اسلامي جماعت دغه مثالي نظم له دوی سره د خپل محبت یو لامل بولي او فرمایي: **إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ(الصف۴)- ترجمه: بې له شکه الله خوښوي هغه کسان چې جنګیږي د الله په لاره کې په یوه صف کې چې د سربو دېوال په شان مظبوط صف وي.** په اسلامي صف کې باید داسې نظم وي چې هره ورځ پنځه ځله د جماعت لمانځه په صف کې مسلمانانو ته ئې تعلیم ورکول کیږي تر څو د اسلامي جماعت ټول غړي د هغه نظم په عملي کولو

Bawar.net

روزدي او تربيه شي، په جماعت لمانځه کې له کوم فرق پرته ټول مسلمانان د يوې قومندې او حکم پر بنسټ په يوه صف کې درېږي او حرکت کوي، پښې، اوړي او حتی سينې په يوې ليکې کې منظم او د حکم منلو ته په داسې حال کې ولاړ وي چې هدف ئې د الله رضا حاصلول وي او د دې منظم حرکت لپاره ئې خپل بدن پاک کړی وي او تر ټولو پاک ځای او پاک کالي ئې انتخاب کړي وي، دا په حقيقت کې د اسلامي جماعت د نظم يو مثال دی.

اسلامي جماعت په خپلو ټولو برنامو کې له عبادت تر خدمت، له تشکيلاتو تر معاملاتو او له سولې تر جګړې په هرې برخې کې له مثالي نظم برخمن وي، داسې نظم چې هر غړی ئې په مراعات کولو مکلف دی او هر غړی د دې نظم په ترسره کولو کې د پوليس او قاضي له ډار پرته د الله رضا او اجر په نيت پوره ونډه اخلي.

**۳- معنويت:** پر معنويت ولاړ نظام د اسلامي جماعت د نظام بل اصل دی، د اسلامي جماعت د نظام دا صفت داسې امتيازي صفت دی چې د جماعت ټول غړي د صلاح او اصلاح په لوري دعوت کوي او چې څوک هم تر نورو ډېر صالح وو هغه تر نورو ډېر مقدم وي، په دې جماعت کې د امتياز ترلاسه کول هم په معنوي معيارونو کيږي، دلته د چا قوم او نژاد، ژبه او سيمه مطرح نه وي، امتيازات په خپلويو او خپښيو

Bawar.net

نه وېشل کېږي، دلته ملګرتیا او شخصي روابط نه پالل کېږي، دلته
پواځې اهلیتونه او معنوي معیارونه په نظر کې نیول کېږي، دلته اخلاص
او قرباني د امتیاز اخیستلو معیار وي، دلته خلک د امتیاز اخیستلو لپاره
مسابقه نه کوي د صداقت، اخلاص او قرباني مسابقه کوي ځکه د
اسلامي جماعت افراد د دنیا لپاره عمل نه کوي هغوی د اخرت ګټل
خپل مقصد ګرځولی وي او د دې هدف لپاره هرې قرباني ته چمتو
وي، اسلامي جماعت هم په خپلو غړیو کې په هغو خلکو ډېر حساب
کوي کوم چې تر ټولو ډېر قرباني ته وړاندې کېږي، په اسلامي
جماعت کې غنیمت د قیادت برخه نه وي او نه هم د نظام بیت المال ته
درومي بلکې غنیمت د هغه چا برخه وي چې د جګړې په میدان کې
حاضر شوی وي او قرباني ته وړاندې شوی وي.

د دې خبرې تر منځ باید فرق وشي چې په اسلامي جماعت کې امتیاز
لپاره کار نه کېږي خو امتیاز د کار او قرباني په بدل کې ورکول کېږي،
په اسلامي جماعت کې څوک د امتیاز غوښتونکي نه وي خو اهل
کسان له امتیاز محروم نه پاتې کېږي، دلته هر غړی په دې فکر کې وي
چې تر ما مستحق او وړ کس باید امتیاز واخلي او د اسلامي جماعت
نظام هم په دې لټه کې وي چې تر ټولو مستحق افراد د امتیاز لپاره
انتخاب کړي.

Bawar.net

دا خبره هم د یادولو وړ ده چې په اسلامي جماعت کې مسؤلیت او مشرتابه امتیاز نه بلل کیږي دا یو امانت وي چې هېڅوک په خپله خوښه د دې امانت اخیستلو ته تیار نه وي، مسلمانان د خپل جماعت مسؤلیتونه په اهل کسانو وېشي او هغوی ټول وخت په دې فکر کې وي چې دا امانت ضایع نه شي، نو څوک د تشکیلاتي رتبې او مسؤلیت اخیستلو لپاره مسابقه نه کوي بلکې له مسؤلیت د خلاصون په فکر کې وي، نو د اسلامي جماعت په نظام کې هر څه د وړتیا، عمل او قربانۍ په بدل کې ورکول کیږي، د بلال، عبدالله بن مسعود، زید بن حارثه، صهیب، یاسر او عمار ټولو امتیاز یوازې همدا معنویت وو چې له غلامۍ ئې دوی د اسلامي ټولنې قیادتونو ته ورسول.

**۴- اخوت:** د اسلامي جماعت د نظام بل صفت او معیار د افرادو خپل منځي او له قیادت سره د اسلامي اخوت رابطه ده، په دې هکله مو د افرادو او قیادت په تېر بحث کې هم یادونه کړې وه، د افرادو تر منځ د اسلامي اخوت، تواضع، ایثار ، ترحم، عفو او خیرغوښتنې فضأ وي، له قیادت سره د دوی رابطه د اطاعت، احترام، شفقت، نصیحت، خدمت، اعتماد او تعاون رابطه وي، په اسلامي جماعت کې د تخریب او سپکاوي ځای وررولي او تعاون نیولی وي، دلته هر غړی د بل مسلمان ورور د وینې، مال او عزت ساتونکی وي، او ټول د یوې کورنۍ د غړیو په شان له خپل امیر او قائد سره د پلار او اولاد په ډول رابطه لري،

Bawar.net

هر غړی په دې هڅه کې وي چې د اسلامي جماعت ماحول د مينې او محبت ډک ماحول وي او ټول غړي د يو بل د دنيا او آخرت سعادت لټوي.

د اسلامي جماعت په نظام کې اسلامي اخوت له ورايه څرګند وي او هر پردی په دې اقرار کوي چې د دې جماعت غړي د يوې کورنۍ د غړيو په شان په خپلو کې اخلاص و صميميت لري، همدغه اخلاص او اخوت د دوی د کاميابۍ لوی رمز بلل کيږي، قرآن دا د اخوت او خيرغوښتنې فضأ د رحمت ماحول بولي او فرمايي: **أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ**(الفتح۲۹)- **ترجمه: په کفارو سختي کوونکي او په خپلو کې رحم کوونکي دي.**

**۵- د حق ويناآزادي:** د اسلامي جماعت د نظام بل صفت او اصل افرادو ته د حق کلمې ويلو آزادي ده، په دې نظام کې هر غړی له کومې وېرې پرته د حق کلمې اظهار کولی شي، دلته حق ته د رسېدو داسې تلوسه وي چې هر څوک د حق اورېدو ته تيار وي او هر څوک د حق ويلو جرأت لري، دلته هم انتقاد کيږي او هم انتقاد منل کيږي، دلته هېڅوک له اصولو او قانون پورته نه دي، هېڅوک غير مسؤل نه ګڼل کيږي، دلته هر څوک انتقاد د اصلاح لپاره کوي نه د تخريب لپاره، او په پوره جرأت ئې کوي او هر څوک ځان د يو انسان په توګه له خطاء خالي نه بولي، حق اوري او هغه ته تسليميږي، په دې نظام کې د

Bawar.net

عمرﷺ په شان جليل القدره صحابي د يوې بوډۍ ښځې د حق وينا ته تسليميږي او وايي عمر په خطا کې واقع شوی وو او دا بوډۍ ښځه حق خبره کوي.

په اسلامي جماعت کې افراد مقدس او تر دستور پورته نه ګڼل کیږي، په اسلامي جماعت کې باید هر څوک له امیر تر مادون د اصولو په وړاندې د مکلفیت احساس وکړي، او هر خطاء کوونکی او له اصولو سرغړونکي ته باید د اسلامي جماعت غړي په ډاګه ووايي چې ته په خطاء کې اخته شوی یې او د دې خبرې له کولو حتی د امیر په وړاندې هم د عاجزۍ او وېرې احساس ونکړي او نه هم څوک د حق خبرې له اورېدو ځان پورته و ګڼي، دا د اسلامي جماعت د نظام بل صفت او اصل ګڼل کیږي.

**۶- مجازات او مکافات:** په اسلامي جماعت کې د نظام بل مهم اصل د مجازاتو او مکافاتو اصل دی، دا د مسلمان عقیده ده چې د خپلو ټولو اعمالو بدله په آخرت کې ترلاسه کوي، که ئې ښه کړي وي نو مکافات ترلاسه کوي او که ئې بد کړي وي نو مجازات ورکول کیږي، خو په دنیا کې د اسلامي جماعت د نظام بقا په دې پورې اړه لري چې د دې نظام مخلص سپاهیان تمجید او تقدیر شي تر څو نور هم په پوره نشاط مخته ولاړ شي او برعکس سرغړوونکي او سستي کوونکي خلک

Bawar.net

باید تنبیه شي تر څو د خپلو مسؤلیتونو ترسره کولو ته توجه وکړي او د دې مسؤلیتونو په ترسره کولو کې ځان له کسالت وژغوري.

د انسانانو فطرت داسې خلق شوی چې په مکافاتو تشویق کیږی او په مجازاتو تنبیه کیږي، مکافات او مجازات د آخرت له مکافاتو او مجازاتو وړاندې په دنیا کې د دوی په ښېګڼه او اصلاح کې مهمه ونډه لري نو ځکه هم د اسلامي ټولنې نظام له دې ځانګړتیا برخمن وي، په نبوي سیرت کې د دې ډېر مثالونه دي، د موته له غزوې د راګرځېدلي فوځ مشر خالد بن ولید رضی الله عنه ته د سیف الله لقب ورکول او د هغه استقبال ته له مدینې د رسول الله ﷺ وتل د مکافاتو او له تبوک غزوې د پاتې شوو صحابه وو سره د مقاطعې پرېکړه د مجازاتو څرګند مثالونه دي.

**۷- خود کفائي (په خپلو پښو دریدل):** د اسلامي جماعت په نظام کې بل اصل په ځان بسیا کېدل دی، اسلام جماعت د دې لپاره چې د خپل ولاء او براء حدود وشي ساتلی او د خپل دعوت او جهاد په لاره کې د هیڅ غیر اسلامي جماعت او نظام ملګرتیا او مرستې ته ضرورت پیدا نکړي باید په هره برخه کې په ځان بسیا وي، د مسلکي افرادو په درلودلو کې، د وسائلو په درلودلو کې، د اقتصادي منابعو او اقتصاد په درلودلو کې او د انساني او ټولنیز ضرورتونو په هره برخه کې په خپلو پښو ولاړ نظام ولري.

Bawar.net

اسلامي جماعت هغه وخت د دښمن د دسیسو ښکار کیږي چې د غوښتنې لاس ئې اوږد شي، او ترهغه وخته په خپل منهج ثابت پاتې کېدی شي چې د جماعت او افرادو ضرورتونه ئې د خپلو ذاتي امکاناتو له لارې پوره کیږي، نو اسلامي جماعت باید داسې نظام ولري چې نه یوازې د نظام بلکې د اسلامي جماعت د ټولو غړیو انساني ضرورتونه پوره کړي، او پرهېزدي چې د جماعت غړي د خپلو انساني ضرورتونو په وجه له اسلامي جماعت سره مقاطعه وکړي او د دعوت او جهاد په لاره کې د نیمي لارې ملګري وګرځي، او د دې مخنیوی هم وکړي چې اسلامي جماعت د خپلې مبارزې په لاره کې نورو خلکو ته محتاج وي.

لنډه دا چې پورتني اصول او معیارونه د یو اسلامي جماعت د نظام مشخصات او اصول دي، په تېرو بحثونو کې د اسلامي جماعت د غړیو او قیادت مهم او اساسي صفات او معیارونه وویل شول او په دې بحث کې د اسلامي جماعت د نظام او ترتیب په هکله هغه عمده صفات او معیارونه ذکر شول چې له هغه پرته د اسلامي جماعت درېیم رکن چې نظام دی نشي مکمل کېدی، د دې ذکر شویو صفاتو او معیارونو په درلودلو سره د یوه اسلامي جماعت نظام خپل هغه معیار ته رسیږي چې د اسلامي جماعت نظام ورته ویلی شو او که دا معیارونه پکې نه وي نو د اسلامي جماعت نظام نشي کېدی.

Bawar.net

په همدې معيارونو د يو جماعت نظام څېړل کيږي چې آيا دا د يو اسلامي جماعت نظام دی او که نه؟ او همدارنګه په همدې معيارونو او اصولو کولی شو د يوه اسلامي جماعت لپاره نظام جوړ کړو، په بل عبارت که زموږ هدف د يو اسلامي جماعت پېژندنه او څېړنه وي او يا که د يوه اسلامي جماعت رامنځته کول مو موخه او هدف وي هغه له مسلمانو شخصيتونو، صالح قيادت، په شورى ولاړ منظم نظام او برنامو پېژندلی او رامنځته کولای شو، موږ د غړيو او قيادت له پېژندلو وروسته دلته د اسلامي جماعت نظام مطالعه کړ چې د کومو صفاتو لرونکی نظام وي، د دې خبرې يادول هم ضروري دي چې پورتني صفات د اسلامي جماعت د نظام ټول صفات نه؛ بلکې هغه اساسي صفات دي چې له دې پرته د يو جماعت نظام ته د اسلامي جماعت نظام نشو ويلی.

## شپږم بحث

## د اسلامي جماعت برنامه

د اسلامي جماعت څلورم عمده رکن د جماعت برنامه ده، اسلام خپلو لارويانو ته د ژوند موخه او هدف بيا تر هغه وروسته د دې موخې د ترلاسه کولو برنامه او د برنامې لپاره لارې او چارې ټول په واضح او څرګند ډول بيان کړي، اسلامي جماعت په دې نه دی مکلف چې د ځان لپاره هدف او يا برنامه جوړه کړي بلکې يوازې د دې مکلفيت

Bawar.net

لري چې د خپل رب له لوري ښودل شوي هدف ته د ورکړل شوي برنامې پر مټ د خپل توان مطابق ځان ورسوي او په دې لاره کې له هر رنګ قربانۍ ورکولو په شا نشي.

د الله له لوري اسلامي جماعت ته ورکړل شوې برنامه د څه عمومي صفاتو لرونکې ده چې بايد اسلامي جماعت د دغو صفاتو په نظر کې نيولو سره دا برنامه تطبيق کړي، که چېرې د اسلامي جماعت په برنامه کې دا صفات او معيارونه نه وي نو په حقيقت کې دا ټولی له اسلامي برنامې محروم دی او په دې کې د اسلامي جماعت يو رکن چې اسلامي برنامه ده نشته.

۱- **الهيت:** د اسلامي جماعت په برنامه کې لومړی صفت دا دی چې دا برنامه الهي برنامه ده، په دې برنامې کې هر څه د الله ﷻ لپاره او د الله ﷻ د حکم مطابق د نبوي سنتو په متابعت کې ترسره کيږي، اخلاص، صداقت، د سنتو متابعت دا ټول په دې برنامه کې له ورايه ښکاري، دا برنامه له الله ﷻ پرته د بل چا د رضا ترلاسه کولو لپاره نه وي، په دې برنامې کې هر څه له زړه او په پوره صداقت ترسره کيږي، او قدم په قدم له نبی کريم۲ متابعت کيږي چې الله ﷻ هغه د اسلامي جماعت او مسلمانانو لپاره د ښه مقتدا او بېلګې په توګه معرفي کړی، دا برنامه په دوو بنسټيزو اصولو ولاړه ده چې عبارت دي له: الهي حکم او شرعي

Bawar.net

طریقې، په دې برنامې کې باید هر څه د الله ﷻ لپاره د الله ﷻ په حکم او نبوي طریقې ترسره شي.

د اسلامي جماعت په برنامې کې له اسلام پرته د نورو مکتبونو د برنامې یو فیصد رنګ ځای نه لري، دا برنامه د نشنلیزم او ناسیونالیزم، د کمونیزم او کپیتالیزم، د سیکولریزم او لبرلیزم، د دموکرسۍ او دیکتاتوري سره د اشتراک او وصل یوه نقطه هم نلري، دلته نه قام پالل کیږي او نه هم ژبه او رنګ، دلته نه د فرد حقوق له ټولنې او نه د ټولنې حقوق له فردي غوښتنو قربان کیږي، دلته دین په هر څه حاکم دی او هر څه د دین په حکم ترسره کیږي، دلته د حیواني آزادۍ په نامه د خواهشاتو او هوسونو عبادت نه کیږي او نه هم انسانان د کوم بل انسان په ګرو او بندګۍ کې وي، د اسلامي جماعت د برنامې لومړۍ صفت الهیت او معنویت دی چې غواړي انسانان د انسانانو له عبودیت او بندګي آزاد کړي او د رب بندګۍ ته ئې و بولي، د انسانانو ترمنځ داسې فضا رامنځته کړي چې ټول یو شان د یو رب بندګان وي او د دوی ترمنځ لوړوالی او تفوق د تقوی په معیار وي او بس.

**۲- نړۍ وال توب:** د اسلامي جماعت د برنامې دوهم صفت نړۍ وال توب(جهاني بودن) دی، په دې برنامې کې د قومونو او ملکونو پولې او مرزونه نشته، د سعادت او خلاصون دا برنامه د ټولو انسانانو لپاره ده او

Bawar.net

هر انسان ته وړاندې کیږي، دا برنامه له هیڅا سره د پردې توب احساس نلري، دا عرب ته هم ده او عجم ته هم، د زمکې د شرق لپاره هم ده او غرب لپاره هم، د ټولې انساني ټولنې لپاره ده: **وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ**(سبا۲۸)- **ترجمه: او موږ نه یې استولی مګر د ټولو خلکو لپاره زیری ورکوونکی او ویروونکی.** په بل آیت کې قرآن فرمایي: **وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ**(الانبیاء۱۰۷)- **ترجمه: او موږ نه یې استولی مګر رحمت د ټولو عالمیانو لپاره.**

نو اسلامي جماعت مکلف دی د خپل عمل برنامه د انسانانو له خوا د رسم شویو پولو په حدودو کې محدود نکړي، او نه هم د یو قام او ملك په محور کې راوګرځي بلکې دا جماعت باید د الله لپاره د نبي کریم۲ په طریقې د ټول انسانیت د سعادت او خلاصون لپاره کار وکړي، همداسې یوه برنامه د اسلامي جماعت برنامه کېدی شي او هغه چې دا صفت و نه لري ناقصه برنامه ده.

**۳- جامعیت او کمال:** دریم اساسي صفت چې باید د اسلامي جماعت برنامه ئې ولري د جامعیت او کمال صفت دی، د اسلامي جماعت برنامه کامله او شامله ده، دا برنامه د الله ﷻ له لوري وضع شوې نو څکه هم نقصان نه لري، په دې برنامې کې د انساني ټولنې د ټولو اقشارو لپاره د دنیا تر پایه د عمل واضح او څرګند دستور شتون لري، داسې یوه برنامه ده چې د اسلامي جماعت او غړیو د ژوندانه ټول امور پرې

Bawar.net

تنظیم کیږي، په دې برنامې کې انسانان په دریو ډلو وېشل شوي: مسلمانان، منافقين او کفار، او د اسلامي جماعت په دې برنامې کې د دې هرې ډلې په وړاندې د مکلفيت او چلند واضح دستور موجود دی.

دا برنامه حکم کوي چې اسلامي جماعت مکلف دی د مسلمانانو د دنيا او آخرت د سعادت لپاره کار وکړي، اسلامي جماعت بايد د مسلمانانو معنويت ته وده ورکړي او په دنيا کې د اسلامي ټولنې ضرورتونه له حلالو لارو پوره کړي، اسلامي جماعت بايد په معنوي برخه کې د دوامداره تربيت نظام ولري او د هغې په نتيجې کې د مسلمانانو اسلامي شخصيتونو ته وده ورکړي، د هغوی ايمانونه، اخلاق، پوهه او تقوی پياوړې کړي او د دعوت او جهاد په لاره کې د هغوی اعداد وکړي، له خپلو غړيو داسې خلک جوړ کړي چې په دنيا کې د اسلامي فکر او منهج د عملي بېلګو په توګه پرې حساب وشي او په آخرت کې د جنت نعمتونه ترلاسه کړي.

په دې جامع او بشپړې برنامې کې چې اسلامي جماعت ته ورکړل شوې نه يوازې د مسلمانانو د معنوي ودې لپاره کار کيږي بلکې د هغوی د دنيوی ضرورتونو رفع کېدلو لپاره هم منظم کار کيږی، په دې برنامې کې داسې اصول او د عمل طريقه وضع شوې چې په طبعي ډول اسلامي ټولنه او اسلامي جماعت په مادي لحاظ د ترقي لوړو پولو ته

Bawar.net

رسیږي او په خپلو پښو درېږي، له تفصیل پرته د یو مثال په توګه د هغو مسلمانانو حال یادولی شو چې د دې برنامې په عملي کېدلو سره د جنت زېري ورکړل شو او په دنیا کې داسې حالت ته ورسېدل چې په اوښانو بار د زکات مالونه ئې د آسیا له شرقي څنډو د افریقا تر مغربي پولو ګرځېدل او څوک ئې د اخیستلو مستحق نه وو پاتې، که دا جامع او بشپړ اسلامي برنامه تطبیق شي نو حتمي پایله ئې دا ده چې د مسلمانانو دنیوي ژوند د عزت او سرلوړۍ مترقی ژوند جوړېږي او اخروي سعادت او نعمت هم ورپه برخه کېږي.

په انساني ټولنه کې بله ډله د منافقینو ډله ده، دا خطرناکه ډله د اسلامي جماعت په بدن کې د یو سرطاني تومور په شان هر کله د ودې او فساد په لټه کې وي، دوی په اسلامي جماعت کې د اسلام له تش دعوی ډېره ناوړه استفاده کوي، دوی الله ﷻ مسلمانانو ته د یو نږدې دښمن په توګه د ازمیښت یوه بله وسیله ګرځولې تر څو مسلمانان پرې امتحان کړي، لکه څنګه چې د اسلامي جماعت په برنامې کې مسلمانانو او د جماعت رښتینو غړیو ته دوامداره تربیت او اعداد مقرر شوی؛ منافقینو په خلاف دوامداره فکري او فرهنګي مبارزه ټاکل شوې، لکه څنګه چې اسلامي جماعت په خپلې کاملې برنامې کې مکلف دی د مسلمانانو معنویت وپالي او په دوامدار او مسلسل توګه د دوی په نفسونو کې د شیطان مقابله وکړي او دوی ته تربیتي نظام فعال وساتي همدا شان له

Bawar.net

منافقینو سره چې په اسلامي جماعت کې د انسي شیطانانو حیثیت لري دوامدار فکري او کلتوري مبارزه او د اسلامي جماعت اجتماعي تربیت د حل لاره ښودل شوې.

یا په بل عبارت لکه څنګه چې یو مسلمان هره ګړی له شیطاني وسوسو سره مخ وي او د دې وسوسو د مخنیوي لپاره باید اسلامي جماعت هغه په دوامداره تربیتي نظام کې وساتي او په مسلسل تربیت هغه د نفساني غوښتنو او شیطاني وسواسو په لمن کې پرېوتلو ته پرېنږدي، همدا شان اسلامي ټولنه د شیطان د دې انسي لښکریانو(منافقینو) د دوامدار فساد شیندلو سره مخ وي او د دوی فساد کولی شي اسلامي جماعت له دننه تخریب کړي چې د دوی مخنیوی په دوامداره فکري فرهنګي مبارزې او اجتماعي تربیت سره کېدی شي او اسلامي جماعت مکلف دی چې خپله ټولنه او جماعت د فکري، فرهنګي مبارزې او ټولنیز تربیت له لارې د منافقینو د فساد په لمن کې له پرېوتلو وژغوري.

دریمه ډله کفار دي، د اسلامي جماعت په برنامه کې د کفارو لپاره لومړی دعوت او د نه منلو او مقابلې په صورت کې د جهاد حکم دی، اسلامي جماعت مکلف دی ټول کفار اسلام ته دعوت کړي، که هغوی په خپل شخصي ژوند کې د اسلام منلو ته تیار نه ول نو هغوی ته دې دعوت ورکړي چې په ټولنه کې د اسلامي حاکمیت په وړاندې خنډ

Bawar.net

واقع نشي او له اسلامي حاکمیت دې ملاتړ وکړي کوم چې په انساني ټولنه کې عدالت تأمینوي او د ټولو انسانانو سعادت تضمینوي، که هغوی دې ته هم تیار نه شول نو د اسلامي جماعت بشپړه برنامه حکم کوي چې له دوی سره په تورې او ټوپک جهاد وشي، یعنی اسلامي جماعت په خپلې برنامې کې له کفارو سره د دعوت او جهاد حکم لري، د اسلامي جماعت دریځ د کفارو په وړاندې واضح او قاطع دریځ دی، یا به اسلام مني او یا به د اسلام حاکمیت مني او جزیه به ورکوي او یا به جګړې ته چمتو کیږي، له دې پرته د اسلامي جماعت په برنامې کې له کفارو سره بله معامله نشته، اسلامي جماعت به کفري ټولنو او نظامونو ته همدا پیغام ورکوي: **اسلم تسلم.**

د اسلامي جماعت د برنامې دریم صفت چې کمال او جامعیت وو په دې درېیو برخو کې خلاصه کیدی شي: داسلامي جماعت برنامه کامله برنامه ده او دا ځکه چې په دې برنامې کې د مسلمانانو د دنیا او آخرت سعادت لپاره معنوی ودې ته د اعداد او تربیت برنامه او مادي کفایت ته پیاوړې اقتصادي برنامه موجوده ده، د منافقینو فساد مخنیوي لپاره د فکري مبارزې او اجتماعي تربیت رامنځته کولو برنامه شته او په ټولې انساني ټولنې کې د کفارو د فساد او طاغوت حاکمیت ختمولو لپاره دعوت او جهاد برنامه له ځانه سره لري، او د دې برنامې له مخې

Bawar.net

اسلامي جماعت مکلف دی تربیت، اعداد، فکري فرهنګي مبارزه، دعوت او جهاد د خپلې برنامې اساسي برخې و ګڼي.

**۴-اولویتونه:** د اسلامي جماعت د برنامې یو بل امتیازي صفت دا دی چې قدم په قدم پر مخ درومي او اولویتونه مراعاتوي، تر ټولو مهم کار لومړی او نور تر هغه وروسته ترسره کوي، په دې برنامې کې هر اړخیز عمل جاري وي خو په هر اړخ کې اولویتونو ته خاص اهتمام کیږي، دا برنامه د اسلامي جماعت استعدادونه په داسې کارونو کې استعمالوي چې تر ټولو لوی اهداف پرې ترلاسه کېدی شي.

د اسلامي جماعت برنامه مسلمانانو ته په تربیت او اعداد کې، منافقینو سره په فکري او فرهنګي مبارزې کې، کفارو ته په دعوت او جهاد کې له هغه څه پیل کوي چې تر ټولو اهم او په اولویت کې قرار لري، که تربیت کوي نو لومړی فکري او عقیدوي تربیت پیل کوي، که اعداد کوي لومړی د یو داعي او مجاهد عزم او اراده پخوي، که فکري مبارزه کوي لومړی د منافقینو خبیث فکر او عقیده رسوا کوي، که دعوت او جهاد کوي د کفر له امامانو او نږدې طواغیتو پیل کوي، د دې ټولو خبرو خلاصه دا ده چې د اسلامي جماعت برنامه له اولویتونو پیل کوي او دا د دې برنامې یو بل امتیازي صفت دی.

**۵- استمرار:** د اسلامي جماعت د برنامې په صفاتو کې بل مهم صفت دوام او استمرار دی، دا برنامه په خوځنده او فعاله توګه تل روانه وي، نه قطع کیږي او نه ئې نشاط کمیږي، نه ئې سهولت او آساني له خپل هدف بې پروا کولی شي او نه هم سختۍ او آزمېښتونه ئې عزم او نشاط کمولی شي، په دې برنامې کې تش خیالات نه وي چې له حقیقتونو لرې چا په خپل ذهن کې ترسیم کړي وي، دلته هر څه له رب سره په کلکې وعدې پیل کیږی او د هر سپاهي تر وروستۍ سلګۍ پر مخ درومي، او دا چې دا لاره بې سپاهي نه پاتې کیږي نو ځکه هم دا برنامه د تل لپاره تر قیامته جاري وي.

د اسلامي جماعت غړي په دې پوهیږي چې مقطعي کارونه نه د الله خوښیږي او نه هم خاصه نتیجه پرې مرتب کیږي، کم عمل چې مستمر او دوامداره وي هغه د دنیا نتیجه هم لري او په آخرت کې ئې اجر هم ډېر دی، نبي کریم۲ فرمایي: **أحب الأعمال إلى الله تعالى أدومها وإن قل قال وكانت عائشة إذا عملت العمل لزمته**(مسلم له عایشې روایت کړی)- **ترجمه:تر ټولو محبوب اعمال د الله په وړاندې دوامداره اعمال دي که لږ هم وي، او عایشېؓ به چې کوم عمل کاوه هغه به یې تل په ځان لازم کړ.**

د اسلامي جماعت برنامه د دې جماعت د تشخیص او تأسیس وروستی رکن دی، که په یو اسلامي جماعت کې مسلمان شخصیتونه د یو صالح قیادت او منظم شوریي نظام په شاوخوا کې راټول شوي وي نو هغه

Bawar.net

وخت اسلامي جماعت بلل کيږي چې د اسلامي حاکميت لپاره برنامه ولري او د دې برنامې د عملي کولو لپاره خوځنده او نشيط حرکت وکړي، د اسلامي جماعت دا برنامه بايد الهي وي، نړۍ وال وي، جامع وي، اولويتونه په کې مراعات شي او په دوامداره توګه پرمخ ولاړه شي.

## د فصل خلاصه

له اسلامي شخصيت او مسلمانې کورنۍ وروسته اسلامي ټولنه او اسلامي جماعت د الله په ځمکه د اسلامي حاکميت د تنفيذ لپاره دريم قدم بلل کيږي، لکه څنګه چې مسلمانه کورنۍ مسلمان شخصيتونو ته ضرورت لري او اسلامي جماعت مسلمانو کورنيو ته، همدا شان اسلامي نظام او اسلامي حاکميت اسلامي تحريك او اسلامي جماعت ته ضرورت لري کوم چې د الله په ځمکې د الهي نظام حاکميت لپاره مبارزه کوي.

د اسلامي جماعت له جوړېدو وړاندې په انفرادي توګه د اسلامي نظام او حاکميت خوب ليدل نه تعبير کيږي، کوم خلك چې په فردي ډول د اسلامي نظام لپاره کار کوي هغوی په اصل کې د دې دين په مزاج او منهج نه دي پوه شوي، اسلام خپلو لارويانو ته امر کوي چې په يو مرصوص صف کې د الله په ځمکه د الله د نظام حاکميت لپاره وجنګيږئ، نو د اسلامي جماعت جوړېدل د اسلامي نظام او حاکميت لپاره يو اصل دی او له دې پرته دا نظام نشي رامنځته کېدی.

Bawar.net

اسلامي جماعت له مسلمانو افرادو او مسلمانو کورنیو رامنځته شوی وي، دوی د صالح قیادت او منظم سیستم لري او د یوې دقیقې برنامې له مخې غواړي په ټولې انساني ټولنې کې الهي شریعت او اسلامي نظام حاکم شي، ټول مسلمانان مکلف دي په دې جماعت کې غړیتوب ولري، دا ځکه چې له اسلامي جماعت پرته د مسلمان ټول اجتماعي مسؤلیتونه ضایع کیږي او په یوازې توب هېڅوک نشي کولی خپل ټولنیز رسالتونه ترسره کړي.

اسلامي جماعت باید له مسلمانو شخصیتونو او مسلمانو کورنیو جوړ شوی وي او دا جماعت د دې افرادو د اسلامي شخصیتونو په وده او ارتقا کې منظم کار وکړي، او افراد هم د خپل جماعت پوره متابعت او د مسؤلینو اطاعت وکړي، د دې جماعت قیادت باید صالح قیادت وي، د حکمت او صلاحیت په نظر کې نیولو سره د مسلمانانو لخوا پرې اعتماد شوی وي، او هغه د عدالت په مقتضا خپله دنده پر مخ بوځي.

اسلامي جماعت باید د شورى په اصل ولاړ نظام ولري؛ کوم چې په خپل نظم کې مثالي وي، هر څه د قربانۍ په معیار پر مخ ولاړ شي، د ټولو غړیو تر منځ ئې د اسلامي اخوت فضا او پوره اعتماد وي، هر څوک په کې د حق اظهار وکړی شي، د مکافاتو او مجازاتو نظام ولري او د عمل په ساحه کې په ځان بسیا وي.

Bawar.net

اسلامي جماعت د یو الهي، معنوي، نړی وال، جامع او کامل، اولویت خوښونکی، مستمر او خوځنده برنامې لرونکی وي کوم چې په هغه کې د انساني ټولنې له ټولو طبقاتو سره د تعامل او د هغوی په وړاندې د اسلامي جماعت د مکلفیتونو حدود ټاکل شوي.

اوس که موږ غواړو کوم جماعت وڅېړو چې آیا دا یو اسلامي جماعت دی او که نه؟ نو په پورتنیو مواصفاتو او ارکانو ئې پېژندلی شو، که دا جماعت په خپلو افرادو، قیادت، نظام او برنامې کې ذکر شوي مواصفات ولري نو دا یو اسلامي جماعت دی او که د هغه په افرادو، قیادت، نظام او برنامې کې پورتني مواصفات او معیارونه نه وي نو اسلامي جماعت نه دی، همدارنګه که څوك د اسلامي جماعت تأسیس غواړي نو اسلامي جماعت له پورتنیو ذکر شویو مواصفاتو پرته نشي رامنځته کېدی، دا هم د یادونې وړ ده چې دا صفات له هغو سلګونو صفاتو چې یو اسلامي جماعت ته ضرورت دی یوازې بنسټیز او اساسي صفات دي چې له دې پرته اسلامي جماعت خپل حقیقت ته نشي رسېدی.

Bawar.net

# څلورم فصل

## اسلامي نظام (په نظام او حکومت کې د اسلام حقیقت)

- د اسلامي نظام یا اسلامي خلافت پېژندنه
- د اسلامي خلافت د اقامې وجیبه
- د اسلامي خلافت امیر
- د اسلامي خلافت نظام
- د اسلامي خلافت رسالت او وجایب
- د فصل خلاصه

Bawar.net

# څلورم فصل

## لومړی بحث

## د اسلامي نظام پېژندنه

د انساني ټولنې د چارو سمبالوونکی نظام په اسلام کې د خلافت په نوم یادیږي، خلافت د استخلاف په معنی دی چې یو امیر له بل وروسته ټاکل کیږي او د خلافت له متعددو تعبیرونو همدا دقیق تعبیر دی، اسلامي خلافت د مسلمان او صالح امیر په قیادت د حکم هغه نظام ته وایي چې په ټولنه کې اسلامي شریعت نافذ او ټول انسانیت ته د دعوت او جهاد له لارې د اسلامي رسالت بار په اوږو وړي. نو اسلامي نظام د حکم نظام دی کوم چې د ټولنې واکې په لاس کې لري، مسلمان او وړ امیر لري، په ټولنه کې ئې اسلامي شریعت نافذ کړی وي او په ټوله نړۍ کې د اسلامي شریعت د نفاذ لپاره دعوت او جهاد کوي.

له پورتني تعریف او وضاحت په ډاګه معلومیږي چې د اسلامي نظام یا اسلامي خلافت جوړوونکي ارکان؛ قیادت، د حکم نظام، او عالمي رسالت دی، اسلامي خلافت هغه وخت پوره کیږي چې دا ارکان ئې بشپړ شي، صالح قیادت ولري، صالح او اهل نظام ولري چې شریعت نافذ کړي او په ټوله نړۍ کې د اسلام حاکمیت لپاره دعوت او جهاد وکړي.

Bawar.net

د پخوانیو بحثونو په شان دلته هم ویلی شو چې اسلامي نظام او اسلامي خلافت تشه دعوی نه ده، نن د نړۍ پرمخ ډېر نظامونه اسلام ته منسوب ګڼل کیږي او په نومونو کې ئې د اسلام کلمې ته ځای ورکړئ خو کوم نظام چې پورتني درې ګوني ارکان و نه لري اسلامي نظام نه ګڼل کیږي، دا درې ارکان هم ځینې مواصفات او اصول لري، که دا درې ګوني ارکان له هغه مواصفاتو تش وي بیا هم داسې نظام اسلامي نظام نشي بلل کېدی.

په یو عام تعبیر سره ویلی شو چې که د اسلام په نامه کوم نظام د صالح قیادت له خوا رهبري نشي، یا اهل او صالح نظام و نه لري او یا خپل رسالت چې د الله په زمکه د الله د حکم نفاذ دی، ترسره نکړي هغه نظام اسلامي نظام نشي بلل کېدی.

موږ په دې فصل کې د اسلامي خلافت او یا اسلامي نظام د دې درې ګونو ارکانو هغه اساسي مواصفات بیانوو چې حتماً باید د اسلامي نظام په دې ارکانو کې موجود وي تر څو نظام ته اسلامي خلافت وویل شي، د اسلامي خلافت د ټولو مواصفاتو او اصولو راټولول په یوه لنډ بحث کې ممکن نه دي، دلته موږ غواړو د اسلامي نظام د پېژندلو لپاره هغه اساسي شاخصونه په ګوته کړو کوم چې کېدی شي موږ د اسلامي خلافت تمیز له نورو نظامونو وکړو، او همدارنګه د اسلامي خلافت د

Bawar.net

احیاء په لاره کې سپاهیان باید په دې پوه شي چې اسلامي خلافت بوازې په همدې اصولو رامنځته کېدی شي.

### دوهم بحث

## د اسلامي خلافت د اقامې وجیبه

د اسلامي خلافت نفاذ پر بندګانو الهي وجیبه ده، الله انسان د دې لپاره پیدا کړي چې د زمکې پر مخ د الله حکم او دستور قائم کړي، د الهي حکم له حاکمیت پرته د زمکې پر مخ انساني ژوند بې هدفه ژوند دی او چې کله هم په زمکې کې د الله احکام تر پښو لاندې شي او هېڅوک د دې احکامو د تنفیذ لپاره دعوت او جهاد ونکړي بیا د کائناتو نظام خپله بقا له لاسه ورکوي او همغه وخت دا نظام ختمیږي، دا ځکه چې دا کائنات د یوې شېبې لپاره هم بې هدفه بقا نشي موندلی.

الله تعالی چې څومره خپل احکام بندګانو ته استولي او بیا د دې احکامو اقامه او نفاذ ئې په خلکو لازم ګرځولی په حقیقت کې دا ټول د هغه نظام د حاکمیت لپاره د وجوب دلائل دي کوم چې کولی شي دا احکام پر خلکو نافذ کړي او د الله دې احکامو ته خلك دعوت کړي، د ظلم مخه ونیسي، د انسانانو لپاره د دنیا او آخرت د سعادت لارې پرانیزي، او همدې نظام ته اسلامي خلافت وایي.

Bawar.net

قرآن په وار وار دا حکم کوي چې د الله دستور حاکم کړئ، خپلې چارې د الله د قانون مطابق پرمخ بوځئ، خپلې فیصلې د الله په قانون وکړئ، د قانون مرجع یوازې الله دی او د الله قانون تاسو ته کافي دی، قرآن فرمايي: **إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ**(یوسف۴۰)- **ترجمه:حکم یوازې د الله دی.** په بل آیت کې فرمايي: **فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ**(المائده۴۸)- **ترجمه: نو ته حکم وکړه د دوی تر منځ په هغه قانون چې الله نازل کړی.** متصل په بل آیت کې فرمايي: **وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ**(المائده۴۹)- **ترجمه: او ته حکم وکړه د دوی تر منځ په هغه دستور چې الله راستولی.**

دا ټول آیتونه چې د حکم مرجع الله ګڼي او امر کوي چې د الله په قانون او دستور حکم وکړئ په حقیقت کې د هغه نظام په حاکمیت امر کوي کوم چې کولی شي د الله قانون او دستور حاکم کړي، که د الله په دستور او قانون حکم کول د مسلمانانو فرض وي نو د هغه نظام حاکمول هم د مسلمانانو فریضه ده کوم چې د الله د احکامو تنفیذ ئې په غاړه وي او د الله احکام له هغه نظام پرته نشي حاکم کېدی.

همدارنګه په نبوي ارشاداتو کې بې شمېره داسې واضح احکام دي چې مسلمانان د اسلامي خلافت او مسلمان امیر په درلودلو مکلف بولي تر څو د هغه تر سیورې لاندې د الله د دستور او قانون مطابق ژوند وکړي، اسلامي نظام او مسلمان امیر د مسلمانانو د دنیا او آخرت د سعادت

Bawar.net

وسیله ګڼل شوی او مسلمانانو ته ویل شوي چې له اسلامي نظام بهر ژوند کول او د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره کار نه کول په حقیقت کې له اسلام وتل دي، رسول الله ۲ فرمایي: **من خلع یدا من طاعة، لقي الله یوم القیامة لا حجة له، ومن مات ولیس في عنقه بیعة، مات میتة جاهلیة**(مسلم له عبدالله بن عمر روایت کړی)- **ترجمه:چاچې لاس له اطاعت واخیست؛ د قیامت په ورځ به له الله سره مخ شي په داسې حال کې چې هېڅ دلیل به ورسره نه وي، او څوک چې مړ شو او په غاړه ئې بیعت نه وو هغه د جاهلیت په مرګ مړ شو.**

په دې حدیث کې دا لازم بلل شوي چې د مسلمان په غاړه بیعت وي، یعنې د مسلمان لپاره د بیعت ځای موجود وي که داسې نه وي نو مسلمانان د جاهلیت د زمانې په شان په داسې حال کې مري چې اسلامي نظام او خلافت به د ځمکې پر مخ نه وي، دا حدیث په حقیقت کې د اسلامي خلافت او امیر د موجودیت وجیبه څرګندوي.

په احادیثو کې په وار وار دا ویل شوي چې د خپل امام اطاعت وکړئ، په سختیو او آسانیو کې ئې اطاعت وکړئ، له بواح کفر پرته د امام په خلافت بغاوت مه کوئ، له لومړي امام سره مو چې بیعت وکړ هغه مه ماتوئ او ډېر داسې نور احادیث چې ټول د امام او خلافت په لزوم حکم کوي او مسلمانانو ته وایي له امام او خلافت پرته ژوند مه کوئ.

همدارنګه د صحابه وو اجماع په دې خبره ده چې له مسلمان خلیفه سره بیعت او د اسلامي خلافت اقامه د اسلامي ټولنې او اسلامي

Bawar.net

جماعت ستره فريضه او وجيبه ده، صحابه وو د نبي کريم۲ له وفات وروسته د هغه تر دفن وړاندې خليفه وټاکه او په دې هکله ئې هېڅ تأخير او تساهل ونکړ، له دې معلومېږي چې د نبي کريم۲ تر تدفين هم د مسلمان خليفه ټاکل مهمه او لويه وجيبه ده.

نو د مسلمان خليفه نصب او د اسلامي خلافت اقامه د مسلمانانو او اسلامي جماعت له سترو فرائضو دي، که اسلامي جماعت د اسلامي خلافت رامنځته کولو په لاره کې دعوت او جهاد ونکړي نو په حقيقت کې يوه ستره فريضه ئې تر پښو لاندې کړې، داسې فريضه چې له هغه پرته د مسلمانانو ژوند د جاهليت ژوند بلل شوی.

## درېيم بحث

## د اسلامي خلافت امير

موږ دلته هغه څه ذکر کوو چې له هغه پرته اسلامي نظام جوړېدلی نشي او له هغه پرته کوم نظام ته اسلامي نظام او خلافت نشي ويل کېدی ، د اسلامي خلافت لومړی تکويني رکن امام او خليفه دی، له صالح خليفه يا امام پرته د اسلامي خلافت قيام ممکن نه دی، اسلامي خلافت به د صالح امير تر قيادت لاندې جوړېږي، د اسلامي خلافت او نظام لومړی شاخص صالح قيادت دی، امير په هر نظام کې لازم وي خو په اسلامي خلافت کې بيا صالح امام د خلافت واجبي رکن بلل شوی.

Bawar.net

دا چې صالح امام او امیر چاته ویل کیږي او څه صفات لري؟ امیر څنګه انتخاب شي؟ د امیر صلاحیتونه کوم دي؟ د امیر حقوق په رعیت څه دي؟ د رعیت حقوق په امیر کوم دي؟ امیر تر کوم وخت امیر پاتې کیږي او څه وخت باید امیر عزل شي؟ د امیر اطاعت کله لازم او کله ضرور نه دی؟ دا ټول هغه تفصیلي بحثونه دي چې مسلمانو علماؤ په پوره تفصیل د الهي ارشاداتو او نبوي احادیثو په رڼا کې بیان کړي، مونږ دلته دې پوښتنو ته په ډېر اختصار داسې ځواب وایو چې صالح امیر د اسلامي نظام یو رکن دی او دا صالح قیادت باید د مسلمانانو له خوا د اسلامي نظام د مشرۍ لپاره د امارت د مواصفاتو په نظر کې نیولو سره وټاکل شي، رعیت او امیر یو د بل حقوق اداء کړي او تر هغه چې امیر د اسلامي خلافت په الهي منهج ولاړ وي، خلک ئې اطاعت وکړي.

مسلمانو علماؤ د اسلامي خلافت امام ته لازمی صفات داسې ښودلي چې امام باید مسلمان، نارینه، بالغ، آزاد، عاقل، د بدن په غړو روغ، په دین پوه، عادل، شجاع، د مسلمانانو د امورو په تنظیم پوه او د رأیې خاوند وي، د قریشیت شرط هم په احادیثو کې ذکر او د اهل سنت مشهورو علماؤ دا شرط لازم ګڼلی خو لکه چې په احادیثو کې هم ورسره قید شته (**ما اقاموا الدین**) یعنې تر هغه چې دین قائم کړي، او که قریشي له عدالت او نفاذ دین مخ واړوي غیر قریشي ټاکل هم رواء دي.

Bawar.net

خلاصه دا چې د اسلامي خلافت امیر باید په علم، عمل، عدالت، دیانت او صلاحیت کې تر نورو مسلمانانو ممتاز شخصیت وي، د دې ټولو مواصفاتو تعبیر قرآن د طالوت عليه السلام په ټاکنه کې په دوو اصطلاحاتو سره کړی: **وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ**(البقره۲۴۷)- **ترجمه: او هغه ته ئې په پوهې او جسامت کې زیات والی ورکړی.** یعنې هغه ته تر نورو ډېر حکمت او صلاحیت ورکړل شوی وو، پوهه او توانمندي يې تر نورو ډېره وه او همدا د صالح قیادت عمده او اساسي صفات دي.

په اسلامي نظام کې امارت موروثي نه ده او نه هم په زور او یا چل ترلاسه کیږي، امیر باید د مسلمانانو معتمد شخص وي او ټول مسلمانان له هغه سره بیعت وکړي، دی هغه وخت امیر کېدی شي چې مسلمانان ورسره په خپله خوښه بیعت وکړي، امارت په حقیقت کې وکالت دی او وکالت د مؤکل له خوښې او رضاء پرته نه صحیح کیږي، وکالت څوک په میراث او یا زور نشي ترلاسه کولی.

په اسلام کې د امیر ټاکل منصوصي نه ده او د دې لپاره خاصه طریقه نه ده لازمه شوې، دا د مسلمانانو خوښې ته پرېښودل شوې چې څنګه خپل امیر او خلیفه ټاکي، کېدی شي ټول مسلمانان د امیر په ټاکلو کې برخه واخلي او دا طریقه د اسلام له روح سره ډېره برابره ده، ځینې حقوق مسلمانانو ته په عام ډول له کوم تمیز پرته حاصل دي چې یو هم

Bawar.net

د امیر ټاکل دي، لکه څنګه چې د یو مسجد امام د ټولو لمونځ کوونکو په خوښه او د یو سفر امیر د ټولو مسافرینو په خوښه ټاکل کیږي، همدا شان د مسلمانانو امیر هم د ټولو مسلمانانو په خوښه ټاکل کیږي، بله طریقه داسې هم کېدی شي چې امیر د مسلمانانو د نقباؤ او مشرانو، د اهل حل و عقد یا مجلس شوری نمایندګانو له خوا وټاکل شي، په دې دواړو طریقو د راشده خلفاؤ د ټاکلو پر وخت د امت اجماع شوې، خو په دواړو طریقو کې د عامو مسلمانانو رضایت او د هغوی بیعت په عام محضر کې له اکراه او جبر پرته شرط دی او له داسې رضایت پرته څوک د مسلمانانو خلیفه نشي کېدی.

د خلیفه له لوري د ولیعهد ټاکل د علماؤ له نظره جائز ګڼل شوی خو په دې شرط چې د مسلمانانو رضایت پرې حاصل شي او ټول مسلمانان ورسره بیعت وکړي، نه دا چې د ولیعهد ټاکل د موروثي نظام اساس وګرځي او اسلامي خلافت په موروثي نظام بدل شي، د اضطرار په حالت کې متغلب چې اسلامي شریعت نافذ کړي او مسلمانان ورته غاړه کیږدي هم خلیفه بلل کېدی شي خو په دې شرط چې شریعت نافذ کړي، مسلمانان ورته غاړه کیږدي او د جګړو د فتنې مخنیوی پرې وشي نه دا چې فتنې ئې راولاړې کړې وي او د عادل امام په خلاف ئې داسې بغاوت کړی وي چې بیا مسلط شوی هم نه وي، په اصل کې د غلبې له لارې امارت ته رسېدل حرام کار دی خو چې کله د امارت په

Bawar.net
ټاکلو کې مسلمانان په فتنه کې واقع وي، دا طریقه د هلاکت له وېرې د یو حرام خوراك په شان کېدی شي له فتنې د امت د خلاصون یوه لاره وبلل شي، متغلب مشروع امیر نه بلکې د اضطرار د وخت حرام خوراك دی چې د فتنو د مخنیوي لپاره ئې خلافت ته اسلامي خلافت ویل کېدی شي، احناف وایي که دا متغلب ظالم او فاسق وو په خلاف ئې خروج لازم دی.

د امیر او رعیت پر یو بل ډېر حقوق دي چې دوه حقونه پکې د ټولو محور ګڼل کیږي، پر امیر د رعیت حق عدالت او خدمت دی او پر رعیت د امیر حق اطاعت او خیرغوښتنه(نصیحت)، دا د ټولو نورو حقوقو اساس جوړوي، امیر باید عدالت ولري او د خپل رعیت د هر ډول مادي او معنوي حق ورته وسپاري او خدمت ئې وکړي او رعیت په پوره اخلاص او مینې په ښکاره او پټه کې، په آسانیو او سختیو کې د خپل امیر اطاعت وکړي او هغه ته خیر وغواړي چې په دین برابر نظام پر مخ بوزي.

زموږ د دې بحث خلاصه دا شوه چې اسلامي نظام هغه وخت اسلامي نظام او خلافت دی چې د صالح قیادت(د پوهې او صلاحیت خاوند قیادت) څښتن وي دا قیادت د مسلمانانو له لوري په پوره رضایت ټاکل شوی وي او دا صالح امیر د اسلامي نظام د ټولو مسؤلیتونو په رأس کې

Bawar.net

د لومړی مسؤل په توګه د اسلامي نظام او رعیت حقوق اداء کړي او رعیت هم د هغه اطاعت، مرسته او خیرغوښتنه وکړي.

## څلورم بحث

## د اسلامي خلافت نظام

هغه نظامونه چې د یو مطلق العنان حاکم او دیکتاتور له واک وتلي او څه قانوني بڼه لري عمدتاً له مقننه، اجرائیه او قضائیه قوو جوړ شوي، د قوو دا وېش د ارسطو او افلاطون له وخته د یوې نظریې په ډول موجود وو خو ډېر وروسته په معاصر تاریخ کې دا وېش په عملي توګه د حکومتونو په نظام کې د یو اصل په توګه ومنل شو او نن د ډېرو حکومتونو په تنظیم کې له همدې وېش متابعت کیږي، چې د دې وېش پر بنسټ مقننه قوه په عامو مصالحو کې مشوره او د قانون جوړولو مسؤلیت لري، اجرائیه قوه د نظام چارې پرمخ وړي او د قانون پلي کولو مسؤلیت په غاړه لري او قضائیه قوه د منازعاتو حل او د قانون متخلفینو ته د جزاء ټاکلو مسؤلیت لري.

په اسلامي خلافت کې هم له امیر راښکته نظام په دریو عمده برخو وېشل شوي: شوری، وزارت او قضاء. د راشده خلافت نظام له همدې دریو برخو جوړ شوی وو چې د اسلامي نظام لپاره بڼه بېلګه او نمونه ده، په دې دریو واړو برخو کې تشکیلاتی نظام چې څنګه جوړېدی شي د مسلمانانو خوښې او ضرورتونو پورې اړه لري، دا چې شوری

Bawar.net

څومره خلك وي او څنګه انتخاب شي؟ وزارتونه څومره وي او کوم مسؤليتونه او صلاحيتونه ولري؟ قضاء اداره څومره واحدونه ولري؟ او څنګه خپل امور پرمخ بوزي؟ دا ټول د مسلمانانو ضرورت او د دوی خپلې مشورې ته پرېښودل شوې چې د شرائطو او ضرورتونو مطابق ئې ترتيب کړي.

**۱- شوری:** د اسلامي خلافت په نظام کې لومړی اداره او مقتدره قوه شوری ده، شوری په اسلامي خلافت او نظام کې د صلاحيت لوړه مرجع ده، د اسلامي خلافت امير ته د چارو په سمون کې مشوره او د امير او نظام امور څارل د دې شوری مکلفيت دی، دا شوری د مسلمانانو په نيابت د امير ټاکلو او عزل کولو صلاحيت هم لري، په دې شوری کې د مسلمانانو نقباء او مشران راټول شوي وي تر څو اسلامي خلافت ته نېکې مشورې ورکړي او د چارو څارنه ئې وکړي، په اسلامي نظام کې امير مکلف دی د دې شوری په مشورې عمل وکړي، له عادي ورځنيو فيصلو پرته امير بايد په ټولو سترو چارو او لوړو مصالحو کې د شوری مشوره ترلاسه او د هغې مشورې مطابق عمل وکړي، په اسلام کې هېچاته د مطلق حاکميت صلاحيت نشته بلکې امام او امير به هم د شوری په مشورې عمل کوي.

Bawar.net

د نورو نظامونو برعکس په اسلامي خلافت کې د تقنین او قانون جوړونې حق هېڅاته ندی حاصل، دا حق یوازې د الله دی، هېڅوک نشي کولی له خپل ځان د خلکو مصالح تعیین او دوی ته دستور او قانون جوړ کړي، د اسلامي خلافت له سترو امتیازاتو یو دا دی چې د دې نظام دستور او قانون داسې ذات تصویب کړی کوم چې ټول کائنات ئې پیدا کړي او په ټولو ضرورتونو او د نېک بختۍ په لارو چارو ئې علیم او پوه دی، اسلامي خلافت مکلف دی چې اسلامي شریعت او الهي حکم تنفیذ کړي نه دا چې د انسانانو په ناقصو عقلونو د هغوی لپاره دستور او قانون جوړ کړي، په اسلامي نظام کې اعلی حاکم او مصدر قانون د کائناتو رب او پالونکی الله دی.

په اسلامي نظام کې انساني عقل نه، بلکې الهي وحی د انسانانو د ژوند دستور او قانون بیانوي، قرآن فرمايي: **إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ**(یوسف۴۰)- **ترجمه:حکم یوازې د الله دی.** په بل آیت کې فرمايي: **فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ**(المائده۴۸)- **ترجمه: نو ته حکم وکړه د دوی تر منځ په هغه قانون چې الله نازل کړی.** متصل په بل آیت کې فرمايي: **وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ**(المائده۴۹)- **ترجمه: او ته حکم وکړه د دوی تر منځ په هغه دستور چې الله راستولی.** په بل ځای کې الله فرمايي: **أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ**(المائده۵۰)- **ترجمه: آیا دوی د جاهلیت دستور او قانون غواړي؟ او څوک دی له الله ښه قانون لرونکی د هغه قوم لپاره چې په**

Bawar.net

الله باور لري. تقريباً د قرآن کریم په ۲۲ آیتونو کې صراحتاً او اشارتاً دا بیان شوی چې حکم او د قانون جوړونې حق د الله حق دی او په دې حق کې هېڅوک له الله سره شریك نه دي، او د الله د حکم په خلاف هر حکم د جاهلیت حکم دی او هر حاکم او مقنن طاغوت دی، نه یوازې قانون جوړوونکی طاغوت دی بلکې هغه چې دا قانون پلی کوي، دعوت ورته کوي، مرسته ئې کوي، د حاکمیت لپاره ئې جنګیږي او یا په خپله خوښه ورته غاړه ږدي او تسلمیږي، ټول د الله په دې حق کې د الله په مقابل کې درېدلي او په حقیقت کې د الله په وړاندې د دې حق له تسلیمولو ئې مخونه اړولي چې داسې کسانو ته د طاغوت بندګان وايي.

انسان هغه وخت مسلمان بلل کیږي چې د طاغوت په حاکمیت کافر شي او د الله حاکمیت ته تسلیم، د الله دستور ومني او له نورو قوانینو برائت اعلان کړي، قرآن فرمايي: **فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ**(البقره۲۵۶)- **ترجمه: او څوک چې په طاغوت کافر شو او په الله ئې ایمان راوړ نو په کلکې رسۍ یې منګولې خښې کړې چې شلېدل یې نشته او الله ښه اوریدونکی او پوه ذات دی.** امام مجاهد د دې آیت په تفسیر کې فرمايي طاغوت هغه څوك دی چې(**یتحاکمون الیه وهو صاحب امرهم**) یعنې د الله په خلاف ئې ځان د خلکو مرجع قانون ګرځولی وي او خلك د هغه په خواهشاتو ته

Bawar.net

خپلې فیصلې وړاندې کوي، په طاغوت د کفر معنی دا ده چې انسان د الله حاکمیت ومني او د الله قانون ته غاړه کېږدي او له نورو قوانینو او قانون جوړوونکو برائت اعلان کړي.

له قرآن وروسته په سلګونو احادیث او د امت اجماع د دې خبرې ثبوت او ښکاره دلیل دی چې د قانون جوړولو حق د الله دی او اسلامي خلافت همغه ته وايي چې یوازې د الله حاکمیت ته تسلیم شوی وي او له الهي دستور او قانون پرته یوه خبره هم نه مني.

په اسلامي خلافت کې له الهي احکامو او شرعي نصوصو د قوانینو استنباط، توضیح او تنظیم د علماؤ او مجتهدینو کار دی چې د اسلامي خلافت د ضرورتونو مطابق ئې ترلاسه او توضیح کوي، اسلامي خلافت د دموکرسی او نورو فاسدو انساني نظامونو په شان نه دی چې د قانون جوړونې کار داسې چاته وسپاري چې هغوی د ټولنې مفسد عناصر او د زور، زر او تذویر په مټ د پارلمان په نامه ادارې ته راغلي او د خپلو هوسونو عبادت کوي، د اسلامي ټولنې څه چې حتی په خپلو مصلحتونو هم خبر نه وي، هغوی په دې نه دي خبر چې د الله له بندګۍ سرغړول د دنیا او آخرت ذلت او خواري له ځان سره لري، داسې خلک څنګه کېدی شي د انساني ټولنې مصالح تشخیص او ورته وړ قوانین جوړ کړي، نه یوازې دوی بلکې ډېر متقي خلک هم له دې عاجز دي چې د

Bawar.net

انسانانو په ټولو مصالحو خبر وي او دې مصالحو ته ور دستور وټاکي، د ژوند کړن لاره او دستور به هغه څوک ټاکي چې انسانان او کائنات ئې پیدا کړي.

نو په اسلامي خلافت کې د حاکمیت او قانون جوړونې حق د الله دی او د دې قانون توضیح او تشریح د نبي کریم۲ او له هغه وروسته د هغه د ورثه ؤ (مجتهدو علماؤ) کار دی، شورى په اسلامي نظام کې په عمومي ډول د مشورې او نظارت مسؤلیت لري او هغه مجتهد علماء چې د شورى غړي دي د ضرورت پر وخت اسلامي نظام ته د ژوندانه په نوي چارو کې د صالحو سلفو د فهم مطابق الهي رالیږل شوی قانون تفسیر او مقتضیات ئې بیانوي.

**۲- وزارت:** له شورى وروسته د اسلامي خلافت بله قوه چې اجرائیه قوه او اجرائیه ادارات دي، د وزارت په نامه یاد شوي، د وزیر کلمه په قرآن کې دوه ځله ذکر ده او په احادیثو کې هم ذکر شوې، نبي کریم۲ خپلو اصحابو ته وزیران ویلي، وزیر د پناه ځای، بار وړونکی او مرستندوی په معنی راغلی چې ښه معنی ئې همدا مرستندوی دی، هیڅ امیر له وزیرانو مستغني کیدی نشي، امام ماوردی رحمه الله او قاضي ابویعلی رحمه الله وایي: که د نبوت په کار کې د وزیر ضرورت وي نو د خلافت او امامت لپاره حتماً د وزارت ضرورت شته.

Bawar.net

وزیران دوه ډوله وي: د تفویض وزیر چې ټول صلاحیت ورکړل شوی وي لکه صدراعظم او د تنفیذ وزیر چې یوازې د تطبیق صلاحیت لري، دواړه ډوله وزارتونه جائز دي او کیدی شي په اسلامي خلافت کې ورته اهل کسان و ټاکل شي، امام ماوردی رحمه الله د (آداب الوزیر) په نامه کتاب لیکلی او وایي: د تفویض وزیر باید د امیر په شان صفات ولري او د تنفیذ وزیر کیدی شي له امیر د لږ کمو صفاتو څښتن وي خو ځینې صفات مهم دي لکه امانت، صداقت او فراست.

په نبوي دور او راشده خلافت کې په ساده ډول وزیران موجود ول او په اموي دور کې دې وزارتونو پرمختګ وکړ او بیا په عباسي دوره کې ورته اصول وضع شول، د صدراعظم ټاکل په عباسي دوره کې د هارون رشید په زمانه کې پیل شول چې د امیر له خوا ټاکل کیده، دې کار نه یوازې کومه ګټه ونکړه بلکې ډیر تاوانونه ئې هم پیښ کړل، علماء وایي که د تفویض د وزیر ضرورت وي نو باید په هغه کې د امیر ټول صفات موجود وي او باید هغه هم د امیر په شان د عامو مسلمانانو او یا شوری له لوري انتخاب شي، انتصابي نه وي.

د وزارتونو تعداد، مسؤلیتونه او صلاحیتونو د امیر او شوری له خوا ټاکل کیږي، امیر په خپل سر د وزیرانو د ټاکلو صلاحیت نه لري، د وزیرانو تعداد او ټاکل او د هغوی صلاحیتونه او مسؤلیتونه ټول باید د شوری په

Bawar.net

مشورې ترسره شي، نو په اسلامي نظام کې له شورى ورسته د وزيرانو ضرورت وي او دا وزيران بايد د امير او شورى له خوا په ګډه و ټاکل شي، وزيران بايد اهل خلك وي چې د امير په شان او يا له هغه د لږو کمو صفاتو څښتنان وي.

**۳- قضاء**: د اسلامي خلافت درېيم رکن د قضاء اداره ده، د قضاء اداره په اسلامي خلافت کې د قيام عدل او د خلکو تر منځ د قانوني برابرۍ لپاره جوړېږي، د ټولو خلکو له خوا د قانون يو شان عملي کېدل د اسلامي خلافت لوی امتياز دی او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمايي: د اسلامي خلافت ماڼۍ په دوو ستنو ولاړه ده؛ يوه ئې کار اهل ته سپارل او دوهمه ئې د خلکو تر منځ په عدل حکم کول، د اسلامي خلافت قيام د همدې لپاره دی چې عدل قائم کړي او کار اهل ته وسپاري تر څو خلك د خلکو له بندګۍ خلاص او د الله بندګان شي.

قضاء د خلکو تر منځ د الهي قانون نافذول او په عدل حکم کولو ته وائي، د دې ستر مسؤليت لپاره په اسلامي خلافت کې داسې مستقله اداره لازمي ګرځېدلې چې په کې د مسلمانانو د امير او د ټولنې د يوه عادي وګړي تر منځ هېڅ فرق نه وي او دا اداره وتوانيږي له کوم توپير پرته الهي احکام په ټولو خلکو يو شان پلي کړي.

Bawar.net

دا چې مو‌ږ وویل قضاء د الهي حکم نفاذ او د عدل اقامې ته وايي؛ نو معلومه شوه چې قاضي او د قضاء اداره په اسلامي نظام کې حاکمه اداره ده او خپلې فيصلې تطبيقولی شي، د مفتيانو په شان نه ده چې يوازې حکم بيانوي او د تطبيق مسؤليت ئې په غاړه نه لري، همدارنګه د قضاء له همدې تعريف معلوميږي چې په اسلامي خلافت کې د قضاء اداره جوړول فرض دی تر څو الهي حکم تنفيذ او عدل قائم کړي، لکه څنګه چې د شرعي حکم تنفيذ او د عدل قائمول فرض دي د هغې وسيلې رامنځته کول چې دا فرض پرې ترسره کيږي هم فرض دی.

د قضاء په اداره کې تر ټولو لوی شرط دا دی چې شرعي احکام په ټولو يو شان د عدل په تقاضا حاکم شي، او هغه څوک چې په قضاء اداره کې دا ستر مسؤليت په غاړه لري د قاضي په نامه ياديږي، دغه قاضي هم بايد د څه صفاتو خاوند وي تر څو وکولی شي خپل مسؤليت په ښه شان ترسره کړي، علماء د قاضي لپاره دا صفات شرط بولي: اسلام، بلوغ، عقل، نارينتوب، تقوی، عدالت، فقاهت او دا چې کوڼ او ړوند نه وي، يوازې ابن جرير رحمه الله وايي: ښځه هم قاضي کيدی شي خو دا صحيح قول نه دی ځکه په خير القرون کې د دې خبرې لپاره څه اصل نشته.

Bawar.net

قاضي به په ترتیب سره په قرآن، حدیث، اجماع او بیا په خپل اجتهاد حکم کوي او په خپل حکم کې به له الله وېره لري، که ئې د عدالت له مخې حکم وکړ نو په احادیثو کې ئې ډېر فضیلت ذکر شوی او که ئې ظلم وکړ په احادیثو کې ورته سخت وعید بیان شوی.

د قاضي د وجایبو په هکله عمر رضي الله عنه ابو موسی اشعری رضي الله عنه ته یو لیک استولی وو او په هغه کې ئې په پوره ډول د یو قاضي وجایب بیان کړي، خلاصه ئې دا ده چې قاضي به د قضاء منصب غوښتنه نه کوي، له تحقیق او اجتهاد وروسته به پرېکړه کوي، د غصې او خفګان پروخت به قضاوت نه کوي، مدعي او مدعي علیه ته به په یوه سترګه ګوري او دواړه به په یو ځای کښېنوي، یو پر بل به فضلیت نه ورکوي، د تحفو او رشوتونو له اخیستلو به ډډه کوي، له علماؤ به مشوره اخلي، عادل او پوه محرر به ځان ته ټاکي، د ضرورت پر وخت به ځان ته عادل او پوه ترجمان ټاکي، د قضاء ادارې دروازې به د ټولو پر مخ خلاصې پرېږدي، ټول وخت به قضاء ته فارغ وي او شخصي کار نه کوي.

په اسلامي نظام کې د عدل اقامې لپاره دا ضروري ګڼل شوی چې اجرائیه قوه له قضاء جلا وي او د قضاء په چارو کې د هېچا دخالت نه وي تر څو قانون پر ټولو یوشان تطبیق شي که هغه عام رعیت دی او

Bawar.net

که د چارو مسؤلین دي، اسلامي خلافت د قضاء په برخه کې باید مثالي نظام ولري، د راشده خلافت په دور کې د قضاء داسې مثالي نظام حاکم شوی وو چې د نړۍ ټول تاریخ ئې ساری نشي موندلی، په حقوقي مسائلو کې د خلیفه او یو ذمي تر منځ هیڅ توپیر نه دی شوی او قضاء هغه حکم کړی کوم چې د عدل غوښتنه وه.

له دې ځایه ویلی شوی چې په اسلامي خلافت کې له صالح قیادت وروسته باید صالح نظام حاکم وي، د دې نظام مواصفات دا دي چې شوری ولري او شوری د خلافت د پریکړو لوړه مرجع و بلل شي، هېڅوک حق و نه لري چې په چارو کې خپل سر او خپل واک تصرفات او فیصلې وکړي، د شوری تر څنګ باید نظام اجرائیه تشکیلات او وزارتونه ولري تر څو د رعیت دینې او دنیوی چارې په خپل وخت او منظم ترسره شي، همدارنګه اسلامي خلافت د شوری او اجرائیه اداراتو برسېره عادل قضائي اداره ولري چې له کوم توپیر پرته په ټول رعیت الهي احکام پلي کړي او همدې ته د اسلامي خلافت صالح نظام وايي چې د خلافت دوهم رکن بلل کیږي.

Bawar.net

## د اسلامي خلافت رسالت او وجايب

موږ د اسلامي نظام يا اسلامي خلافت مواصفات او معيارونه بيانوو کوم چې کېدی شي د يو نظام تشخيص پرې وشي چې آيا دا يو اسلامي نظام دی که نه؟ په دې برخه کې مو وويل هغه وخت يو نظام ته اسلامي نظام ويلی شو چې صالح قيادت ولري او د صالح قيادت عمده مواصفات مو بيان کړل، بيا مو وويل اسلامي نظام بايد صالح نظام ولري او بيا مو د صالح نظام برخې او د هرې يوې برخې اساسي مواصفات او اصول بيان کړل اوس په دې بحث کې موږ وايو اسلامي نظام له صالح قيادت او صالح نظام وروسته بايد د هغه ستر مسؤليت بار په اوږو ولري کوم چې عنوان ئې (**حتى يكون الدين كله لله ـ تر څو دين ټول د الله شي**) دی، دا هغه رسالت دی چې د انساني ټولنې د خلقت هدف بلل شوی، دا هغه هدف دی چې هر انسان ئې په خپل ځان، کورنۍ، ټولنه او ټول بشريت کې په تحقق مکلف شوی، دا هغه موخه ده چې هر مسلمان، هره مسلمانه کورنۍ، هر مسلمان جماعت او اسلامي نظام د هغه په ترلاسه کولو مأمور شوی.

که يو نظام د صالح قيادت څښتن او صالح نظام ئې جوړ کړی وي خو په خپل نصب العين کې دا ستر هدف و نه لري چې د الله په ټوله زمکه د الله دستور نافذ او ټول انسانيت د طاغوت له بندګۍ نجات ومومي او د

Bawar.net

الله رښتيني بندګان شي هغه ته اسلامي نظام نشي ويل کېدی، لکه څنګه چې د اسلامي شخصيت په مواصفاتو کې مو دعوت او جهاد ذکر کړ، لکه څنګه چې د مسلمانې کورنۍ په ټولنيزو روابطو کې مو د دعوت شرط ذکر کړ، لکه څنګه چې د اسلامي جماعت په برنامو کې مو د اسلامي نظام د حاکميت او په دې لاره کې د دعوت او جهاد مکلفيت ذکر کړ، همداسې د اسلامي نظام له سترو معيارونو(چې د اسلامي نظام رښتينوالی پرې پېژندل کېدی شي) دا ده چې دا نظام په ټولې زمکې او انساني ټولنې کې د الهي حکم د نفاذ او اسلامي شريعت د تعميل ستر رسالت حمل کړي او دا ئې لومړنۍ او وروستۍ هدف وي.

دا چې اسلامي نظام د دې موخې په ترلاسه کولو کې په کومو فرعي مسؤليتونو مکلف دی د هغه ذکر په مختصر ډول دلته کوو، خو مجموعي خبره همدا ده چې اسلامي نظام په دې دريو عمده او اجمالي صفتونو پېژندل کېدی شي چې دا نظام بايد صالح قيادت، اهل او صالح نظام او په ټوله انساني ټولنه کې د اسلامي شريعت د نفاذ رسالت او مسؤليت له ځان سره ولري، که په يو نظام کې دا درې ګوني اجمالي صفات موجود وي هغه اسلامي نظام او اسلامي خلافت دی او که نه وي نه دی، موږ د صالح قيادت او صالح نظام مواصفات په اختصار بيان کړل اوس دلته د اسلامي نظام د دې ذکر شوي ستر رسالت څه عمده

Bawar.net
برخې په ګوته کوو؛ چې له شتون سره ئې د اسلامي نظام د رسالت رکن پوره کيږي.

د اسلامي نظام د ستر رسالت(په انساني ټولنه کې ټول دين د الله لپاره ګرځول) څو عمده برخې دا دي:

**۱– امنيت:** يعنی په خپل قلمرو کې د امنيت قائمول، اسلامي خلافت مکلف دی چې د اسلامي شريعت د نفاذ لپاره او د دې په وړاندې د مشکلاتو د مخنيوي لپاره د خپل حاکميت په ساحې کې امنيت قائم کړي او د خلکو ځان، مال او عزت خوندي کړي، قرآن د الله رښتينو بندګانو ته د خلافت له ورکولو وروسته د امنيت ورکولو وعده کړې دا په دې معنی چې اسلامي خلافت امنيت راولي او په انساني ټولنه کې د امنيت يوازينۍ لاره دا ده چې اسلامي خلافت حاکم شي او حکم يوازې د الله شي، قرآن فرمايي: **وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ** (۵۵النور)-

**ترجمه:وعده کړې الله له هغو کسانو سره چې ايمانونه يې راوړي او نيک عملونه ئې کړي؛ حتماً دوی ته د زمکې خلافت ورکوي لکه چې پخوانيو ته يې ورکړی وو، او د دوی د خوښې دين ته به تمکين ورکوي او د دوی وېره به په**

Bawar.net

**امنیت بدلوي، دوی به زما بندګي کوي او له ماسره به شریک نه نیسي، او ځوک چې وروسته له دې کافر شو همدوی فاسقان دي.**

له پورتني آیت معلومیږي چې په انساني ټولنه کې هغه وخت د الله حقوق اداء کېدی شي او بندګان د خپل رب د عبادت ټولې نوعې ترسره کولی شي چې اسلامي خلافت قائم او امنیت راولي، نو د اسلامي خلافت له مکلفیتونو دا دی چې په ټولنه کې د امنیت راوستلو لپاره ګام پورته کړي او په دې لاره کې خپل ټول توان په کار واچوي تر څو د الله بندګان په امن او امان کې د خپل ر ب بندګی ته مخه کړي.

**۲- د شریعت نفاذ:** د اسلامي خلافت د رسالت په ساحه کې دوهمه عمده خبره د شریعت نفاذ دی، اسلامي خلافت د اسلامي شریعت په نفاذ کې تر هرڅه وړاندې د لمانځه اقامه کوي، زکات ورکوي او د حسبې نظام جوړوي چې په معروف امر کوي او له منکر منع کوي، قرآن په دې هکله فرمایي: **الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ**(الحج۴۱)-

**ترجمه:دا هغه کسان دي که دوی په زمکه کې تمکین وموند لمونځونه دروي، زکات ورکوي، په معروف امر کوي او له بدیو منع کوي، او د ټولو چارو عاقبت الله ته دی.**

Bawar.net

اسلامي خلافت هم په نفاذ شریعت مکلف دی او هم په عدالت، د شریعت په نفاذ کې باید په عدالت سره د ټولو احکامو اقامه وشي خصوصاً هغه احکام چې په اجتماعي ډول ترسره کیږي او یا د اجتماع سلامت او جوړ ساتي لکه: لمونځ، زکات، حدود، د مفاسدو مخنیوی او اخلاقي نظام حاکمول او داسې نور، د حسبې نظام او د قضأ اداره په خاص ډول او ټول اسلامي خلافت په عام ډول مکلف دي چې د اسلامي خلافت په قلمرو کې د اسلامي شریعت د نفاذ لپاره کوټلي ګامونه واخلي، او دا د اسلامي خلافت د هغه ستر رسالت(**حتی یکون الدین کله لله ـ تر څو دین ټول د الله شي**) لویه برخه جوړوي.

**۳- د شریعت تعلیم:** د مسؤلیتونو په برخه کې د اسلامي شریعت تعلیم او دقیق فهم رامنځته کول هم د اسلامي خلافت له سترو مکلفیتونو دي، اسلامي خلافت د دې تر څنګ چې د اسلامي شریعت احکام نافذوي په دې هم مکلف دی چې خلکو ته د اسلامي احکامو تعلیم ورکړي او د دې تعلیم لپاره په هر کور او کلي کې نظام رامنځته کړي، اسلام د انساني سلیم فطرت سره برابر دین او قانون دی او د اسلامي شریعت د تحکیم په لاره کې د خلکو تفهیم او پوهاوی ډېر خنډونه له منځه وړي، ډېر کله د اسلامي احکامو تر پښو لاندې کېدل د جهالت په وجه وي او اسلامي خلافت باید په اسلامي ټولنه کې جهالت ختم کړي.

Bawar.net

**۴-خدمت:** د اسلامي خلافت په وجايبو کې بل مسؤليت خدمت دی، اسلامي خلافت باید د خلکو له حالاتو او مشکلاتو واقف وي او د دې مشکلاتو په رفع کولو کې جدي کار وکړي، په اسلامي خلافت کې دا مسؤلیت دومره ستر دی چې د عمرﷺ په شان شخصیت د شپې مهال د مدینې په کوڅو کې ګرځي او په خپلې اوږې د اوړو بوجی مستحقو کورنیو ته وړي، له خپلې مېرمنې سره د بیمارانو پرستاري کوي او وایي که د دجلې د سیند په غاړه د اوزې پښه ماته شي زه ئې مسؤل یم.

د رعیت په ژوند کې د سهولتونو راوستل، خدمات وړاندې کول، له طبعیت د ګټې اخیستلو په لاره کې د انساني تحقیقاتو او پرمختګونو لپاره موقع برابرول او له لاسته راوړنو ئې د ټولنې په هوساینې کې ګټه اخیستل، د خلکو د صحت حمایت او په سلګونو نور ټولنیز خدمات د اسلامي خلافت په مسؤلیتونو کې عمده برخه جوړوي، نبوي سیرت او راشده خلافت د دې مسؤلیتونو د ترسره کولو په لاره کې د مسلمانانو او اسلامي خلافت لپاره ښه بېلګه او مقتداء ده.

**۵-اقتصادی وده او پرمختګ:** د مسؤلیتونو په برخه کې اقتصادي پیاوړتیا او په ځان بسیا کېدل هم د اسلامي خلافت له مسؤلیتونو څخه دي، هم د افرادو او کورنیو په کچه او هم د ټولنې او نظام په کچه مسلمانان باید پیاوړی اقتصاد ولري او په خپل ځان متکي وي، د اسلام

Bawar.net

اقتصادي نظام په ډېر منظم ډول مسلمانان په ځان بسيا کېدو حالت ته رسوي او اسلامي خلافت مکلف دی د اسلامي اقتصاد په پلي کولو سره مسلمانان په اقتصادي لحاظ حمايه کړي.

د زراعت، اقتصاد، صنعت او تجارت وده او پرمختګ، د مسلمانانو فکري او فزيکي قوتونه په کار اچول، د مسلمانانو سرمايې په کار اچول، په ټولنه کې د سستۍ او کسالت مخنيوی او ټول خلک عمل او کار ته تشويقول، وړې او سترې اقتصادي طرحې او فرصتونه جوړول، د بيت المال حفاظت، په بيت المال امين خلک ټاکل، له بيت المال مستحقو خلکو ته معاش ورکول او د هغو پالل، د زکات نظام جوړول، د انفاق لپاره د مسلمانانو تحريض کول دا ټول هغه کارونه دي چې بايد اسلامي نظام ئې وکړي تر څو مسلمانان د ژوند په ټولو برخو کې په خپلو پښو ودرېږي او د اسلامي ټولنې ضرورتونه پوره شي.

۶- **دعوت**: له اسلامي قلمرو بهر د اسلام د خپراوي لپاره د دعوت ټول وسائل او امکانات په لاره اچُول او د دې لپاره کار کول چې د زمکې پرمخ د غيرالله بندګي او عبوديت ختم او د يوه الله عبادت وشي، د اسلامي خلافت د مسؤليتونو بله عمده برخه ده، ټول مسلمانان مکلف دي چې دعوت وکړي خو اسلامي خلافت بيا مکلف دی چې د

Bawar.net

اسلامي دعوت لپاره نظام جوړ کړي او په خپلو ټولو امکاناتو په دې برخه کې کار وکړي.

د دې امت خير او غوره والی په دې کې دی چې دوی ته د پيغمبرانو په اختتام سره د پيغمبرانو رسالت سپارل شوی، دوی د نورو خلکو د دعوت مکلفيت په غاړه لري لکه چې پخوا انبياؤ دا مسؤليت په غاړه درلود، د دې امت په قيادت او سيادت کې چې کوم نظام دی د ټول امت په وکالت د دې فريضې په ترسره کولو کې تر ټولو زيات مسؤليت لري او بايد د دې مسؤليت د ترسره کولو لپاره د دعوت نظام رامنځته کړي.

**۷- جهاد:** همدارنګه د اسلامي خلافت په رسالت او نصب العين کې(چې حکم او دين يوازې د الله ګرځول دي) جهاد ستر مسؤليت دی، له اسلامي خاورې او حاکميت د دفاع او په انساني ټولنه کې د اسلامي دعوت په وړاندې د خنډونو لرې کولو لپاره په اسلامي خلافت فرض دی چې د جهاد فريضه ترسره کړي، هم له اسلامي خاورې دفاع وکړي او هم په انساني تولنه کې حاکم طواغيت رانسکور کړي، کوم چې انسانان ئې د الله له بندګۍ ايسار کړي، خپل او د شيطان الوهيت او عبوديت ئې پرې منلی او د الله په حق کې ئې ځانونه شريک ګرځولي.

Bawar.net

جهاد هم د اسلامي نظام او اسلامي شريعت د دفاع وسيله ده او هم د اسلام د خپراوي او اشاعت وسيله، له اسلامي خاورې د دفاع جهاد فرض عين او د اسلام د خپراوي جهاد فرض كفائي دى، اسلامي خلافت مكلف دى په دواړو حالاتو كې د جهاد لپاره اعداد وكړي، فوج او اسلحې برابرې او عملاً اقدام وكړي.

له پورتني بحث په لنډ ډول ويل كېدى شي: اسلامي خلافت هغه نظام دى چې د الله پر زمكه د الله د حكم قائمولو ستر مسؤليت په غاړه لري او د دې مسؤليت په ترسره كولو كې د خلكو امنيت ساتي، شرعي احكام نافذوي، د اسلامي احكامو تعليم او تعلم ته شرائط برابروي، خپل رعيت ته خدمات وړاندې كوي، د نظام او خلكو اقتصادي پرمختګ ته مخه خلاصوي، دعوت او جهاد كوي او له دې لارې په ټوله نړۍ كې د الهي نظام حاكميت ته كار كوي.

### د فصل خلاصه

په دې فصل كې موږ د يو اسلامي نظام پر معيارونو او مواصفاتو بحث وكړ، اسلامي خلافت د حكم نظام دى چې الهي احكام په پوره عدالت انساني ټولنه كې نافذوي، لكه څنګه چې د الله حكم نافذول لازم او ضروري دي همدارنګه د هغه نظام رامنځته كول چې د دې حكم د نفاذ مسؤليت په غاړه لري هم لازم او ضروري دي، مسلمانان مكلف دي چې اسلامي خلافت رامنځته او ټول ئې تر سيوري لاندې ژوند

Bawar.net

وکړي، له اسلامي خلافت پرته د مسلمانانو اسلامي ژوند ناقص دی او د جاهلي دستور تر سیوري لاندې ژوند بلل کیږي.

د تېرو بحثونو په شان دلته هم وایو اسلامي نظام او یا اسلامي خلافت تشه دعوی نه ده دا هم یو حقیقت دی چې کله په یو نظام کې رامنځته شي هغه ته اسلامي نظام ویل کیږي، دا چې موږ څنګه تمیز کولی شو چې دا یو اسلامي نظام دی او یا نه؟ باید په هغو مواصفاتو پوه شو چې د هغه په موجودیت کې یو نظام، اسلامي نظام بلل کیږي او په نه موجودیت کې د اسلامي نظام حقیقت نشي تمثیلولی.

د اسلامي نظام درې عمده ارکان دي چې بیا هر یو د ځینو مواصفاتو او معیارونو لرونکي دي، لومړی رکن ئې د نظام قائد او رهبر یا د مسلمانانو امیر او خلیفه دی، د مسلمانانو امیر باید مسلمان، بالغ، عاقل، نارینه، د بدن په غړو روغ، په دین پوه، عادل، میړنی، د مسلمانانو د چارو په تنظیم پوه او د رأیې خاوند وي، یعنې امیر تر نورو مسلمانانو په علم، عمل، عدالت، دیانت او صلاحیت کې ممتاز شخصیت وي، چې د دې ټولو صفاتو اجمال د حکمت او صلاحیت په اصطلاحاتو کېدی شي او ویلی شو چې امیر باید تر نورو مسلمانانو پوه او توانمن وي، او که دا صفات په قریشي کې وو هغه تر نورو مستحق بلل کیږي، د دې صفاتو لرونکی قیادت ته صالح قیادت ویل کیږي، نو د اسلامي نظام

Bawar.net

لومړی شاخص چې په هغه سره له نورو نظامونو ئې تمیز کیږي د اهل او صالح قیادت لرل دي کوم چې صفات ئې ذکر شول، په اسلامي نظام کې امارت په میراث نه وړل کیږی او نه هم په زور تر لاسه کیږي بلکې د اهلیت پر بنسټ د مسلمانانو په اعتماد ترلاسه کیږي دا د اسلامي خلافت دپېژندلو لوی معیار دی.

دوهم رکن اهل او صالح نظام دی، اسلامي خلافت د هغه اهل او صالح نظام څښتن دی کوم چې د الله قانون پلی کوي او له ناقصو بشري قوانینو مستغني وي، دا نظام په شوری بناء او چارې ئې د یوې مقتدرې شوری په مشورې پر مخ ځي، هلته د خپل سر تصرفات او د خپلې رأیې استبداد نشته، اجرائیه چارې د اهل مسؤلینو په لاس کې وي چې له الله وېره لري او پر خلکو رحم کوي، خیانت نه کوي او خپل ټول شخصي ګټې د اسلامي نظام له ګټو قربانوي، دوی د اهلیت په نظر کې نیولو سره د امیر له خوا د شوری په مشورې ټاکل شوي وي او په ټول توان د اسلامي نظام د رسالت په ترسره کولو کې خپل استعدادونه په کار اچوي، په دې نظام کې قضاء د عادلو قاضیانو په لاس کې وي چې له کوم توپیر پرته له ټولو خلکو سره یو شان چلند کوي او هېڅوك له قانون پورته نه بولي، د ضرورت پر وخت له هر چا سره احتساب کوي او هیچا ته جزائي معافیت نه ورکوي، دوی د عدل قائموونکي او د ظلم

Bawar.net

مخنیوونکي وي، د دې عمده صفتونو لرونکی نظام د اسلامي خلافت دوهم شاخص او معیار دی.

په اسلامي خلافت کې دریم رکن عالمي رسالت دی، هغه رسالت چې د الله په ځمکه له الهي احکامو پرته بل څه نه مني او ټول انسانان د متعددو معبودانو له عبادت د یوه رب عبادت ته راټولوي، او د دې رسالت د ترسره کېدو لپاره د خپل حاکمیت په ساحې کې امنیت راولي، شرعي احکام نافذوي، خلکو ته د دین فهم او تعلیم ورکوي، د خلکو دنیوي ژوند ته سهولتونه او خدمات وړاندې کوي، د ټولنې د اقتصادي پرمختګ لپاره کار کوي او بیا ټول انسانیت د دعوت او جهاد له لارې د طواغیتو له عبادت ژغوري او د یو رب بندګي ته رابولي.

د پورتنیو صفاتو او معیارونو لرونکی نظام؛ اسلامي نظام او اسلامي خلافت بلل کیږي له دې پرته د اسلام په نامه نومول شوي نظامونه د اسلام حقیقت له ځان سره نه لري او تش دعوی کوونکي دي، موږ په همدې اصولو او مواصفاتو اسلامي نظامونه پېژندلی شو او که کوم اسلامي جماعت د اسلامي نظام د اقامې لپاره کار کوي نو باید د همدې صفاتو لرونکی اسلامي نظام حاکم کړي تر څو په حقیقت کې اسلامي نظام وي.

Bawar.net

الله د زمکې پرمخ د انسانانو له خلقت سره دوی ته دوه لارې مختې کېښودې تر څو د یوې په انتخابولو د هدایت او یا ګمراهی لاره خپله کړي، دا دوه لارې د حق او د باطل لارې وې، د ایمان او کفر لارې، د اسلام او جاهلیت لارې، د سعادت او شقاوت لارې او بلاخره د جنت او جهنم لارې. کومو خلکو چې د حق، ایمان، اسلام، سعادت او جنت لاره خپله کړه؛ د رحمن رب بندګان شول او دوی ته الله د دنیا نېکبخته ژوند نصیب او د آخرت د سعادتونو وعده ورکړه، او کومو چې د باطل، کفر، جاهلیت، شقاوت او جهنم لاره انتخاب کړه؛ په دنیا کې له سخت او بې اطمینانه ژوند سره مخ شول او په آخرت کې به هم په سترګو ړانده راپورته او د جهنم کندو ته وغورځول شي.

د ایمان او د کفر د لارویانو تمیز له ورایه کیږي، هر یو د جلا عقیدې، جلا فکر، جلا اخلاق او جلا عمل خاوندان دي، دوی نه په عقیده او نه هم په اخلاق او عمل کې یو له بل سره ورته والی لري. یو د رحمن بنده دی او بل د شیطان، یو د الله په حکم عمل کوي او بل د شیطان په حکم، نه د دوی لباس یو شان وي او نه هم د دوی شکل او څېره، نه د دوی اخلاق یو دي او نه هم د دوی عادات او رواجونه، چې کله ته د رحمن بنده وګورې نو له فکر، اخلاق، لباس، څېرې او عمل ئې په

Bawar.net

واضح او ښکاره ډول پېژني او چې د شیطان بنده وګوري هم له ورایه معلومېږي، په خپل فکر، اخلاق، لباس، څېره او عمل هر څه کې د شیطان بندګی کوي نو ځکه هم د دوی تر منځ تمیز له ورایه کېږي او مشکل نه دی.

دلته یوه بله ډله ده چې پېژندل ئې ګران دي، دوی په ظاهره د رحمن بندګان دي خو په خفاء کې د شیطان بندګي کوي، دوی ډېر کله په لباس، څېرې او حتی ډېرو ظاهرې اعمالو کې د مؤمنانو په شان وي خو په عقیده، فکر او اخلاقو کې د شیطان لارویان دي، د دوی خطر ډېر او پېژندل ئې ګران کار دی، دومره ګران چې کله قرآن د بقرې سورت په لومړیو آیتونو کې د هرې ډلې معرفت کوي نو د مؤمنانو معرفت په پنځه آیتونو کې کوي او کفارو معرفت په دوو آیتونو کې، خو چې کله د دوی د تعارف وار شي نو دیارلس آیتونه ددوی تعارف ته خاص شوي دا ځکه چې دوی په آسانه او په یوه صفت نه پېژندل کېږي، دا ډله منافقین دي کوم چې په ظاهر کې د اسلام او ایمان دعوی کوي او زړونه ئې له خباثت او نفاق ډک وي.

همدارنګه یوه بله ډله هغه مسلمانان دي چې د دوی جهالت او د دښمن فکري جګړې له حقیقي اسلام محروم کړي او اسلام ورته د یو څو بې روح حرکاتو ترسره کول برېښي او ګمان کوي اسلام یوازې د انسان

Bawar.net
رابطه په مسجد کې له الله سره تنظیموي او نور د انسانانو په ژوند کې دخالت نه لري!!! دا هم هغه تش په نامه مسلمانان دي چې د اسلام هېڅ رنګ او خوند پکې نشته.

د دغو تش په نامه مسلمانانو(منافقین او هغه چې خپل جهالت او د دښمن فکري یرغل له حقیقي اسلام محروم کړي) تر څنګ د حقیقي مسلمانانو څېره پټه شوې، اوس د اسلام تش دعوی کوونکو شمېر تر حقیقي مسلمانانو ډېر زیات شوی او د حقیقي مسلمان پېژندل ګران شوي، د دې لپاره چې موږ مسلمان و پېژنو، مسلمانه کورنۍ و پېژنو، اسلامي ټولنه او جماعت و پېژنو او بیا اسلامي نظام درک کړو د ځینو معیارونو او صفتونو پېژندلو ته اړتیا ده چې په رڼا کې ئې اسلام ته د منسوبو خلکو، کورنیو، ټولنو او نظامونو حقیقت راته څرګند شي، همدارنګه که څوک غواړي اسلامي شخصیتونه وروزي، مسلمانې کورنۍ جوړې کړي، اسلامي ټولنه او اسلامي جماعت جوړ کړي او بیا اسلامي نظام او اسلامي خلافت قائم کړي ورته د دغو معیارونو پېژندل ضروري دي چې په واسطه ئې کېدی شي د اسلامي شخصیتونو، کورنیو، جماعت، او نظام خاوند شي.

موږ په دې لنډه لیکنه کې هغه عمده او اجمالي صفات بیان کړل چې په رڼا کې ئې د اسلام په نسبت د یو چا په شخصیت قضاوت کېدی

Bawar.net

شي چې آیا دا اسلامي شخصیت دی که نه؟ همدارنګه د یوې کورنۍ، جماعت او نظام په هکله هم د همدې صفاتو په رڼا کې قضاوت کولی شو، دا مواصفات په یو اسلامي شخصیت، مسلمانه کورنۍ، اسلامي جماعت او اسلامي نظام کې د ارکانو حیثیت لري او له دې پرته اسلام ته دغه نسبتونه حقیقت نلري، نو ځکه مو د دې لیکنې عنوان (د اسلام حقیقت په فرد، کورنۍ، جماعت او نظام کې) کېښود.

له لوی رب غواړو چې له موږ رښتیني اسلامي شخصیتونه جوړ کړي، زموږ کورنۍ مسلمانې کورنۍ وګرځوي، زموږ جماعت رښتینی اسلامي جماعت کړي او موږ ته رښتینی اسلامي خلافت او نظام را په برخه کړي.

وما ذلک علی الله بعزیز

Bawar.net

**د کتاب له متنه . . .** اسلام د یو داسې جامع دستور نوم دی چې غواړي مسلمان، مسلمانه کورنۍ، اسلامي جماعت او اسلامي نظام رامنځ ته کړي او انسانانو ته د دنیا او آخرت نېک بختۍ تضمین کړي، اسلام په خلکو او انساني ټولنو کې داسې صفات او معیارونه رامنځته کوي او روزي چې په هغو کې اسلام ته د منصوبو نومونو حقیقت رښتینی شي، او د دې کار لپاره اسلام ته له ننوتلو سره سم په هر مسلمان او مسلماني کورنۍ کار پیلیږي تر څو په دوی کې له اسلام سره د تړاو حقیقت پیدا شي او بیا له دوی اسلامي جماعت او اسلامي نظام جوړ شي، د اسلام د ټولو تربیتي برنامو موخه یوازې دا دی چې رښتیني اسلامي ټولنې وروزي تر څو هغوی اسلامي نظام او خلافت قائم کړي او د الله په زمکه د الله له خوا استول شوی قانون او نظام حاکم شي.